# جرګه

## د افغانستان اسلامي امارت
## د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت

### علمي، سياسي، څېړنيزه او ادبي مجله

دربيمه دوره: ۱۴۴۴هـ ق (ربيع الأول- جمادي الأول)  ۱۱۲ مه ګڼه  ( د تأسيس کال: ۱۳۲۱)




لله الحمد د اسلامي امارت له بريا وروسته د وزارت اړوند ښوونيزو مرکزونو په فعاليتونو کې مثبت بدلون ،ښه والی اوپرمختګ راغلی اوپه ډېره ښه توګه د کال په اوږدو کې د لېسو تعليمي پروګرامونه تطبيق اوسرته ورسېدل.، چې له امله يې ګڼ شمېر فارغين لرو.هوډ لروچې ان شاءالله په راتلونکي کې تر دې هم پراختيا وومومي اوتر سږ کال راتلونکي کال ته دوه او درې برابره لاسته راوړنې ولرو. له تاسو مې غوښتنه دا ده چې پخپلو تعليماتو کې مخ ته ولاړ شئ اوپه راتلونکي کې خپله زمه واري د خلکو اوهېواد پرواړندې ترسره کړئ.

د وزارت اړوند لېسو زده کوونکو په فراغت غونډه کې

(د سرحدونو،قومونواوقبايلو چاروسرپرست وزيرښاغلي ملا نورالله نوري له وينا څخه)

- نبوي سيرت.
- د اسلامي حکومت کورني سياست ته لنډه کتنه.
- په اسلام کې د فطري حقوقو معنا او مفهوم .
- د هېوادونو ترمنځ سرحدونه.
- د هوتکيانو د واکمنۍ په څېنو پېښنو کې د لويو جرګو ونډه.
- درونډ ولس او درانه دودونه.


Mobta.gov.af
@Mobta

د افغانستان اسلامي امارت

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت

د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

د جرګه مجلې آمريت


**کتنپلاوی :**

- ښاغلی مولوي عبدالرحمن «حقاني»
- ښاغلی مولوي محمد اسماعيل « غزنوي»
- ښاغلی مفتي شفيع الله «ثاقب»
- ښاغلی ملا حمد الله «فطرت»
- ښاغلی اکاډميسين دکتور سيد محي الدين «هاشمي»
- ښاغلی څېړنپوه دکتور محمد شريف « ځدران»
- ښاغلی دکتور زرخان «احمدزی»
- ښاغلی څېړنوال سيد نظيم «سيدي»



مسؤل مدير: عزت الله «مينه ناک»

مسؤل سکرتر: محمد موسی «ستانکزی»

د تصحيح مديره: فوزيه «درماني»

خبرياله: فرحناز «نوابي»

ډيزاين: احمد لاروی



يادونه: اداره يوازې د سرمقالې مسؤليت لري.

د اړيکې شمېره: ۰۲۰۲۳۱۱۷۱۱

پته: د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت، کابل افغانستان


**په دې ګڼه کې**


| عنوان | مخ |
|---|---|
| - سرمقاله :............................................ | ۱ |
| - د وزارت خبرونه او.......................................... | ۳ |
| - نبوي سېرت................................................. | ۱۷ |
| - د اسلامي حکومت کورني سياست ته...  ............ | ۲۳ |
| - په اسلام کې د فطري حقوقو معنا او مفهوم. ................ | ۲۷ |
| - له الله جل جلاله سره د حضرت عثمان رضی الله عنه...... | ۳۳ |
| - د هېوادونوتر منځ پولې.......................................... | ۳۵ |
| - د هوتکيانود واکمنۍ په ځينوپېښنو کې د لويو.. | ۴۴ |
| - په پښتوګړنيو ادبياتو کې د لنډيو ونډه او اهميت. ...... | ۵۱ |
| - پرتلنه............................................................. | ۵۲ |
| - د کېږدۍ تاريخي اهميت........................................ | ۶۰ |
| - دروند ولس او درانه دودونه........................................ | ۶۳ |

سرمقاله

# یوموټی، همغږی اوځواکمن ولس!

هغه هېواد چې ولس يې متحد اويو موټی وي او څه نا څه پخپلو پښوولاړ وي هيڅکله هم پردي په دې نه توانيږي، چې په هغه هېواد کې بې ځايه لاسوهنه وکړي او د خپلو موخود تحقق لپاره ستونزې وزيږوي.په دا ډول حالت کې بيا د يوه هېواد وګړي کولای شي په خپلواکه توګه د خپلو هېوادنيو چارو د سمون، اصلاح اوتنظيمولو لپاره تصميم ونيسي او پخپله خوښه د ژوند بهير په ګډه هغه لوری ته په حرکت راولي کوم لوری چې د دوی له ارزښتونو سره برابراود دوی په ګټه اوخير وي، چې له دې اړخه لله الحمد د اسلامي امارت په بريالیتوب سره افغانان پخپله پلرنۍ خاوره بشپړتسلط لري اوپردي لاسونه له دې هېواد څخه لنډ شوي دي، چې دا د يوموټي والي او همغږۍ پايله او ددغه ميړني ولس په يووالي دلالت کوي.

اوسمهال ددې وخت دی چې د هر ډول توپيرونوپروړاندې مبارزه وکړواوپرې نه ږدو، چې څوک دې دلته د ژبې ، سيمې ، قوم په نوم توپيرونو ته لمن ووهي، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، تر منځ يې يووالی د هر ډول دښمن ماتې او ددې هېواد د وګړونيکمرغي ده.د افغانستان اسلامي امارت په ټوله کې، د سرحدونو، قومونو اوقبايلو چارو وزارت په خاصه توګه د نورو مهمو دندو ترڅنګ دې ته لومړيتوب ورکړی چې په هېواد کې د ميشتو درنوقومونو تر منځ د يووالي د لاپياوړتيا اوانسجام لپاره کار وکړي، له ديني عالمانو، قومي مشرانو، مخورو اومتنفذوشخصيتونوسره د هېواد په بېلابېلو ولايتونود پامير له لوړو څوکو نېولې تر زابله او له بادغيس څخه نېولې ترباميان او ننګرهاره غونډې جوړې کړي، د دوی ستونزې يې د حل په موخه اوريدلي، د يووالي په پياوړتيا کې يې د دوی د رول پر ارزښت ټينګار کړی اوپه دې برخه کې يې ګډ کار ته رابللي دي ، د يادو غونډو زرګونه ګډونوالو د قومونوترمنځ په يووالي ټينګار او له دا ډول هڅو چې هغه د قومونو تر منځ د يووالي اوانسجام په پار ترسره کېږي بشپړ ملاتړ څرګند کړی دی. تر کومه ځايه چې د وحدت اويووالي خبره ده دا نه يوازې د دولتونو مسؤليت جوړيږي ، بلکې د هر افغان مسؤليت جوړيږي چې د خپلو خلکو تر منځ د يووالي او وروګلوۍ لپاره کار وکړي که دلته زموږ د ټولنې بنسټ په وحدت اېښودل شوی وي دا نوبيا ددې هېواد د خير خبره ده اوموږ ټول په دې خير کې شريک يواو ځانونه بايد د خيرپه هر کار کې شريک کړو.په دې سره به هم الله جل جلاله راضي شي او هم به زموږ هېواد وال !

د نړۍ اکثر هېوادونو، چې نن د پرمختلليو هېوادونوپه نوم ياديږي د ډېرو سختو جګړو اوشرايطو له تېرولو وروسته البته له تېر څخه په عبرت اخيستنې يو موټی شوي او د خپل هېواد د ابادولو او په نورو ګڼ

شمېر برخو کې يې د مخ تـه تـګ لار غـوره کـړې اوبريالـي هم راوتلي دي، ځکه بريالـي راوتلي چې خپلې ګټې يـې لومړيتـوب ګڼلې، پـه دې سره سلا شـوي دي چې بايـد د خپلې ټولنـې د هوسـاينې لپـاره کار وکـړي او پـرمخ ولاړشي. چې دافغانانـو ترمنـځ يووالـي هـم پـه يـوه پېـړۍ کې د دريـو امپراطوريـو د ماتـې کارنامـه وزيږولـه.
څـه چـې وويـل شـول يـوم دم شـوني نـه دي، زغـم غـواړي ، کاراوسـترياوې ګالـل غـواړي، د صبـر اوزغـم خپلولـو فرهنګ غـواړي کلـه چې مـوږ د پرمختـګ پـړاو پيلـوو، چې پيـل شـوی هـم دی، نـو ترشـايې کارونـه ايجاديږي، لـه ستونزود وتلولانبـه شرايط برابرېږي، وزګارتيـا پـه بوختيـا بدليـږي او ورو وروخـود کفايـي رامنځتـه کېـږي ،حالات د فـردي اوټولنيـز مصؤنيـت خواتـه درومي،عـام ذهنيـت هـم ورسـره ورسـره مثبـت لـوري تـه ځـي او د بـې برخيتـوب ګڼ شمېر ګېلې چې د ځينـو وګـړوپـه ذهنونـو کـې پـه بېلابېلـو تعبيرونورواني او د يولـړ سـتونزو زېږونکـې وي رفـع کېـږي.
نوپـه وروسـتي تحليـل کـې د افغـا نسـتان اسـلامي امـارت نـه يـوازې د خپـل ولـس ترمنـځ د يووالـي اوشـخړو د حـل ،بلکـې د هېـواد د بسـياينې، ټولنيـزې هوسـاينې او کارمونـدنې لپـاره يـې هـم پراختيـا يـې چـارو تـه زور ورکـړی دی، چـې د اقتصـاد د غـوړېـدا او ودې لپـاره لـه ډېرارزښـت څخـه برخمنـې دي اوورځ تربلـې بـه ان شـاءالله پراختيـا مومـي .مـوږ ټـول افغانـان بايـد لـه رامنځتـه شـوي فرصـت څخـه چـې لـوی الله جـل جلالـه پـر مـوږلورولـی لـوړه اوپرځـای ګټـه پورتـه کـړوهـم خپـل يووالـی وسـاتواو هـم خپـل امکانـات ددې هېـواد د ښـه راتلونکـې لپـاره پـه کار واچـوو، يـو د بـل تـر څنـګ پـه اخـلاص ، صداقـت ، امانتـدارۍ خپلـې اړونـد چـارې کـه هغـه رسـمي وي او کـه نارسـمي پرمـخ يوسـوپـه دې توګـه چـې د کارپـه پايلـه کـې هـم ځـان او هـم خپلـو هېـوادوالـو تـه خيـر او ګټـه ورسـوودا بايـد پـه يـاد وسـاتوچې بريـا پـه يووالـي کـې ده، ځکـه چـې پـه يووالـي کـې زمـوږ خيـر او د ژوندانـه د هوسـاينې، پرمختـګ او نيکمرغـۍ پيغـام پـروت دی زمـوږ انتخـاب هـم يووالـی دی.
پـه يووالـي کـولای شـو خپـل کلـی لـه امـن څخـه برخمـن کـړو، پخپلوډېـرو کمـو امکاناتويـې لکـه د اشر کار لـه لارې ښـکلی اوښـېرازه کـړو او لـه شـخړو او منازعـو يـې وسـاتو پـه ټولـه کـې د هېـواد لـه خپلواکـۍ اوارضـي تماميـت څخـه سـاتنه وکـړو، خپـل اقتصـاد ورغـوو او ويـې غـوړوو، کرنـې ، مالـدارۍ اوپوهنـې تـه وده اوپراختيـا ورکـړواوپـه بېلابېلوبرخـو کـې د ابـادۍ چـارې پـه ښـه اومتوازنـه توګـه تطبيـق اوپـر مـخ يوسـو اونورټـول هغـه څـه چـې د يـو هېـواد د وګړوهيلـه اوارمـان وي پـه ملـي يووالـي کـې يـې د ترلاسـه کولوشـونتيا او امکانـات ډېـر وي .
ملـي يووالـی زمـوږ اړتيـا ده بايـد لاسـونه سـره ورکـړو لـه هـره پلـوه د خپـل ازادي خوښ ولـس او ګـران افغانسـتان د پرمختـګ اوپياوړتيـا لپـاره عملـي کار تـه مـلا وتـړو.

# د وزارت خبرونه اوراپورونه

## د هرات ولایت له دیني علماوو، قومي مشرانو او سپین ږیرو سره کتنه!

(۱۴۴۴ قمري ربیع الاول ۱۴ )

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري او د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ښاغلي ملا عبدالخالق عابد د هرات ولایت د بېلابېلو سرحدي ولسوالیو له لسګونو تنو دیني عالمانو، قومي مشرانو او سپین ږیرو سره ولیدل.

په دې غونډه کې قومي مشرانو د قومونو او قبایلو په انسجام او نورو برخو کې د اسلامي امارت او د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت هر ډول هلې ځلې وستایلې، هغوی وویل: موږ د اسلامي امارت د ځواکونو تر څنګ ولاړ یو او د هېواد له پولو به د خپل سر په بیه ساتنه کوو.

دغه رازیې له سرپرست وزیر سره یو لړ ستونزې د حل په موخه شریکې کړې.

ورپسې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د دوی له اسلامي، ملي احساس او همکاریو څخه د مننې په ترڅ کې وویل: وزارت د ټولو قومونو ګډ کور دی، هغه زیاته کړه قومي مشران د خپلو قومي ظرفیتونو او نفوذ څخه په استفادې سره کولای شي چې د سرحدونو په ساتنه ، د یووالي په ټینګښت، د قومونو د انسجام او د اسلامي نظام د ساتنې په لار کې مهم رول ولوبوي، او همدا راز یې له اړوندو ادارو سره د حل په موخه د دوی د ستونزو د شریکولو ډاډ ورکړ.

وروسته د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ملا عبدالخالق عابد وویل: الله ج پر موږ لوی احسان وکړ چې زموږ په هېواد کې یې اسلامي نظام حاکم کړ، د ۴۴ کالونو را پاتې ستونزې په یو کال نه حل کیږي، د افغانستان ټول ولسونه باید صبر او زغم ولري، اسلامي امارت به په لږ وخت کې ټولو ستونزو ته رسېدګي وکړي.

## د بدخشان ولایت له قومي مشرانو سره کتنه!

(۱۴۴۴قمري کال د ربیع الاول ۱۰مه)

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ مرستیال ښاغلي ملا عبدالخالق عابد او مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن حقاني د بدخشان ولایت له دیني عالمانو، قومي مشرانو، سپین ږیرو او مخورو سره د وزارت د کنفرانسونو په تالار کې وکتل. یادو مشرانو د یو لړ ځایي ستونزو تر څنګ له سرپرست وزیر څخه وغوښتل چې د ورېښمو د لارې په خلاصولو او د بدخشان د ملکي روغتونونو د ظرفیت لوړونې په برخه کې دې له دوی سره همکاري وکړي.

ورپسې الحاج ملا نورالله نوري پامیر او واخان ته د خپل تاریخي سفر په اړه مقدماتي خبرې وکړې، هغه وویل دا زما دنده ده چې د افغانستان په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د خپلو ولسونو او قومونو تر منځ د شخړو د حلولو، بیارغونې، اقتصادي، او اجتماعي ستونزو د حل په موخه ګړندي ګامونه واخلم، همدا راز یې په خپلو خبرو کې بدخشان ولایت د تاریخ په اوږدو

کې یو له مهمو او ستراتیژیکو ولایتونو څخه یاد کړ او د وربښمو لارې د خلاصولو په اړه یې د هڅو او له اړوندو ادارو سره یې د حل په موخه د دې لویې تجارتي ستونزې د شریکولو ډاډ ورکړ.

د غونډې په پای کې د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد د ولس د اتحاد او اتفاق په اړه خبرې وکړې، هغه زیاته کړه ولس دې دافغانستان د اسلامي امارت ملاتړ وکړي تر څو مو هېواد د نړۍ له نورو هېوادونو سره سیال شي، همدا راز مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن حقاني زیاته کړه، چې موږ د هېوادوالو ستونزې تر مشرانو رسوو، او د هغوی ستونزو ته په ښه ډول او هر وخت رسېدګي کوو!

## د میلاد النبي په مناسبت د قرآن کریم ختم ترسره شو!

لومړی د وزارت مقام د دفتر رئیس ښاغلي شیخ حضرت ولي حقاني په خپلو خبرو کې د مولود شریف د نمانځلو د شرایطو په اړه خبرې وکړې هغه وویل: دغه ورځ باید په یوه ځانګړې ورځ پورې ونه تړل شي ټول کال باید موږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سیرت، صورت او فضایلو باندې خبرې وکړو، او مقصود هم دا دی چې د صورت او سیرت په بیان سره یې امت خبر شي.

وروسته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري په خپلو خبرو کې وویل چې مراد باید دا وي چې پر رسول صلی الله علیه وسلم باندې درود وویل شي، الله تعالی پر درود ویونکي باندې لس کرته رحمت کوي، ښاغلي نوري زیاته کړه د افسوس ځای دی چې لا تر اوسه هم ډېر خلک د محمد صلی الله علیه وسلم له صورت او سیرت څخه ناخبره دي، د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې هغه خپل امت ته بشپړ دین پرېښود ، هغه تېنګار وکړ چې موږ باید هغه څه تر سره کړو د کوم په کولو چې محمد صلی الله علیه وسلم ټینګار کړی دی، ښاغلي نوري په خپلو خبرو کې د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د اخلاقو، شجاعت، صبر، سخاوت ، تواضع، دعوت ،عبادت او بندګي یعنې له مبعوث کېدو څخه یې په مخکې او وروسته پېښو او واقعاتو باندې هر اړخیزې خبرې وکړې.

د ختم په وروستۍ برخه کې د سرحدي پلټنو معین شیخ محمد قاسم خالد د محمد صلی الله علیه وسلم د نسب د سلسلې ، له پیدایښت مخکې او وروسته له بعثت څخه د کراماتو په اړه علمي معلومات وړاندې کړل، هغه وویل: هدف دا دی چې د پیغمبر علیه السلام پر سنتو پابندي په هر عمل کې د مسلمان د دنیا او اخرت ګټې نغښتې دي باید خپل فردي او اجتماعي ژوند ورسره عیار کړو.

## د پکتیا ولایت ډنډ پټان او ځاځي اریوب ولسوالیو کې له ډیورنډ فرضي کرښې او دفاعي پوستو څخه لیدنه تر سره شوه!

(۱۴۴۴ قمري کال د ربیع الاول ۲۰مه)

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ښاغلي الحاج ملا نورالله نوري په داسې حال کې چې د یاد ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو رئیس ښاغلي سردار محمد مدني یې هم ملتیا کوله د پکتیا ولایت د ډنډ پټان او ځاځي اریوب سرحدي ولسوالیو کې له ډیورنډ فرضي کرښې او اړوندو امنیتي او دفاعي

پوستو څخه لیدنه ترسره کړه. له اړوندو مسولینو نه یې له کرښې څخه د دوامداره نظارت غوښتنه او پوله ساتو ځواکونو ته یې د کرښې په حفاظت کې د لا ډېرو هڅو سپارښتنه وکړه او دغه راز یې د ډنډ پټان ولسوالۍ اړوند ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه ګاونډې هېواد پاکستان ته د درملنې لپاره د تګ پر مهال د تلونکو ناروغانو شته ستونزې واوریدې او د حل ډاډ یې ور کړ.

د یادونې وړه ده چې د پکتیا ولایت دولتي چارواکو او ځایي قومي مشرانو یادې ولسوالۍ ته د ښاغلي نوري سفر مهم اوله ارزښته ډک وباله ، هیله یې څرګنده کړه چې د سرحد مېشتو ولسونو ستونزې په نژدې وخت کې هوارې شي.

## د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ له قومي مخورو او علماوو سره کتنه

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د ځاځي اریوب ولسوالۍ له یو شمېر قومي مشرانو او دیني عالمانو سره د وزارت د غونډو په تالار کې وکتل.

د ځاځي اریوب ولسوالۍ مشرانو د خپلو ولسونو غوښتنې او ستونزې شریکې کړې.

وریسې سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د دوی غوښتنې، ځکه مشروع یادې کړې ،چې ځاځي اریوب سیمې ته یې د سفر پر مهال پخپله لیدلې وې او د حل په موخه یې د دوی غوښتنې تر دې مخکې هم له اړوندو ارګانونو سره شریکې کړې وې.

ښاغلي نوري د پکتیا ولایت ولسونه د غیرت، میړانې او په جهاد کې د ستړیاو او قربانیو له کبله وستایل او ډاډ یې ورکړ چې اسلامي امارت په ټول هیواد کې متوازنې اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته د ژمنتیا پر اساس ټولو محرومو سیمو ته ځانګړې پاملرنه کوي.

## د خوست ولایت ځاځي میدان ولسوالۍ اړوند فرضي کرښې څخه لیدنه

(یکشنبه ۱۴۴۴ قمري کال د ربیع الاول ۲۰مه)

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري او مل پلاوي د خوست ولایت ځاځي میدان ولسوالۍ کې فرضي کرښې څخه له نږدې لیدنه وکړه.

له فرضي کرښې څخه د لیدنې پر مهال ښاغلي الحاج ملانورالله نوري مسؤلینو ته سپارښتنه وکړه چې په دوامداره توګه دې د هېواد له فرضي کرښې او سرحدونو څخه د حفاظت په موخه نظارت او څارنه تر سره کړي او دغه راز یې له ځایي پوله ساتو ځواکونو څخه د هېواد د پولو د ساتلو له امله مننه وکړه او د دندې په تر سره کولو کې یې صداقت او ایماندارۍ ته وهڅول.

## د نورستان په ولایت کې ۹۱ کلنه پخوانۍ شخړه په سوله بدله شوه

د سرحدونو ، قومونو او قبایلو چارو وزارت د رهبري او نورستان ولایت د ولایتي مسؤلینو د پرلپسې هڅو او ځایي خلکو په همکارۍ ددې ولایت کامدیش او کوشتوز سیمو اوسیدونکو تر منځ د اوبو او ځمکو پر سر رامنځته شوې دښمني چې سلګونه کسان پکې وژل شوي وو ، په سوله او دوستۍ بدله شوه. ددغې ۹۱ کلنې خونړۍ دښمنۍ د پای ته رسولود وروستۍ پریکړې د اعلانولو په موخه د نورستان ولایت په مرکزپارون کې ستره ولسي

غونډه رابلل شوې وه چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري او ورسره مل لوړ رتبه پلاوي هم پکې ګډون کړی وو. د شخړې د حل په موخه د تاکل شوې جرګې مشر ملک سلیمان، د نورستان ولایت والي مولوي محمد اغا حکیم او ځینو نورو ویناوالو د سولې او یووالي پر ارزښت ویناوې وکړې اود یادوسیمود خلکوترمنځ یې په پخلاینه خوښي څرګنده کړه.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست الحاج ملا نورالله نوري هم غونډې ته وینا وکړه، د ولسونو تر منځ د شخړو او لانجو حلول یې د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه یاد کړل او د نورستان له غیور ولس او والي په شمول یې له ولایتي مسوولینو څخه په دوستۍ باندې ددې ستري دښمنۍ د بدلولو او حلولو کې د همکاریو له امله مننه وکړه.

## کنړ ولایت کې ستره قومي جرګه جوړه شوه.

۱۴/۵/۱۴۴۴ پنجشنبه

په یاده جرګه کې د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج ملانورالله نوري او مل پلاوي ، د کنړ ولایت والي مولوي احمد طه قادري، ولایتي مسؤلینو او له ټولو ولسوالیو څخه راغلو سلګونو قومي مشرانو پکې برخه اخیستې وه.

غونډې ته د خبروپر مهال د سرحدونو، قومونواوقبایلو چارو سرپرست الحاج ملانوري نوري وویل: د کنړ ولس د اشغالګرو په وړاندې د جهاد او مبارزې ځانګړی مقام لري، د جهاد پر مهال ټولې هغه سیمې له پرمختګ څخه پاتې او بې برخې وې، چیرته چې به مجاهدین اوسېدل؛ اسلامي امارت متوازن انکشاف او پراختیا ته ژمن دی او لومړیتوب لیرې پرتو او محرومو سېمو ته ورکوي، نوموړي همدا راز زیاته کړه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د ولس غږ ته انعکاس ورکوي او د خلکو واقعي ستونزو ته حل لټول خپله دنده بولي.

ورپسې د مرکز او ولسوالیو خلکوپه استازیتوب یو شمېر قومي مشرانو په خپلو خبرو کې وویل: په کنړ ولایت کې د قومونو تر منځ ښه یووالی او همغږي شتون لري پر وینا یې چې اوس د دې وخت رسېدلی چې موجوده نظام دا پاشلی ولس پر یوه تغر راټول کړي.

## د وزارت اړوند لېسو د دولسم ټولګیو زده کوونکو د فراغت په مناسبت غونډه ترسره شوه.

(یکشنبه،۱۷ د جمادي الأول

په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونواو قبایلو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د وزارت مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمان حقاني، د وزارت رئیسانو، د لېسو تدریسي او اداري مسؤلینو، دیني عالمانو، زده کوونکو او د زده کونکو کورنیو ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د ښوونې او روزنې سرپرست رئیس ښاغلي عبدالرحمن رحماني په خبرو کې زده کوونکي راتلونکو مسؤلیتونو ته متوجه کړل له هغوی یې وغوښتل چې د هېواد د ځوان قشر په توګه چې هم د کورنۍ او هم د هېوادوالو سترګې وراوړي خپلو زده کړو ته په پوره اهتمام دوام ورکړي.

وتلي او جید عالم شیخ عبدالحمید حماسي هم د علم د حاصلولو پر ارزښت او اهمیت خبرې وکړې او د زده

کړې په ترلاسه کولو یې ټینګار وکړ، نوموړي د دیني او عصري علومو د اړتیا او ارزښت په اړه هر اړخیزه وینا کې زیاته کړه: نړۍ په بېلابېلو برخو کې مخ په ترقۍ روانه ده، اسلام نه یوازې چې د پرمختګ مخالفت نه کوي د اسلامي خلافتونو په طلايي دورو کې اسلامي پوهان د پرمختګونو مخکښان او سرلاري وو.

د وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمان حقاني د وزارت له اړوند لېسوڅخه د تېر کال فارغ زده کوونکي چې د کانکور په ازموینه کې یې په پراخه کچه د لوړو زده کړو بېلابېلو پوهنځیو ته لاره موندلې وه د بېلګې په توګه یاد کړه، له دوئ څخه یې وغوښتل چې د کانکور راتلونکې ازموینې ته ښه تیاری ونیسي تر څو د خپلې خوښې پوهنځیو ته لار پیدا او خپله وړتیا د هېواد په اباد‌ۍ کې په کار واچوي.

وروسته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري اوږدې خبرې وکړې ښاغلي نوري فارغو شویو زده کوونکو ته مبارکي وویله او زیاته یې کړه د خوښۍ ځای دی چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته د وزارت اړوند ښوونیزو مرکزونو په فعالیتونو کې ښه والی راغلی او پر مختګ یې کړی ، هوډ لرو چې ان شاءالله په راتلونکي کې تر دې هم پراختیا ومومي اوتر سږ کال راتلونکي کال ته دوه برابره لاسته راوړنې ولرو.له زده کوونکو یې وغوښتل چې خپلې اړتیاوې ورسره شریکې کړي.

یاده دې وي چې دغونډې په پای کې په ممتازو زده کوونکو ستاینلکونه او ډالۍ هم ووېشل شوې.

## کوچي قشر ته د بشري مرستو د جلبولو په اړه ناسته.

(چهارشنبه، ۲د جمادي الاول۱۴۴۴)

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو د سمون لوی رئیس ښاغلي ګل زرین کوچي په خپل کاري دفتر کې د انوف انلس مؤسیسې له مسؤلې سوسانا فیوزیټي سره وکتل.

په دې کتنه کې د انوف انلس مؤسیسې مسؤلې آغلې سوسانا فیوزیټي د وزارتونو، مستقلو ادارو او مؤسیساتو تر منځ ورته ناستې ګټورې او اړینې وبللې او د مرستو په ویش کې یې په همکاري او همغږۍ ټینګار وکړ.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو د سمون لوی رئیس ښاغلي ګل زرین کوچي د دوی د معلوماتو له اورېدلو څخه وروسته زیاته کړه چې، یاد وزارت د اصولو او قوانینو په چوکاټ کې د ټولو خیریه مؤسیسو استقلالیت ته ژمن دی او دغه راز یې کوچیان د هېواد بې برخې قشر یاد کړ، هغه وویل چې هیڅ ډول بشري او پراختیایي مرستو ته لاسرسی نه لري، له همدې امله یې د یادې مؤسیسې له مسؤلې وغوښتل چې د مرستو په وېش او پراختیایي چارو کې دوی ته پاملرنه وکړي.

## د کابل ولایت اړوند یوولسو ولسوالیوته د کوچیانود ستونزو اورېدوپه موخه کاري سفرونه

د سرحد ونو، قومونو او قبایلو چار وو زارت، دکوچیانو چارود سمون لوی ریاست اړوند د کابل ولایت د کوچیانو چارو د سمون آمرښاغلی حاجي محمد شریف شریفي ،چې دکوچیانوداقتصادي پروګرامونورئیس ښاغلی مفتي

لعل محمد ورسره ملګرى ود كابل اړوند يوولسو ولسواليوبګراميو، ده سبز، شكردرې، ګل درې، كلكان، قره باغ، پغمان، چهارآسياب، موسهي، خاكجباراوسروبي ته له دې امله چې كوچي قشرته په يادو ولسواليو كې له مسؤلينوسره، كوچيانو ته د مرستې د وېش په اړه خبرې وكړي او دهغوى ستونزې واوري كاري سفرونه ترسره كړه. نوموړوپه داسې حال كې چې كوچي سرخېلانوهم حضوردرلود په يادوولسواليوكې له ولسوالانواومرستيالانوسره يې په خبرو كې ميشتو كوچيانو ته د نوروځايي خلكوپه څېر د مرستود وېشلو غوښتنه وكړه، مسؤلينو ډاډ وركړ، چې د مرستوپه ويش كې به د كوچي قشر د مستحقو كورنيواوځايي خلكوترمنځ هيڅ ډول توپيرشتون ونه لري اوپه دې اړه به اړوند مسؤلينو ته هم سپارښتنه وكړي.

دغه رازد كوچي قشر سرخيلانوپه بېلابېلو برخوكې د حل په موخه ستونزې شريكې كړې، پلاوي د كوچيانوچارود سمون لوى رئيس ښاغلي ګلزرين كوچي دهدايت پراساس له كوچي سرخېلانووغوښتل، چې په كوچي ميشتو سيمو كې د ستونزوپه اړه خپلې عريضې د ولسوالۍ مقام له تائيد وروسته د كوچيانود سمون لوى رياست ته وسپاري چې حل لارې ورته پيدا اوولټول شي.

## د هېواد په يوشمېر ولايتونوكې د (قومونود يووالي اوهمغږۍ ) تر سرليك لاندې غونډې جوړې شوې.

د سرحدونو، قومونواوقبايلو چاروورازت د جرګواوقبايلي چارومعين ښاغلي الحاج ملا عبدالخالق عابد تر مشرۍ لاندې پلاوى ، چې د وزارت مقام د دفتر رئيس ښاغلى شيخ حضرت ولي حقاني، د جرګود همغږۍ رئيس ښاغلى مولوي محمد اسماعيل غزنوي اود كوچيانوعمومي رئيس ښاغلى ګل زرين كوچي،چې په ياد پلاوي كې شامل و مركزي ولايت باميانو، دغه راز د جرګو اوقبايلي چارو د همغږۍ معين ښاغلي الحاج ملا عبدالخالق عابد په مشرۍ بل پلاوى د جرګو د همغږۍ رئيس الحاج مولوي محمد اسماعيل غزنوي، د كوچيانو د اسكانورئيس مولوي محمد نادر سنګين اود اطلاعاتو اوعامه اړيكورياست د نشراتوآمرښاغلي شرافت الله وياړ په ګډون د هېواد ، شمالي اوشمال شرقي ولايتونو ، بغلان، بلخ، جوزجان، سرپل ، فارياب، كندز،سمنګان، بدخشان اوكندزولايتونو ته ددې لپاره چې د يادو ولايتونو خلكو سره له نږدې وګوري ، ستونزې يې له نږدې واوري ، يووالي او همغږۍ ته يې راوبولي سفر تر سره كړ.

پلاوي يادو ولايتونو ته د سفر په لړ كې لومړى له واليانو سره د جرګو د جوړولو په اړه مشورتي غونډې درلودلې ، چې د هغوى له لوري د همكارۍ ډاډ وركړل شو.

## باميان ولايت كې قومي جرګه تر سره شوه

(۱۷/۳/۱۴۴۴هـ ق پنجشنبه)

د باميان ولايت په ولسي غونډه كې د سرحدونو، قومونواوقبايلوچارو وزرات پلاوي برسيره يو شمير ځايي چارواكو د باميان د مركز په شمول د اتو ولسواليو، قومي مخورو، علماوو او د پوهنتون استادانو ګډون كړى وو.

په دې غونډه كې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د كوچيانو چارو لوى رئيس مولوي ګل زرين كوچي، زراعت او مالداري د هېواد د اقتصادي پرمختيا لپاره مهم عناصر ياد كړل او د مالدارانو او بزګرانو تر

منځ یې پر همغږۍ او همکارۍ ټینګار وکړ.
د جرګو رئیس الحاج مولوي محمد اسماعیل غزنوي بیا اسلامي نظام او امنیت د الله تعالی ستر نعمتونه وبلل او ددې سترو نعمتونو شکر اداکول یې د ټولو وجیبه یاده کړه.
په پای کې د جرګو معین ښاغلي حاجي ملا عبدالخالق عابد د غونډې ګډونوالو ته د اتحاد او اتفاق پر ارزښت خبرې وکړې او قومونه یې یوبل سره همکارۍ او همغږۍ ته راوبلل.
د **بغلان ولایت** په مرکز کې د قومونو د یووالي او همغږۍ تر نامه لاندې غونډه ترسره شوه چې د وزارت له پلاوي سربېره ، ځایي چارواکوددې ولایت مرکز او ولسوالیو سلګونه دیني علماؤ، قومي سپین ږیرو او عامو خلګو پکې ګډون کړی وو. غونډې ته له بېلابېلو ولسوالیو څخه مشرانو ویناوې وکړې دوی پر یووالي او اتحاد ټینګار وکړ او یو لړ ستونزې د حل په موخه شریکې کړې د بغلان ولسونو د ستونزو حل ته یې د جدي پاملرنې غوښتنه وکړه.
وروسته د سرحدونو، قومونواوقبایلوچارو وزارت د کوچیانو د اسکانو رئیس مولوي محمد نادر سنګین او مولوي شمس الرحمن زاهد د یووالي او اطاعت اړوند موضوع خبرې وکړې ویې ویل: د دې ستر اسلامي نظام شکر باید اداء کړو، همدا جهاد وو، چې زموږ او ستاسې د نجات سبب شو، افغانستان له تجزیې او ملوک الطوائفي وساتل شو، دا نظام د افغانانو نظام دی د دې ولس ټولې ستونزې به پکې حل کیږي.
د جرګو رئیس مولوي محمد اسماعیل غزنوي پخپله وینا کې د غونډې ګډونوالو ته وویل: دا نظام ستاسې په قربانیو راغلی دی دا ستاسو نظام دی، دلته چې د نړۍ زبر ځواک مات شو دا زموږ او ستاسو د قربانیو او اتحاد برکت وو، د افغانانو کامیابي په اتحاد او یووالي کې ده، هغه وویل په افغانستان کې مېشت ټول قومونه زموږ ورونه دي او مساوي حقوق لري.
د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد په خپلو خبرو کې: له امریکایي اشغال څخه د افغانستان خلاصون او عمومي عفوه د الله ج یو لوی نعمت او دا یې د اتحاد او اتفاق نتیجه وبلله ویې ویل: دنیاوال نه غواړي چې افغانان سوکاله او خود کفا شي، خو موږ د الله تعالی په نصرت او د خپل ولس په همکاري تعهد لرو چې د ترقي او سوکالۍ لپاره به کار کوو.
د غونډې ګډونوالو مشرانو له اسلامي نظام او قیادت څخه یې خپل کلک ملاتړ اعلان کړ.

## «د دې ازادۍ سبب ستاسې قربانۍ او تکالیف دي»

(۲۲/۳/۱۴۴۴ هـ ق شنبه)

په **بلخ ولایت** کې د قومونود یووالي او همغږۍ په جوړه شوې جرګه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو لوړ رتبه پلاوي تر څنګ ځایي چارواکو د رسنیو استازو، د بلخ ولایت له ټولو ولسوالیو څخه راغلو سلګونه علماوو، قومي مشرانو او سپین ږیرو ګډون کړی وو.
یادې غونډې ته د سرحدونو، قومونواوقبایلوچارو وزارت د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد وویل: افغانانو

قربانۍ ورکړې دي، د اتفاق او يووالي ثمره دا ده چې موږ او تاسې په ارامه فضاء کې يو ځای خپلې ستونزې سره شريکوو، هغه زياته کړه، د دې ازادۍ سبب ستاسې قربانۍ او تکاليف دي او دا نظام له ولس څخه جوړ دی.

د غونډې په پای کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو رئيس الحاج مولوي محمد اسماعيل غزنوي وويل: په اسلامي نظام کې د ټولو قومونو حقوق خوندي دي، موږ اوس د يوه داسې نظام شاهدان يو چې په څلورويشت ساعتونوکې څوک په مرمۍ نه وژل کېږي او نه وينه تويېږي، هغه په خپلو خبرو کې وويل: د سرحدونو، قومونو اوقبايلو چارو وزارت دنده لري چې د افغانستان د ولس ستونزې واوري او تر لوړو مقاماتو يې ورسوي، د سرحدونو، قومونواوقبايلوچارو وزارت دروازې هر وخت ستاسې پر مخ خلاصې دي.

(۳۰/۳/۱۴۴۴ چهارشنبه)

**سرپل ولايت** کې هم د سرحدونو، قومونو او قبايلو چاروورارت د جرګو معينيت لخوا په رابلل شوې غونډه کې د وزارت لوړ رتبه پلاوي، ځايي چارواکواو د سرپل ولايت له ټولو ولسواليو څخه علماوو، قومي مشرانو او سپين ږيرو ګډون کړی وو.

غونډې ته د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو رئيس مولوي محمد اسماعيل غزنوي وويل، قومونه بايد په خپل منځ کې داسې تعامل وکړي، چې پر يووالي بناء وي او د قومونو اړيکې او جوړښتونه بايد د اعتدال پر اساس او په ښه توګه تر سره شي.

ښاغلي غزنوي زياته کړه: د افغانستان شته ستونزې يوازې د يووالي او اتحاد په مټ هوارولی شو.

ورپسې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو او همغږۍ معين الحاج ملا عبدالخالق عابد په خپله وينا کې وويل: افغانانو هر وخت د الله ج دين ساتلی دی، هغه وويل د اسلامي احکاماتو د اقامې لپاره د اميرالمؤمنين حفظه الله په شمول ډېرو افغانانو خپل زامن د دې سپېڅلي نظام لپاره قرباني کړي دي، ښاغلي عابد وويل: دلته قوم پرستي سمتپرستي نشته، بلکې معيار اسلام دی، دا چې دا ازادي دومره ارزښت لري بايد يې ساتنه وکړو.

(۴/۱۴۴۴ ربيع الثاني شنبه)

د **فارياب په ولايت** کې د قومونو د (يووالي اوهمغږۍ) ترسرليک لاندې غونډه کې د وزارت پلاوي، ځايي مسوولينو، ديني عالمانو او قومي مشرانو ګډون درلود.

په ياده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د کوچيانو د اسکانو رئيس مولوي محمد نادر سنګين وويل: دلته د قومونو او ژبو تر منځ هيڅ تفاوت نشته، د افغانستان اسلامي امارت، د افغانستان د ټولو قومونو ګډ کور دی،ورپسې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارود جرګو د همغږۍ رئيس الحاج مولوي محمد اسماعيل غزنوي وويل: افغانانو پرديو فکرونو ته په خپله غېږه کې ځای ورنکړ، او هغه ناکام تللي دي چې دا د قومونو د وحدت نتيجه ده، افغانان يو ډېر سپېڅلی تاريخ لري، د افغانستان اسلامي امارت د قومونو يووالي ته ژمن دی چې له همدې امله يې د خپل سر دښمنان وبښل تر څو د قومونو ترمنځ دښمنۍ ايجاد نشي.

د غونډې په پای کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو معين الحاج ملا عبدالخالق عابد وويل: که اتفاق نه وای افغانان به بل لور ته تللي وو، د هر ولايت سپين ږيري مسؤليت لري، چې خپل ځوانان د بهرنيو تبليغاتو له ښکار څخه وساتي، او د يوه سالم فکر لور ته يې سوق کړي، ښاغلي عابد زياته کړه: افغانستان په تيره نيمه پېړۍ کې تپل شويو جګړو وران کړی اوس يې د جوړېدو وخت دی بايد په ګډه کار ورته وکړو.

**«د يوه اسلامي نظام له اقامې وروسته اوس پکار ده مونږ او تاسې متحد او متفق شو او د اسلامي نظام د تقويې او پايښت لپاره کار وکړو.»**

(۲/۱۴۴۴ ربيع الثاني دوشنبه)

د **سمنګانوولايت** کې له مرکز اوولسواليو راغليوعلماوو کرامو، او مشرانوپه ګډون جوړه شوې جرګه کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو رئيس الحاج مولوي محمد اسماعيل غزنوي وويل: دا د تاريخ يوه زرينه کرښه ده، کله چې له هېواد څخه پردي اشغالګر ووتل افغانانو يوه او بل ته مينه ورکړه او متحد شول، ښاغلي غزنوي پر بهر مېشتو افغانانو غږ وکړ، چې په خپل هېواد کې د ټولو عزت خوندي دی، خپل هېواد ته دې راشي، دلته دې د اتفاق، يووالي او د هېواد د رغونې لپاره کار وکړي، نوموړي زياته کړه: چې افغانانو نړۍ ته د عفوې، زغم، مينې او اتحاد مثال وړاندې کړی.

د غونډې په پای کې د سرحدونو قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو معين الحاج ملا عبدالخالق عابد وويل: له کومې ازادۍ چې مونږ او تاسې برخمن يو دا د همدې ځوانانو علماوو او قومونو د قربانيو نتيجه ده، د يوه اسلامي نظام له اقامې وروسته اوس پکار ده ، چې مونږ او تاسې متحد او متفق شو او د اسلامي نظام د تقويې او پايښت لپاره کار وکړو.

## په بدخشان ولايت کې ستره ولسي غونډه

۱۴۴۴/۸ ربيع الثاني چهارشنبه

په بدخشان ولايت کې ولسي غونډې ته له اړوند ولسواليو څخه سلګونه قومي مشران او علماء رابلل شوي وو.

په دې غونډه کې ويناوالو د افغانستان له اسلامي امارت څخه خپل ملاتړ څرګند او د حل په موخه يې ستونزې شريکې کړې. د غونډې په جريان کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چاروزارت د جرګو رئيس الحاج مولوي محمد اسماعيل غزنوي وويل: د بدخشان ټول مېشت قومونه سره يو موټی او متحد دي، دلته د تبعيض او تعصب څرک نه لګي او همدا زمونږ ددين غوښتنه ده ، ښاغلي غزنوي زياته کړه: افغانان تاريخ جوړونکي دي، دا ځل به افغانان د هېواد په جوړونه کې تاريخ جوړ کړي، او نړۍ ته به ځان وښيي چې افغانان د جنګ خلک نه دي، بلکې په هره برخه کې غښتلي او پياوړي خلګ دي، هغه وويل سرحدونه ساتل د افغانستان د موجوده حکومت له مهمو کارونو څخه دی، افغانان دې د خپل هېواد د سرحدونو په ساتلو کې د افغانستان له اسلامي امارت سره مرسته وکړي، همدا راز د سرحدونو، قومونواوقبايلو چارو وزارت د کوچيانو د اسکانو رئيس مولوي محمد نادر سنګين وويل: بهرنۍ کړۍ د افغانستان ولس او ځوانان په تبليغاتو تېر باسي افغانان دې د دښمن دې وروستۍ

حربې ته متوجه وي، د افغانستان اسلامي امارت د دې ولس لپاره قرباني ورکړې دي چې نتیجه یې همدا ازادي ده، موږ ته پکار ده چې د دې ازادي شکر اداء کړو.

د غونډې په پای کې د بدخشان ولایت د پامیر یوه قومي مشر پامیر ته د سرحدونو، قومونو اوقبایلو سرپرست وزیر سفر یو تاریخي او مهم سفر وباله او د وزارت له مشرتابه څخه یې مننه وکړه چې د دوی ستونزې یې اورېدلې دي او ځانګړې پاملرنه یې ورته کړې ده، هغه وویل د پامیر خلګ ګڼې ستونزې لري، خو د افغانستان اسلامي امارت دې زموږ لومړنۍ ستونزې راحل کړي، د پامیر خلګ کلینیک ، ښوونځیواو سړک ته اړتیا لري.

د یادونې وړ ده چې د بدخشان او پامیر خلکو ستونزو او غوښتنو ته په کتو کابینې پرېکړه وکړه او د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ښاغلي نوري تر مشرۍ لاندې یو پلاوي ته یې دنده وسپارله چې د وربښمو د تاریخي او اقتصادي لارې د بیا رغولو چارې تعقیب کړي.

په کندز ولایت کې هم د سرحدونو، قومونواوقبایلو چاروورزارت پلاوي، مسؤلینو، دیني علماوو او قومي مشرانو په ګډون ولسي غونډه جوړه شوې وه .

لومړی د همدې ولایت قومي مشرانو وویل: په اوس وخت کې زموږ یووالی زموږ دښمنانو ته یو غاښ ماتوونکی ګزار دی باید افغانان ټول دې ټکي ته په کتو اتحاد او یووالی غوره کړي، د سرحدونو،قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو د اسکانو رئیس مولوي محمد نادر سنګین وویل: د کندزولس یو متدین او غیرتي ولس دی، هغه زیاته کړه: اوس د قومونو تر ترمنځ د محبت وخت دی او قومي مشران دې خپلو نسلونو ته د یووالي او اتحاد فکر ورکړي.د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو د جرګو رئیس الحاج مولوي محمد اسماعیل غزنوي کندز یو تاریخي ولایت یاد کړ، نوموړي د امیرالمؤمنین له خوا عمومي عفوه یو بیساری عمل وباله او هیله یې څرګنده کړه، چې د افغانانو تر منځ د یووالي او اتحاد سبب وګرځي.

د غونډې په پای کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد وویل: دلته که افغانانو اتفاق نه وای کړی هر څه ته به یې خطر وو، افغانانو ډېرې قربانۍ ورکړې دي او د دې تېر شل کلن اشغال د ماتېدو امتیاز د همدې ولس په برخه دی، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت هڅه کوي چې د دې ولس د یووالي لپاره هر وخت داسې غونډې جوړې کړي.

## د افغانستان د قومونو د انسجام سراسري شورا له مشرتابه او غړو سره کتنه!

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږي معین الحاج ملا عبدالخالق عابد، د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ رئیس الحاج مولوي محمد اسماعیل غزنوي د افغانستان د قومونو د انسجام سراسري شورا له مشرتابه او غړو سره د وزارت د کنفرانسونو په تالار کې ولیدل.

په یاده لیدنه کې د افغانستان د قومونو د انسجام شورا مشرانو د افغانستان د ټولو قومونو په استازیتوب له اسلامي امارت څخه خپل هر اړخیز ملاتړ اعلان کړ، او زیاته یې کړه چې د دې نظام ساتنه ځکه زموږ فریضه ده

چې د موجوده نظام ونه زمونږ د ځوانانو په وینو خړوبه شوې ده، دوی خپلې ستونزې او غوښتنې له الحاج ملا عبدالخالق عابد سره شریکې کړې او هغه یې د هوارولو ډاډ ورکړ.

وروسته د سرحدونو قومونو او قبایلو چاروو وزارت د جرګو او قبایلي چارو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: افغانستان زمونږ ګډ کور دی مونږ د شل کلن جهاد په ستونزو او بریاوو کې یو د بل تر څنګ ولاړ و، دا یووالی باید نور هم پیاوړی کړو، دښمن ته باید وخت ورنکړو چې زمونږ له بې اتفاقۍ څخه د خپلو موخو د تر لاسه کولولپاره ګټه کار واخلي.

د کتنې په پای کې د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ رئیس الحاج مولوي محمد اسماعیل غزنوي وویل: د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د اسلامي امارت او ولس تر منځ د پول حیثیت لري، د شورا له درنو مشرانو څخه یې هیله وکړه چې خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي، هغه زیاته کړه چې مونږ ستاسې غوښتنې او وړاندیزونه واورېدل، د حل په موخه به یې له لوړو مقاماتو سره شریک کړو.

## د تخار ولایت خواجه بهاوالدین ولسوالۍ کې ستره ولسي شخړه حل وفصل شوه.

(۲۸/۳/۱۴۴۴ دوشنبه)

د ریاست الوزراء له خوا د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د سرحدي پلټنو معین شیخ محمد قاسم خالد تر مشرۍ لاندې ټاکل شوی لوړ رتبه پلاوی، چې د کورنیو چارو وزارت مرستیال مولوي نور جلال جلالي، د کرنې او مالدارۍ سرپرست وزیر مولوي عطاء الله عمري، د محابسو عمومي مسؤول حاجي میستري او د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالسلام مخدوم یې غړیتوب درلود د خواجه بهاوالدین ولسوالۍ مهاجر قچلاق کلي کې د یوشمېرپښتنو، تاجکو او ازبکو هېوادوالو تر منځ د کرهنیزو ځمکو او کورونو پر سر د شخړې د حلولو په موخه سېمې ته د دوهم ځل لپاره سفر تر سره کړ.

څه موده وړاندې د خواجه بهاوالدین ولسوالۍ مهاجر قچلاق کلي پر کورونو او زراعتي ځمکو د یو شمېرتاجکو، ازبکو او پښتنو تر منځ راولاړې شوې شخړې ددې لامل شوې چې د ریاست الوزراء له خوا لوړ رتبه پلاوی د شخړې د حل په موخه سېمې ته سفر وکړي، په دې سفر کې یاد پلاوي د ټولو لوریو له مشرانو سره مفصلې خبرې او بحثونه تر سره کړل او بالاخره یې د ټولو لوریو غوښتنو او اړتیاو ته په کتو یو پریکړه لیک ترتیب او له تفصیلي راپورسره مل یې ریاست الوزراء او د مشرتابه مقام ته د وروستیو پریکړو په موخه واستوو.

د امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله د ځانګړې شفقت له مخې دا پریکړه لیک تائید او د۱۴۴۴/ ۳/ ۲۸ د ټاکل شوي پلاوي لخوا د تخار ولایت والي مولوي ضیاء الرحمن مدني، ځایي مسوولینو، قومي مشرانو ، د شخړې ټولو اړخونو او ولسي خلکو په شتون کې د یوې پراخې غونډې په ترځ کې اعلان شو.

په پریکړه لیک کې راغلي چې د کورونو اصلي مالکان به په کورونو د شویو لګښتونو هغه اندازه چې دې قضیې ته ټاکل شوی کمیسیون به یې ټاکي، کورونوکې

میشتومهاجروته ورکوي ، او د اسلامي امارت د زعیم د ځانګړي شفقت له مخې به تاجکو او ازبکو هېوادوالو ته په ۱۵۰ جریبه ځمکه کې چې د ځانګړې ښاري نقشې له مخې به پکې درې سوه کورونه، عیدګاه، لس جوماتونه، مکتب، مدرسه، روغتون او بازار لپاره ځانګړې ساحه ولري توزیع شي.

دغه راز یاد پلاوي د زراعتي ځمکو هغه قضیه چې د ازبکو او پښتنو تر منځ لاینحله پاتې ده د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري تاکل شوي اختصاصي محکمې ته راجع کړل شوه تر څو د ټولو ځمکو اسناد ارزیابي او وروستۍ پریکړه تر سره کړي.

د سیمې خلک د اسلامي امارت له حکیمانه پرېکړې خوښ دي او وایي چې په دې سره نه یوازې د سیمې د خلکو تر منځ لویه شخړه حل شوه، بلکې د تل لپاره د ورورولۍ او صمیمیت فضا جوړه شوه.

یاده دې وي چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د سرحدي بررسیو مرستیال شیخ محمد قاسم خالد چې د رامنځته شوې شخړې د حل په موخه د ټاکل شوي باصلاحیته پلاوي مشري یې کوله د حکومت د رسنیو په مرکز کې په دې اړه مطبوعاتي کنفرانس ورکړ.

۲/۴/۱۴۴۴ دوشنبه

په دې مطبوعاتي کنفرانس کې چې د حکومت د رسنیو مرکز رئیس مفتي انعام الله سمنګاني، د کرنې او مالدارۍ وزارت ویاند مولوي مصباح الدین مستعین ، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت ویاند حمدالله فطرت او د کورنیو او بهرنیو رسنیو استازو پکې برخه اخیستې وه. شیخ محمد قاسم خالد له رسنیو سره خواجه بهاوالدین ولسوالۍ ته د تللي پلاوي د پریکړې د ابلاغولو، تطبیق او د خلکو د ستونزو د هواري لنډ جریان شریک کړ، نوموړي وویل: د خواجه بهاوالدین ولسوالۍ په مهاجر قچلاق سیمه کې د پښتنو، تاجکو او ازبکو هېوادوالو تر منځ د شخړې د هوارولو لپاره یې اساسي حل رایستلی، په وینا یې د مهاجر قچلاق کلي اصلي مالکانو ته به خپل کورونه سپارل کیږي او اوسني اوسیدونکو ته یې د اسلامي امارت د مشرتابه له خوا د ولسوالۍ بازار په دوه کیلومتري کې هواره او مناسبه ځمکه د یوې ځانګړې نقشې او طرزالعمل له مخې ورکول کیږي او دغه راز د مهاجرینو وزارت له خوا به د کورونو په جوړولو کې ورسره لازمه همکاري هم کیږي.

د یادو کورونو اوسني اوسیدونکي مني، چې کورونه د دوئ نه دي، خو په کورونو ددوئ شوي لګښتونه باید ورته ورکول شي، چې د کورونو اصلي مالکینوهم دا غوښتنه په خوښۍ منلې.

ښاغلي شیخ خالد زیاته کړه په کورونو کې مېشتو کورنیو ته چې شاوخوا ۱۲۰ کورنۍ وې د خلکو له غوښتنې سره سم ورته د ۳۰۰ کورونو، جوماتونو، عیدګا، مکتبونو، کلینیک او مدرسو تر څنګ د یو شمېر دوکانونو نقشه د ښار جوړونې ریاست له خوا ډیزاین شوې او د منظم پلان او طرزالعمل له مخې به توزیع شي.

د غه راز د زراعتي ځمکو پر سرد یادو قومونو تر منځ قضیې د حل کولو لپاره د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري اختصاصي محکمه جوړه شوې چې د ټولو جهتونو اسناد به څېړل کیږي او وروستۍ پریکړه به کوي.

د کنفرانس په پای کې د ښاغلي شیخ محمد قاسم خالد او د وزارت ویاند حمدالله فطرت له خوا د خبریالانو پوښتنو ته ځوابونه هم وویل شول.

## د پیر محمد کاکړ عالي لېسې ځخه لېدنه

د سرحدونو، قومونواوقبایلو چارو وزارت د دعوت اوارشاد رئیس ښاغلی الحاج مفتي شفیع الله ثاقب د ۱۴۴۴ ه ق کال د ربیع الاول پر ۲۲ نېټه د یاد ریاست د کړنلارې او د وزارت د رهبري په هدایت د وزارت اړوند د پیر محمد کاکړ لېسې ته تللی و.

هلته یې د لېسې دغونډو په تالار کې د عظیم الشان قران د څو مبارکو آیتونو له تلاوت وروسته ، ښوونکو اوزده کوونکو ته عالمانه وینا واوروله اود ایمان ، توحید کلیمې ، د دعوت اوارشاد ، د اسلامي احادیثو په رڼا کې د ښوونې اوروزنې د ارزښت، تقوا ، امانتدارۍ، د بیت المال د حفاظت اوله آمرینو څخه د اطاعت په اړه یې هراړخیز معلومات وړاندې کړل. وې ویل چې باید په شته امکاناتو قناعت وکړو، ښوونکي او زده کوونکي یې خپلو ورځنیومسؤلیتونو ته متوجه کړل او دغه راز یې اړوند لېسو ته د وزارت مقام او چارواکو د پاملرنې په اړه ،چې د زده کړې لپاره د لا ښه مناسب چاپېریال هڅې کوي هم معلومات وړاندې کړل.

په یاده غونډه کې د لېسې آمام صاحب، د ښوونې اوروزنې رئیس اود نورو په استازیتوب یو تن ښوونکي د دعوت اوارشاد رئیس له ورتګ څخه مننه وکړه اوهغه یې لېسو ته د سمون ، اصلاح ، ښوونې اوروزنې د پرمختګ ، د اسلامي عقایدو د تقویې، د باور فضا د جوړولو، د ملت اوامارت تر منځ د لانښه همکارۍ لپاره ګټور وباله او یو ځل بیا یې مننه وکړه.

ورپسې یې د یادې لېسې له کتابتون، کمپیوټر لب خونې او پخلنځي څخه هم لېدنه ترسره او د پاکۍ اونظافت له امله یې له مسؤلینو مننه وکړه او هغوی یې دلا ښو اجرااتوترسره کولو ته وهڅول.

یاده دې وي چې د دعوت او ارشاد ریاست له خوا دعظیم الشان قرآن څومبارک جلده هم اړوند مسؤلینو ته هدیه شول.

## پامیریانو ته ژمنۍ مرستې ولېږدول شوې!

(۹/۵/۱۴۴۴ هـ ق)

د ریاست الوزراء له خوا د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت تر سرپرستۍ لاندې ټاکل شوي پلاوي هغه ژمنۍ مرستې چې شاوخوا اتلس قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکي پکې شامل وو د لوی او واړه پامیر استازو ته وروسپارل




د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د دفتر رئیس شیخ حضرت ولي حقاني، د وزارت د اطلاعاتو اوعامه اړیکو رئیس ملا حمدالله فطرت، د وزارت د قومي چارو سلاکار امین الله پامیري او پېښنو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د بشري زېرمو رئیس حافظ محمود

الحسن چې د پلاوي غړیتوب یې درلود د بدخشان ولایت د همغږۍ پلاوي د بدخشان ولایت د دفتر رئیس خیرالله حکیمي، د یاد ولایت د استخباراتو ریاست مرستیال



انجنیر عید محمد عیار، د پېښنو پر وړاندې مبارزې رئیس شیخ اکرم او ځیني نورو مسؤلینو په ملتیا د واخان ولسوالۍ ته سفر تر سره کړ.

پلاوي لومړی د واخان ولسوالۍ ګاز خان سیمې ته د توکوله کاروان سره سفر ترسره اوهلته یې د لوی پامیر د خلکو مشر او استازي حاجي محمود ته مواد تسلیم او




د ولي جان نومي کس په ګودامونو کې زېرمه کړل. دغه راز یاد پلاوي د ژمنیو مرستو د پاتې کاروان په ملتیا د کوچني پامیر پر لور حرکت وکړ، چې د سرحد بروغیل په سېمه کې د کوچني پامیر د خلکو درېو استازو ته، چې د شوراګانو مشر حاجي بوتو هم ورسره وو توکي ور وسپارل.

د یادونې وړ ده چې پامیریانو ته دا او دېته ورته مرستې له هغه وروسته ترسره کیږي له کله نه چې یادې سیمې ته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د تېر زمري په میاشت کې شپږ ورځنی سفر تر سره کړی وو او د خلکو ستونزې یې له مشاهدې سره سره ددوئ له خولې هم اورېدلې وې؛ د پامیري هیوادوالو ټولې ستونزې یې تر کابینې پورې ورسولې او ددغو ژمنیو مرستو ترڅنګ تر دې مهاله د یوې پایې مخابراتي شبکې انتن،وربېښمو لارې د رغېدلو او د روغتیایي کلینکونو د ارتقا او تجهیزولو اړوند پرېکړې شوې دي.

**د یادولو وړ ده چې د سرحدونو،قومونواوقبایلو چارو وزارت دویمو واحدونو هم د هېوا د په بېلابېلو ولایتونو کې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه له دیني عالمانو، قومي مشرانو او مخوروسره ناستې ترسره کړې دي، له هغوی سره یې اړیکې ساتلې، د اړتیا پرمهال یې د ستونزو او شخړو په حل کې ورسره مرسته او همکاري کړې ده او ترمنځ یې د یووالي د ټینګښت لپاره خپلې هڅې دوامداره ساتلې.**

مولوي عبدالسلام طارق



# نبوي سیرت

(څلورمه برخه)

## « لمر څرک »

اوس د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم عمر څلویښت کلو ته رسیدلی دی ، د هدایت او رسالت ځلیدونکی لمر راخیژي ، د دې اجمال تفصیل داسې دی چې کله هغه روحاني قوتونه چې الله جل جلاله دهغه په فطرت کې ایښي وو ، عبادت، ریاضت ، خلوت او یوازې والي پر مختګ وکړ ، د نبوت د منصب وړشو ، نو یوه ورځ د حراء په غار کې د هغه په مخکې ملائیکه راښکاره شوه ، او هغه ته یې وویل: چې اِقْرأْ (ولوله ) هغه وویل ما انا بقارئ ( زه لوستونکی نه یم ) بیا هغې ملایکې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ونیو زور یې ورکړ ، بیا یې پریښود او ورته وې ویل : اقرأ هغه بیا ځواب ورکړ « ما انا بقارئ » هغه یې بیا ونیو او زور یې ورکړ ، بیا یې پریښود او ورته وې ویل: اقرأ هغه بیا هماغه ځواب ورکړ: ما انابقارئ ، ملایکې بیا دریم ځلې ونیو او زور یې ورکړ او بیا یې پریښود او ورته وې ویل: اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذِي خَلَقَ ° خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ° اِقْرَأْ وَرَبُّکَ الْاَکْرَمُ ° الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ° عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ یَعْلَمْ (ولوله د خپل رب په نامه چې هر څیزیې پیداکړ او انسان یې له ټینګې وینې پیداکړ، ولوله او ستا رب ډېر ستر دی ، چې د قلم په وسیله یې علم وښوده ، انسان ته یې هغه څه ور زده کړل چې پرې نه پوهیده ) دایې ورته وویل او ملایکه له هغه ځایه غایبه شوه ، هغه له هغه ځایه د وېرې په حالت کې کورته تشریف راوړ او خدیجة الکبری رضی الله عنها ته یې وویل: زملوني ، زملوني ( ما په شړۍ کې ونغاړه، ما په شړۍ کې ونغاړه ) حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها پر هغه کمبله خپره کړه او هغه هم و وېرېده چې داڅه خبره ده ، چې کله لږ څه وروسته هغه لږڅه په آرام شو ، نو خپل ټول کیفیت یې خدیجة الکبری رضی الله عنها ته واو راوه او ورته وې ویل: لقد خشیت علی نفسی ( زه پرخپل ځان ویریدلی یم ) « د خدیجة الکبری رضی الله عنها تاریخي خبرې » حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها په ځواب کې ورته وویل: کلا ابشر فوالله لا یخزیک الله ابدا انک لتصل الرحم وتصدق الحدیث وتحمل الکل وتکسب العدوم وتقری الضیف وتعین علی نوائب الحق ( نه نه ، ته باید خوشحاله شې ، سوګند پر الله جل جلاله چې تابه هیڅکله رسوا نکړي ، ځکه چې تاسې صله رحمي کوئ ، تل رښتیا وایاست او د هغوی مصرف پر خپله غاړه اخلی له چا سره چې د خپل ځان لپاره کافي څه نه وي او په تاسې کې هغه ټول اخلاقي ښیګڼې موجودې دي چې خلکو کې نه میندل کیږي ، تاسې میلمه پال یاست او د حق خبرو او نیکو چارو له امله چې پرچا کوم مصیبت راشي ، نو تاسې دهغه مرسته کوونکی یاست)

تر دې پخلاینې او تسلئ وروسته خدیجة الکبری رضی

الله عنهـا هغـه د خپـل تـره زوی ورقـه بـن نوفـل كـره بوتلـو ، چـې دا مهـال بـوډا شـوی و، هغـه د ورقـه بـن نوفـل پـه مخکـې ټـول کیفیت بیـان کـړ، ورقـه بـن نوفـل چـې واوریـده وې ویـل: دا هماغـه سـتر نامـوس دی ، چـې پـر موسـی علیـه السـلام نـازل شـوی و، کاشـکې چـې زه ځـوان وی او تـر هغـه وختـه ژوندی پاتـې شـوی وای چـې کلـه بـه قـوم تاسـې ( لـه هېـواده ) وباسـي ، رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم پوښـتنه وکـړه او مخرجوهـم ( آیـا قـوم بـه مـا وباسـي ) ورقـه بـن نوفـل وویـل: هـو! پـه دنیـا کـې چـې کـوم رسـول راغلـی ، هغـه د تـو حید تعلیـم ورانـدې کـړی ، لـه هغـه سره پـه لومـړي سرکـې د عـداوت او دښـمنۍ سـلوک شـوی دی ، لـه دې وروسـته هغـه پـر لـه پسـې حـراء غـار تـه تشریف وړلـو ، تـر څـو ورځـو پـورې پـر هغـه کومـه وحـې نازلـه نـه شـوه ، چـې دې تـه د ( فـترة ) زمانـه وایـي اخـر یـوه ورځ هغـه لـه حـراء غـار نـه د کـور پـه لـوررا روان و، چـې بیـا یـې هماغـه ملایکـه ولیـده ، هغـه یـې چـې ولیـده بیـا و ویریـده او چـې کورتـه را ورسـید بیـا یـې څـادر واغوسـت او پریـووت ، چـې پـر غـوږونـو یـې لـه جـلال او عظمتـه ډک آواز ولګیـده: يَـا أَيُّهَـا الْمُدَّثِّـرُ ° قُـمْ فَأَنْـذِرْ ° وَرَبَّـكَ فَكَبِّرْ ° وَثِيَابَـكَ فَطَهِّـرْ ° وَ الرُّجْـزَ فَاهْجُـرْ ( ای پـه څـادر کـې نغښـتی پاڅـه او خلـک لـه الهـي عذابـه و ېـروه او د خپـل رب لویـي او سـترتوب بیـان کـړه ، سـپیڅلتیا غـوره کـړه او د پلیتـۍ یعنـې شرک او بـدۍ نـه جـدا والـی غـوره کـړه ) تـر دې وروسـته د وحـې لـړۍ پـر لـه پسـې جـاري وه، یـوه ورځ جبرئیـل امیـن ،رسـول اکـرم صلـی الله علیـه وسـلم دغـره لمنـې تـه راووسـت ، دهغـه پـه مخکـې یـې پخپلـه اودس وکـړ، آنحضـرت صلـی الله علیـه وسـلم هماغسـې اودس وکـړ ، بیـا جبرئیـل امیـن د امامـت لمونـځ ورکـړ، (**د اسـلام تبلیـغ** ) حضـرت محمـد صلـی الله علیـه وسـلم د توحیـد د تبلیـغ د حکـم میندلـو سره سـم د تبلیـغ کار پیـل کـړ، لـه شرک نـه د خلکـو د منـع کولـو او د توحیـد منلـو تـه د رابللـو کار یـې لومـړی لـه خپلـه کـوره پیـل کـړ ، حضـرت خدیجـة الکبری رضـی الله عنهـا پـرې تـر ټولـو لومـړی ایمـان راوړ ، حضـرت علـي او حضـرت زیـد بـن حـارث رضـی الله عنهمـا هـم پـر هغـه پـه لومـړۍ ورځ ایمـان راوړ، دا ټـول د هغـه د کـور خلـک وو ، حضـرت ابوبکـر بـن ابـو قحافـه رضـی الله عنـه هـم چـې د هغـه ملګـری و ، پـرې پـه لومـړۍ ورځ ایمـان راوړ ، پـه دغـو ټولـو لومـړنیـو ایمـان راوړونکـو کـې یـوه د هغـه میرمـن ، یـو دهغـه د تـره زوی ، یـو دهغـه آزاد شـوی غـلام او یـو یـې خالـص او مخلـص دوسـت و، ښـکاره ده چـې دا ټـول د هغـه د اخلاقـو او خاصیتونـو نـه ښـه خبـر وو او د حضـور صلـی الله علیـه وسـلم د ژوندانـه یـو اړخ هـم تـرې پټ نـه و ، د دوی تـر ټولـو لومـړی ایمـان راوړل د هغـه د اخـلاص او صداقـت یـو ځواکمـن دلیـل دی، پیغمبـر اکـرم صلـی الله علیـه وسـلم پـه لومـړي سر کـې خپـل تبلیـغ پـه ډېـره چوپتیـا سره پـه خپلـو دوسـتانو او خپلوانـو پـورې محـدود کـړ .

د اسلام د تبلیـغ پـه دې لومـړیـو وختونـو کـې تـر ټولـو زیـات خدمتونـه حضـرت ابوبکـر صدیـق رضـی الله عنـه سرتـه ورسـول ، د حضـرت ابوبکـر صدیـق رضـی الله عنـه مخورتیـا او دوسـتانه د مکـې پـه قریشـو کـې ډېـره پراخـه وه ، د هغـه د اغیـز پـه وسـیله عثمـان بـن عفـان ، طلحـه بـن عبیـدالله ، حضـرت سـعد بـن وقـاص ، حضـرت عبدالرحمـن بـن عـوف ، حضـرت زبیـر بـن العـوام رضـی الله عنهـم او نـورو ایمـان راوړ ، بیـا حضـرت ابوعبیـده بـن جـراح ، حضـرت ابوسلمه

، حضرت عبدالاسد بن هلال ، حضرت عثمان بن مظعون ، حضرت سعید بن زید رضی الله عنهم ، حضرت فاطمه رضی الله عنها د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه خور ، د حضرت سعید میرمن او نور هم د اسلام په دایره کې داخل شول ، تر دغو حضراتو وروسته د حضرت سعد بن ابي وقاص ورور حضرت عمیر ، حضرت عبدالله بن مسعود ، حضرت جعفر بن ابي طالب او نورو رضی الله عنهم ایمان راوړ او د مسلمانانو یوه کوچنۍ شان ټولنه جوړه شوه ، چې نر ، ښځې ، زاړه ، ځوانان ټول پکې شامل وو ، د مشرکانو له وېرې به مسلمانان له مکې نه د باندې د غرونو لمنو ته تلل او لمونځونه یې ادا کول ، تر درې کالو د اسلام تبلیغ همداسې په پټه پټه کیده او خلک به ورو ورو له شرک او بت نمانځنې بیزارېدل او د اسلام په دایره کې به داخلیدل ، د دې درې کلونو په موده کې به د قریشو په هر مجلس او غونډه کې د دې نوي دین په باب تبصرې کیدې ، لکه څنګه چې مسلمانانو د خپل په اسلام د مشرف کېدو اعلان نه کاوه ، له دې امله به زیاترو مسلمانانو ته پخپلو منځو کې د یو بل اسلام راوړلو په باب معلومات هم نه وو ، قریشو په لمړي سر کې د اسلام دغه تحریک دومره زیات مهم او خطرناک نه ګاڼه ، نو په دې خاطر به یې ور پورې ټوکې مسخرې کولې او د ژبې ضرر به یې ورته رساوه. په مجموعي توګه یې ټول قام د ستې ایستو پسې شوی نه و ، په قریشو کې ځینې داسې شرارت خوښوونکي خلک وو، چې وس به یې ورسید مسلمانانو ته به یې بدني زیان هم رساوه ، یو ځلې حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه له څو تنو مسلمانانو سره په کومه دره کې لمونځ ادا کاوه ، چې ناڅاپه څو تنه مشرکان هغه ته ورغلل او مسلمانان یې په ډېر بد وضعیت له دغه الهي عبادت نه منع کړل ، حضرت سعد بن ابي وقاص یې مقابله وکړه او یو تن کافر د حضرت سعد په توره زخمي شو ، دا تر ټولو لومړۍ توره وه چې د الله جل جلاله په لاره کې وچلیده ، یو ځلې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت علي رضی الله عنه په کوم خوړکې لمونځ ادا کاوه ، په اتفاقي ډول ابوطالب هغه لوري ته راغی ، غلی ودرید او ورته کتل یې ، کله چې هغوی لمونځ پای ته ورساوه ، نو پوښتنه یې ترې وکړه داکوم مذهب دی ، چې تاسې غوره کړی دی ، آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل دا ابراهیمي دین دی ، له دې سره یې ابوطالب ته داهم وویل: چې تاسې هم دغه دین ومنئ ، ابوطالب وویل : زه د خپل پلار نیکه مذهب نه پریږدم ، خو حضرت علي کرم الله وجهه ته یې وویل: زویه ته به له محمد سره ملګرتیا نه پریږدې ، زه باور لرم چې محمد به تا ته له نیکۍ پرته پر یوې بدۍ هم حکم ونکړي ، لنډه دا چې په دې ډول تر درې کالو په پټه د اسلام د تبلیغ کار روان وو، او پاک روحونه به په کرار کرار په اسلام مشرف کیدل.

« د صفا پر غره د حق اعلان » الهي حکم نازل شو چې : فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ ( تا ته چې د څه حکم شوی دی هغه په ښکاره خلکو ته واوروه ) د دې حکم په نازلیدو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د صفا پر غره وخوت ، په لوړ آواز یې د یوې یوې قبیلې نوم واخیست او د ځان خواته یې را وبلل ، د دغه آواز په اوریدو دعربو له دود سره سم خلک راټول شول ، کله چې خلک راجمع شول

، نو هغه ورته وفرمایل : اخبرتکم ان العدو مصبحکم او ممسکم اما کنتم ( اې قریشو که زه تاسې ته خبر درکړم چې سهار یا ماښام پر تاسې دښمن حمله کوونکی دی ، نو آیا تاسې به ما رښتونی و ګڼئ ) ټولو په یو آواز وویل هو ، موږ ته همیشه رښتونی میندلی یې ، د دې ځواب په اوریدو هغه وفرمایل: ښه نو زه تاسې ته خبر درکوم چې د الله جل جلاله عذاب نږدې دی ، پر هغه ایمان راوړئ چې له الهي عذاب نه بچ شئ ، د دې خبرو په او ریدو قریشو وخندل ، ابولهب وویل : هلاک شې تاموږ د دې له پاره راټول کړي وو ، تر دې وروسته خلک خواره شول او خلک خپلو کورونو ته له خبرو او تبصرو سره ولاړل ، د ابولهب له تلو سره دا سورة نازل شو « تَبَّتْ يَدَا أَبِيْ لَهَبٍ و تَبَّ « څو ورځې وروسته ، وَاَ نْذِرْ عَشِيْرَتَکَ الْأَقْرَبِيْنَ « ( نږدې خپلوان دې و ویره وه ) آیت نازل شو ، هغه حضرت علي کرم الله وجهه ته حکم وکړ ، چې یوه میلمستیا تیاره کړي ، هغه میلمستیا تیاره کړه ، تر څلویښت تنو پورې خپلوان یې راغلل ، کله چې ټولو خواړه وخوړل ، نو هغه یو څه ویناکول غوښتل ، خو ابولهب داسې بې ځایه خبرې پیل کړې ، چې هغه ته د خبرو کولو وخت په لاس ورنغی او خلک خواره شول ، په دویمه ورځ هغه بیامیلمستیا جوړه کړه او خپل خپلوان یې راوغوښتل ، کله چې هغوی غذا وخوړه ، نو پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم هغوی ته په خطاب کې داسې وویل : چې ګورئ ما تاسې ته هغه خبرې راوړې دي ، چې تر دې زیاتې غوره خبرې هیچا د خپلې قبیلې خلکو ته نه دي راوړي ، وواياست په دې کارکې به څوک له ما سره مرسته کوي د دې خبرې په اوریدو ټول خاموش وو ، چا هیڅ ځواب نه ورکاوه ، چې په دې کې حضرت علي کرم الله وجهه پاڅید او وې ویل : که څه هم زه کمزوری او تر ټولو کوچنی یم ، خو زه به ستاسې ملګری یم ، د دې خبرې په او ریدو ټولو وخندل او په ټوکو مسخرو رخصت شول.

« په ښکاره د تبلیغ کوښښ » خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په عامه توګه اسلام او تو حید ته د خلکو رابلل پیل کړل او په همدې زمانه کې پر هغه او دهغه پر کوچنۍ ډله دعامو مصیبتونو نزول پیل شو ، په مجلسونو ، میلو ، بازارونو د ناستې ځایونو ته او د خلکو کورونو ته به هغه او ملګري یې ور تلل او د تو حید پر ښه والي به یې پوهول او د بوتانو له عبادت نه به یې خلک منع کول ، له زنا، جوارۍ ، دروغ ویلو ، خیانت ، غلا ، ډاکې او نورو بدو چارو به یې خلک منع کول ، د قریشو قام ډېر مغرور وو، خپل او د خپلو پلرونو او نیکونو د مذهب او تګ لارې بدۍ اوریدل د هغوی له پاره آسان کار نه و، په هغو خلکو کې د غلام او بادار فرق هم یو ضروري شیز و، اسلام یوه عمومي ورور ولي جوړوله او غلام او بادار یې په یو صف کې درول ،دا مساوات هم د هغوی خوښ نه و، د قریشو او مکې والو عزت او پرتم چې په ټولو عربو کې ثابت و، هغه هم د همدې بوتانو له امله و، چې د نمانځنې له پاره به یې ټول عرب مکې ته راتلل ، او د بت نمانځنې دودونه به یې پر ځای کول ، اسلام د بت نمانځنې دښمن و، چې اساسي نتیجه یې دهغو خلکو دعزت او سترتوب زوال و، لویو سردارانو او د درناوي څښتنانو خلکو داځنکه منلای شوه ، چې هغوی دې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په نبي منلو د خپلې

سرداري نه لاس په سرشي او دهغه د فرمانبرداري بوج دې پر غاړه واخلي ، د قريشو زياترو قبيلو له بنوهاشم سره دښمني لرله ، نو ځکه هغوی دا نشوه منلای ، چې ديوې دښمنې قبيلې سرې دې ومني او د هغه اطاعت دې غوره کړي ، د دغه ښکاره تبليغ نتيجه دا شوه ، چې ټول قريش د اسلام د مخالفت له پاره تيار او د ستې ايستو پسې يې شول ، د کفر او اسلام دا ښکاره اړو دوړ د نبوت په څلورم کال ښه په زور او شور سره پيل شوی و.( لومړنۍ مدرسه ) په همدې وخت کې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د صفا د غره په لمن کې د ارقم بن ابي الارقم کور د اسلامي مدرسې په توګه په کار راوستل پيل کړل ، دې کور ته به هر په اسلام کې نوی داخل شوی سړی راتلو او اسلامي تعليم به ورته کيده ، په هغه کور کې د هروخت له پاره د مسلمانانو غونډې پيل شوې ، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم به په همدې دار ارقم ( دارقم کور) کې خلکوته اسلام زده کاوه او هم دلته به ټولو په ګډه لمونځ ادا کاوه ، تر درې کالو يعنې د نبوت تر شپږم کاله د هغه اسلامي مرکز همدا د ارقم کور و، په دې درې کالو کې چې کوم کسان مسلمانان شوي وو، د هغوی مرتبه هم د لومړنيو مسلمانانو برابره ګڼل کيده ، د ارقم په کور کې د مسلمان شويو په لست کې تر ټولو وروستی سړی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دی ، د ده پر مسلمانيدو مسلمانان ډېر څواکمن شول او د ارقم له کوره د باندې را ووتل ، قريشو چې کله د آنحضرت صلی الله عليه وسلم او د هغه د ډلې له منځه وړل ضروري وګڼل ، نو د ضرر رسولو او تکليف ور کولو نوې لارې چارې يې غوره کړې.

« د قريشو مخالفت » په ايمان راوړونکو مسلمانانو کې يو شمېر خلک غلامان وو ، او يو شمېر داسې وو ، چې د خپلې قبيلې د زياتره خپلوانو د نه لرلو له امله ډېر کمزوري ګڼل کيدل ، د داسې خلکو له اسلامه د ګرځولو ( مرتد کولو ) له پاره جسماني اذيتونه پيل شول ، کومو خلکو به چې له کومې قبيلې سره اړيکې لرلې او هغوی ته د عامو خلکو ضرر رسول له دې امله انديښمن وو ، هسې نه چې د قبيلې خلک يې تر څنګ ونه دريږي ، د هغوی خپلوان يې دې ته تيار کړل ، چې هغه دې خپلو مسلمان شويو خپلوانو ته سزا او تکليف ورکړي او مرتد دې کړي ، له مسلمانانو پورې د ټوکې کولو او هغوی ته د بد رد ويلو لپاره په عمومي توګه وګړي تيار شول ، چې نور خلک په اسلام کې د داخليدو جرئت ونه کړي ، دې لوري ته آنحضرت صلی الله عليه وسلم د اسلام ښکاره تبليغ پيل کړ او هاخوا ته قريشو د بشپړ مخالفت له پاره ملا وتړله ، حضرت بلال رضی الله عنه د اميه بن خلف غلام وو ، د هغه له اسلام راوړلو چې اميه بن خلف خبر شو ، نوله هغه سره يې زورزياتی پيل کړ، څورو به يې ، پر ګرمه شګه به يې پړ مخې څملا وه او پر شا به يې ورته ګرمه تيګه کېښوده ، مټې به يې پرې وتړلې او په کوتکو به يې واهه ، ولږه به يې پرې تېروله ، په غاړه کې به يې ورته رسۍ وتړله او ماشومانو ته به يې وسپاره ، چې د مکې د ښار په کوڅو او بازارونو کې به يې په وهلو وهلو ګرځاوه ، دغه ټولې ستونزې به حضرت بلال رضی الله عنه زغملې او د احد ، احد ، ناري به يې وهلې حضرت عمار رضی الله عنه له خپل پلار ياسر رضی الله عنه او مور سميه رضی الله

عنهـا سره مسلمان شوي وو ، ابوجهـل بـه وربانـدې ظلـم او زورزیاتـی کولـو ، حضـرت سـمیه رضـی الله عنهـا ظالـم ابوجهـل پـه ډېـره بې رحمـۍ سره پـه نیـزه ووهلـه او شـهیده یـې کـړه، حضـرت زبیـر رضـی الله عنـه ظالـم ابوجهـل دومـره وواهـه چـې پـه وهلـو وهلـو یـې مبارکـې سـترګې ړنـدې شـوې ، لنـډه دا چـې داسـې غلامـان او وینځـې وې ، چـې دومـره سـختې سـختې سزاګانـې ور کـړل شـوې ، چـې د هغـو پـه خیـال کـې راوسـتلو سره د سړي لـه خولـې چیغـې ووځـي ، خـو اسلام د یـوه داسـې زبردسـت طاقـت نـوم دی، چـې هغـه سـخت زړي دهیـچا پـه مرتـد کولـو هـم بریالـي نـه شـول ، حضـرت عثمـان بـن عفـان رضـی الله عنـه د بنـو امیـه قبیلـې یـو شـتمن سړی وو ، د مسـلمانۍ لـه املـه خپـل تـره پـه رسـیو وتـاړه ، ښـه یـې وواهـه او ډول ډول تکلیفونـه یـی ور ورسـول ، حضـرت زبیـر بـن العـوام رضـی الله عنـه د هغـه تـره پـه پـوزې کـې وتـاړه او پـه پـوزه کـې بـه یـې ورتـه لوګـي ورکـول ، حضـرت ابوذرغفـاري رضـی الله قریشـو د قـرآن کریـم پـه تـلاوت ولیـد ، دومـره یـې وواهـه ، چـې پـه وهلـو وهلـو بـې هوشـه شـو او پـه ځمکـه یـې واچـاوه ، نـږدې و چـې ترمرګـه یـې ووهـي ، خـو حضـرت عبـاس بـن عبدالمطلـب رضـی الله عنـه قریشـو تـه وویـل : چـې د دې سړي قبیلـه بنوغفـار سـتاسې د تجارتـي قافلـو دلارې پـر سر آبـاده ده ، هغـوی بـه مـو پـوزې تـه راولـي او پـه دې ډول یـې تـرې راخـلاص کـړ، حضـرت عبـدالله بـن مسـعود رضـی الله عنـه یـې هـم همداسـې پـه کعبـه کـې وواهـه او بیهوشـه یـې کـړ ، حضـرت خبـاب بـن حـارث رضـی الله عنـه تـه یـې ډول ډول تکلیفونـه ورکـړل ، یوځلـې یـې پـر سره انـګار سـتوني سـتاق ځمـلاوه او پـر ګېـډه یـې ورتـه یوسـړی کینـاوه چـې پـه ډډه وانـه وړي ، د هغـه د مـلا ټـول پوسـتکی او غوښـې وسـوځیدې او کبـاب شـوې ، ځینـې صحابـه رضـی الله عنهـم بـه یـې د غوایـي یـا اوښ پـه لمـده څرمـن کـې تـاو کـړل وبـه یـې تـړل او ګـذار بـه یـې کـړل ، ځېنـو تـه بـه یـې د اوسـپنې زغـره واغوسـتله پـر بـل(لګېدلـي) اور او بلـو(لګېدلـو) سـکروټو بـه یـې واچـول.          نورپه بله ګڼه کې

حمد الله حلمیار

## زه مین یم

زه میـــــن یم ستا پر ښکلي لکه ګل مخ
ښـــــکلوم دې په درود لـــــکه بلبل مخ
ترانـــــې ســـتا د سپیځلي حـــــسن وایم
و به نه وینـــم په ژوند کې داسې بل مخ
محـــــمده ! د طاغوت، جـــهل او کـــفر
تیـــــارې ورکې شولې ستا په ځل وبل مخ
چــــې یې بدر له ښکلا نه پرده پوښ ځي
دا جـــلوې دي د آقـــــــا د مجلل مخ
ستا د ښـــــکلي مخ فـــراق دی چې ژړېږم
له ناکامه حلمـــــیار وهمه خـــپل مــخ

# د اسلامي حکومت کورني سیاست ته لنډه کتنه

دوهمه برخه: (۱ ـ ۱۰ هـ ق) څېړندوی وجیه الله ظهیر

## د: د اسلامي حکومت له لوري د یو شمېر مهمو سیاسي تړونونو ترسره کېدل

په نړۍ کې زیات تړونونه شوي او لا به نور هم کېږي. په دې اړه انصاري لیکي، د اسلامي قانون له مخې د اسلامي تړونونو بنسټیزه موخه او غایه همغه ده کومه چې د یو اسلامي حکومت ده او د توحید له نظریې سره سم د ټولې نړۍ د اړیکو توحید او د ټول بشریت لوړوالی او په ټوله کې د نړۍ پر سطحه د امن منځته راتګ، د ظلم پای ته رسول او د اسلام په لارښوونه او قیادت سره د نړیوالو د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو حقوقو مساوات دی. مخکې زیاتوي، اسلامي حکومت یو نړیوال حکومت دی او په همدې حیثیت سره نړیوالې اړیکې را منځته کوي، خو د تړونونو په ترسره کېدو سره له خپلې اصلي موخې کله هم نه په شا کېږي.(۲: ۴۹۲مخ)

په همدې اساس لازمه ګڼم چې د بحث د جالبوالي او د موضوع د روښانتیا لپاره د اسلامي حکومت یو شمېر مهم سیاسي تړونونه چې د رسول صلی الله علیه وسلم له لوري نورو سره ترسره شوي، په لنډ ډول وڅېړم.

### الف: د وروروليۍ تړون

د هجرت پنځمه میاشت وه، رسول صلی الله علیه وسلم د اسلامي قومیت ، دیني وروروليۍ او په ټوله کې د اسلامي حکومت د ټینګېدلو او د مهاجرینو د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو لپاره یو بې سارې مثبت ګام پورته کړ، چې هغه د انصارو او مهاجرینو ترمنځ د وروروليۍ د تړون د سند لیکل و. مولانا ګوهر رحمان لیکي، دغه تړون د دې لپاره و، چې انصار او مهاجرین به یو له بل سره د دیت په ورکړه کې کمک کوي. یو د بل د بندیانو فدیه به ورکوي او د مسلمانانو د اصلاح او سمون په لاره کې به کوښښونه کوي.(۹: ۱۷۷مخ)

عبدالکریم محب وایي، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم په مدینه کې ډاډ ترلاسه کړ، نو ویې غوښتل چې د خپلې سیاسي پالیسۍ او د اسلامي حکومت د دوهمې اساسنامې(د مسلمانانو ترمنځ اړیکې) له مخې د مهاجرو او انصارو ترمنځ د لا محبت او صمیمیت د پیداکولو په موخه د دوی ترمنځ وروروګلوي رامنځته کړي. لیکي، له دغې کړنې یې موخه دا وه چې د مهاجرینو له زړونو څخه د مسافرۍ او پردېسۍ خفګان له منځه یوسي او هم د یو بل لپاره د ملاتړ سبب شي. مخکې وایي، د انس بن مالک (رض) په کور کې یوه ورځ (۹۰) تنه مسلمانان چې نیم یې انصار او نیم مهاجرین وو، راټول شوي وو، رسول صلی الله علیه وسلم ټولو ته وویل چې دوه – دوه تنه یو تربله وروروليۍ ټینګه کړئ او هم یې لومړۍ له ټولو مخکې د علي (رض) لاس ونیو، ویې ویل: دا زما ورور دی. زیاتوي، وروسته مهاجر د انصاري او انصاري د مهاجر لاس سره ونیوه او داسې غښتلې وروروليۍ رامنځته شوه چې بیا یې یو بل د میراث په حق کې هم شریک کړل، خو د بدر له غزا وروسته کله چې د ذوي الارحامو په حق کې د میراث د نه ورکړې مبارک آیت نازل شو، د میراث

مسأله ختمه شوه او د وروروليـ موضوع په خپل ځای د پخوا په څېر دوام درلود.(۱۲: ۱۴۵ - ۱۴۲مخونه)
اسعد ګیلاني په خپل اثر کې لیکلي: رسول صلی الله علیه وسلم د اسلامي وروروليـ تړون د ستونزو د هوارۍ یوائینی حل باله، نو ځکه یې په ډېر حکمت، بصیرت او سیاست سره ټول بې کوره او بې سرپناه مهاجرین د انصارو په کورونو کې په یوه ورځ ځای پر ځای کړل او دغه لومړنۍ ستونزه یې په ښه ډول سره حل کړه. زیاتوي، د تړون د ترسره کېدو بل مهم راز دا و چې انصار او مهاجرین په کم وخت کې د یو بل په خوی او عادت خبر شول. وړاندې لیکي، رسول صلی الله علیه وسلم د دې تړون په واسطه د هغوی سیاسي، اقتصادي او رواني ټول مسایل حل کړل. دواړه خواوې یې سره ورونه وګرځول.
دغه راز د دې غوره تړون د ترسره کېدو په پایله کې مهاجرینو ته د سوداګرۍ زمینه برابره شوه، چې له مخې یې اقتصادي حالت ښه شو او هم یې د دې پالیسۍ له مخې مسلمانان په بازار مسلط کړل او د یهودو له لاسه یې هغه سوداګري ووښسته چې له دې مخکې یې په لاس او اجاره کې وه.(۱۰: ۴۰۰ - ۴۰۱مخونه)
شریف رحماني لیکي، دغه د وروروليـ تړون چې د مهاجرینو د اقتصادي حالت د ښه کېدو لپاره و، تر دې کچې د شرایطو مطابق او ښکلی و، چې پایله کې د مدینې انصارو، رسول صلی الله علیه وسلم ته وړاندیز وکړ چې زموږ حاصل خیزې ځمکې دې هم د مهاجرینو ترمنځ ووېشل شي، خو رسول صلی الله علیه وسلم دغه وړاندیز په دې سبب قبول نه کړ، چې په انصارو به فشار راشي. ویې ویل: دومره بار مې په تاسو نه لوربږي، خو کولای شئ چې خپلې ځمکې د کرکېلې په خاطر خپلو مهاجرو ورونو ته ورکړئ، هغوی به یې وکري او حاصل به یې بیا سره ووېشئ. دغه امر په ډېرې خوښۍ د انصارو له لوري ومنل شو.(۴: ۱۵۴مخ)
اکبر شاه آبادي لیکي، د دغه دیني تړون په پایله کې د انصارو له مهاجرینو سره دیني وروروليـ وشوه، هر یو د بل ورور وګرځېد، او د وروروليـ ژمنه بیا د مدینې انصارو په دومره احتیاط او اخلاص سره سرته رسوله، چې په تاریخ کې یې ساری نه شي موندل کېدلای. مخکې لیکي، انصارو بې دریغه خپل ځینې مالونه او اسباب مهاجرینو ته وسپارل، تر دې پورې، که کوم انصاري دوهمه مېرمنه درلوده، د مهاجر ورور د زړه ساتلو لپاره یې ورته طلاق ورکوه او هغه ته یې په نکاح کوله.(۱: ۱۰۷مخ)
له شک پرته نن ورځ هم ټول مسلمانان دغه ډول تړون ته اړتیا لري،که چېرې مسلمه ا مت د خپل لارښود صلی الله علیه وسلم دغه د وروروليـ تړون په دقت سره ولولي او ځان پرې پوه کړي، یقیناً چې د هرې ستونزې کیلي ده. په دې تړون کې رسول صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته ښوولې چې د بریالیتوب او پرمختګ راز مو په یووالي کې دی. همغږي، یو د بل پر وړاندې نرم دریځ او یو بل سره همکاري مو د هر رنګ دښمن پر وړاندې کلک دروي او هېڅ ځواک نه شي کولای چې د سیاست په ډګر کې مو بیا له ماتې سره مخ کړي.

### ب: د مدینې له یهودو سره تړون

کله چې رسول صلی الله علیه وسلم د اسلامي حکومت په پیل کې د خپل سیاسي بصیرت له مخې د مسلمانانو یوه ستره ستونزه (د مهاجرینو د آبادۍ او انصارو سره یې

یووالی) په ښه شان سره حل کړه، وروسته یې وپتېیله چې د مدینې له یهودو سره هم د قرآن په رڼا کې داسې یوه هوکړه وکړي، چې له مخې یې امن او سکون رامنځته شي.

په دې اړه لیکوال منصور احمد را نقلوي چې رسول صلی الله علیه وسلم د دې ستونزې حل په قرآن کې ولټوه، چې اوس ورته د مدینې میثاق یا مقررات وایي. لیکي، دغه تړون چې د مسلمانانو او د یهودو ترمنځ د هجرت په لومړي کال د امن او ډاډمنې فضا د رامنځته کېدو لپاره ترسره شو، ټولې شاوخوا(۴۷ )مادې یې درلودې. وړاندې لیکي، د تړون لومړۍ ماده په دې بناء وه چې مسلمانان او کفار دوه جلا ډلې دي او له دوهمې نیولې، تر یوولسمې مې مادې ښوولې، چې هره قبیله او کورنۍ به د خپلو طریقو او عنعناتو له مخې د دیت معاملات پر مخ وړي او سرغړونه به ترې نه کوي.(۱۳: ۸۵مخ)

حامد انصاري لیکي: تړون د ډېرو مادو درلودونکی و، چې یو شمېر مهمې یې دادي: د وژل شوي د وینې قیمت به پر ځای وي او دواړه ډلې به په دې اړه د عدالت اصل ته ژمن وي. که کوم مسلمان امن مات کړ، نور مسلمانان به په ګډه سزا ورکوي. مسلمان به د مسلمان په مقابل کې د کافر مرسته نه کوي، بلکې د جګړې په صورت کې به له مرستې نه کار اخلي، دا ځکه چې دا سوله شریکه ده. د اختلاف په صورت کې رسول صلی الله علیه وسلم دواړو لورو ته د حکم حیثیت لري. مسلمانان د مذهب په چارو کې خپلواک دي او کوم یهود چې تړون ته متحد پاتې شي، هغوی هم د مذهبي آزادۍ حق لري. د روا معاملې په صورت کې دواړه لوري به د یو بل خیر خواه او مرستندوی وي. مدینه منوره دواړو لورو ته د امن ښار دی، دلته وژنه او فساد حرام دی او بهرنی مسافر د خدای جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم په پناه کې دی. بهرنۍ اړیکې یوازې د رسول صلی الله علیه وسلم په خوښه د قایمېدو وړ دي. د جانبینو له لوري درېیم لوري سره سوله د اعتبار وړ ده او مذهبي جګړه له دې نه مستثنی ده.(۲: ۵۰۲ – ۵۰۳ مخونه)

دغه راز ټول مسلمانان یوه ټولنه او یو قوم ګڼل کېږي. د قرضدارانو او تنګ لاسو خلکو به په ښه ډول لاسنیوی کېږي. که ادنی مؤمن هم چاته پناه ورکړي، هغه به د ټولو پناه ګڼل کېږي. د مسلمان په قتل سره به قصاص وي، که د مقتول وارثانو دیت غوښت، نو دیت به ورکول کېږي. دواړه لوري به په خپلو دینونو عمل کوي. د مجرمانو د سزا په صورت کې به هېڅ ډول خنډونه نه رامنځته کېږي. هره ډله به د خپلې سیمې د ساتنې او دفاع مسؤولیت په غاړه لري.(۹ : ۱۸۰ – ۱۸۱مخونه)

منصور احمد خپل کتاب کې راوړي، د ۱۴ مې، ۱۵ مې او ۱۹مې مادې اړوند که یو مسلمان یو کافر ووژني؛ مسلمان به یې پر ځای نه وژل کېږي او په ګډه به مسلمانان کافرانو ته دیت ورکوي. مخکې لیکي، په ۱۲، ۲۱، ۲۲، ۴۰ او۴۷ مې مادو کې په دواړو لورو لازمه شوې وه چې دوی به بهرني مجرم ته پناه نه شي ورکولای. بیا وړاندې وایي چې د ۲۴ نه تر ۳۵ مې مادې پورې د دوی ترمنځ مذهبي او دیني آزادي وه، خو په ۳۲ او ۳۸ مې مادو کې په یهودانو دا مقررات او حدود لازم و، چې دوی به په هر ډول حالاتو او ستونزو کې مسلمانانو سره همکاري او مرسته کوي لکه د بېلګې په توګه په مشترک ډول د مدینې د خلکو دفاع او په ځینو حالاتو

کې د جنګي لګښتونو برخه ورکول.(۱۳: ۸۲مخ)
عبدالرحمان عثماني بیا دغه تړون په مدینه منوره کې د اسلامي حکومت له رامنځته کېدو څخه وروسته درېیم ستر اقدام بولي، وایي: وروسته له دې چې رسول صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې د مسلمانانو ترمنځ یووالی د ورورولئ د تړون پر اساس رامنځته کړ، بیا وروسته په دې هڅه کې شو چې خپلې سیاسي اړیکې له غیر مسلمانانو(یهودو) سره هم ورغوي. زیاتوي، نو؛ د یو تړون په ترسره کېدلو سره یې هغوی په خپل دین پرېښودل، اختیار یې ورکړ او د هغوی دین او مال یې محترم وشمېرل. لیکي، یهودو له یوې خوا نه غوښتل چې د اسلام دین ومني او له بل لوري یې مسلمانانو سره هغه مهال جنګ نه غوښت، نو ځکه یې مسلمانانو سره د سولې او پخلاینې لار ونیوله.(۷: ۳۲مخ)
صفی الرحمان مبارکپوري په خپل اثر«الرحیق المختوم» کې د دې تړون د ترسره کېدو په اړه لیکلي، دا چې یهودان د مدینې نږدې ګاونډیان وو، په ټوله کې یې مسلمانانو سره کلکه دښمني او کرکه درلودله، خو دا چې تر دې دمه یې ښکاره مخالفت نه وکړی، نو؛ رسول صلی الله علیه وسلم ورسره یاد تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې یهودانو ته په دیني او اقتصادي چارو کې پوره خپلواکي ورکړل شوه.(۱۱: ۲۷۲مخ)
د تړون له ترسره کېدلو څخه وروسته دغه مقررات او حدود په ټوله معنا پلي شول او مدینه منوره د اسلامي ریاست په نوم ونومول شوه. مولانا منصور احمد لیکي، رسول صلی الله علیه وسلم په دې کمه موده کې د خپل سیاسي بصیرت، پوهې او ځیرکتیا له مخې وکولای شول چې د دین درېیمه اساسنامه (نورو سره د امت اړیکې) هم پیاده کړي. د اسلامي حکومت په رڼا کې یوه اسلامي ټولنه او یو اسلامي ریاست رامنځ ته کړي.(۱۳: ۸۷مخ)
پورته بحث ته په کتو ویلای شو چې سیاست کله هم له دین څخه جلا نه دی او دواړه سره نږدې اړیکې لري. دا چې رسول صلی الله علیه وسلم د اسلامي حکومت بنسټګر دی او دین یې موږ ته په ښه شان را رسولای، نوثابته شوه چې څنګه سالم سیاست یې کړی؟ د سیاست ثمره یې وه چې له تړون وروسته یې مسلمانان د نورو قبایلو له تېریو وژغورل. حکمت او پوهه یې وه چې د ګڼو دښمنانو په منځ کې یې د مرکزي غښتلي نظام د بنسټ ډبره کېښوده. تدبر یې و چې په مدینه منوره کې یې د ټولو هراړخیزو شخړو واک په خپل لاس کې واخیست او اسلامي ریاست ته یې انتقال کړ، نو هغه افراد چې دین له سیاست څخه جلا ګڼي او یا اسلامي نظام ستونزو ته د رسیدګۍ جوګه نه بولي، هغوی ته دا څرګند درس دی چې اسلام یو کامل او پوره دین دی او کولای شي چې ټول مسایل او قضایاوې په ښه شکل سره حل کړي، خو دا چې ستونزې دي، دا د دین نه، بلکې د اوسنیو مسلمانانو خپله نیمګړتیا ده. دغه راز یاد تړون موږ ته را ښایي چې اسلامي نظام پراخه سینه لري، هغه چا سره هم تعامل کوي چې ښکاره یې کرکه او دښمني نه وي څرګنده کړي او مسلمانانو سره یې د حسد او کینې نه کار نه وي اخیستی. همدارنګه له تړون څخه ثابتیږي چې مسلمان فرد باید کمزوری نه وي، بلکې د هر رنګ قضایاو د تحلیل او ارزیابۍ قوه ولري. خپلې ګټې او په ټوله کې د مسلمانانو ګټې خوندي کړي او په دې لاره کې په ډېرې هوښیارۍ او سیاسي پوهې سره ګامونه پورته کړي.

نور په بله ګڼه کې

# په اسلام کې د فطري حقوقو معنا او مفهوم

لیکوونکی: محمد صالح عثیمین
ژباړونکی: حضرت ګل حسامي

بیشکه چې ثنا او صفت د الله تعالی جل جلاله پورې اختصاص لري. دده له ستر ذات ځینې مرسته غواړو او د ده لوري ته له توبې سره را ګرځو او له ده څخه د خپل نفس له شرارت او اعمالو له بدیو ځینې پناه غواړو، هغه چاته چې څښتن تعالی جل جلاله هدایت وکړي هیڅوک یې بې لارې کولای نه شي او هغه څوک چې یې بې لارې کړ، هیڅوک نشي کولای هغه ته هدایت وکړي او شاهدي ورکوم چې الله تعالی جل جلاله یو دی، شریک اوسیال نه لري اوشاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه و سلم دده بنده او استازی دی او دده پر آل ، اصحابو او پیروانو دې خورا ډېر درود وي. د الهي شریعت له ځینو ښېګڼو او امتیازاتو څخه عدالت مراعاتول او له افراط او تفریط پرته د هغه خاوند ته حق سپارل دي ، الله تعالی جل جلاله د عدل او انصاف په کولو امر کړی او د خپلوانو د حقوقو پر اداء کولو یې ټینګار کړی دی، ځکه د عدالت د تآمین او تعمیم لپاره پیغمبران علیهم السلام را استول شوي ، اسماني کتابونه نازل شوي او د هغوی پراساس او مبنا د دنیا او آخرت چارې ټینګې شوې دي.

د عدالت پر ښو درول ، حق حقدار ته رسول او د هر چا مقام او منزلت په خپل ځای کې پېژندل هغه مهال میسر او تر لاسه کیږي، چې دا حقوق وپېژندل شي او اهل ته یې وسپارل شي له همدې کبله مونږ دا سریزه ولیکله او ددې حقوقو پر پېژندلو مو لاس پورې کړ، چې هر بنده یې و پېژني او تر څو چې کولای شي او توان لري پر ځای یې کړي، ددې حقوقو لنډیز عبارت دی له:

۱. د الله تعالی جل جلاله حقوق
۲. د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم حقوق
۳- د مور او پلار حقوق
۴- د اولادونو ( لور او زوی) حقوق.
۵- د خپلوانو او نږدې کسانو حقوق.
۶. د یو بل په ذمه د میړه او میرمنې حقوق.
۷- د مسلمانو چارواکیو ، لاربښوونکو او رعیت حقوق.
۸ . د ګاونډي حقوق.
۹. د عامو مسلمانانو حقوق.
۱۰- د غیر مسلمانانو حقوق.

ددې حقوقو په هکله په لنډیز سره ګړیږو.

لومړی حق: د الله جل جلاله حقوق:

دا حق له خورا مهمو او سترو حقوقو څخه ګڼل کیږي او پر هغه عمل د هر مسلمان په ذمه فرض دی، ځکه دا الله تعالی جل جلاله دی، چې د ټولو چاروخالق ،هستوونکی، مالک او تدبیر کوونکی دی دده د ستر ذات په حکم آسمانونه او ځمکه ولاړه ده او هر څیز یې د خپل حکمت مطابق پیدا کړی او له نیستۍ څخه یې هست کړي دی او انسان ته یې د مور په ګېډه کې روزي رسولې ده پداسې حال کې چې په دریو تیارو کې یې موقعیت درلود او هیڅ مخلوق و نه شول کولای، ده ته خواړه ورسوي او دده روزنه وکړي او ژوند ورته وبخښي. د مور دوه تیونه یې له شیدو ډک کړل او د خیر او شر لاره یې ورته وښووله، مور او پلاره یې د ده چوپړ اوپرستارۍ ته وګمارل او ده ته یې عقل او پوهه ور وبخښله او له هغو

څخه يې د قبلونې او ګټه اخيستنې زمينه برابره کړه.
ژباړه: «او الله جل جلاله راوېستی. تاسې د خپلو میندو له نسو، حال دا چې نه پوهيدئ په هيڅ شي (له خير او شره) او پيدا کړي يې دي تاسې ته غوږونه ، سترګې او زړونه (نور حواس او نور اسباب) ددې لپاره چې شکر وکړئ (په دغو نعمتونو باندې) » ( د نحل سورت۸۷آيت)
که چېرې له بنده څخه د الله جل جلاله لطف او مرحمت واخيستل شي که يوه شېبه هم وي، هلاک او له منځه ځي او ژوند ورته امکان نلري، کله چې دده دا فضل او رحمت ستا په حق کې بخښل شوی دی، نو ستا په غاړه د څښتن تعالی جل جلاله حق له سترو حقوقو څخه ګڼل کېږي، ځکه دې حق تاسې له نيستی. (عدم) څخه وجود ته راوړي ياست، چمتو کړي يې ياست ، مرسته يې درسره کړې او له تا څخه رزق او روزي نه غواړي، لکه څنګه چې الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي: ژباړه: «نه غواړوله تا څخه روزي (نه له تا نه اوستا د اهل ځيني،بلکې موږدرکووتاته) اوښه خاتمه ده د پرهيزګاری. خاوندانوته»( د طه سورت ۱۳۲- آيت)
خوله تا څخه يوشی غواړي اوهغه غوښتنه ستا په خيراوښېګڼه ده اوهغه عبارت له دې څخه ده چې يوازې دهغه عبادت او لمانځنه وکړې.
الله جل جلاله فرمايي: ژباړه: «او نه مې دي پيدا کړي پيريان او انسانان، مګر ددې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي او اراده نلرم له دوي څخه د هيڅ رزق او روزي (مالره او خپلو ځانوته) اواراده نه لري ددې چې طعام را کړي مالره (او خپلو ځانوته) بيشکه الله ښه رزق اوروزي ورکوونکی هم دی. څښتن دی د محکم مضبوط قوت»
(د ذاريات سورت(۵۶-۵۷-۵۸) آيتونه)

له تا څخه غواړي چې په تمامه معنا د ده خالص بنده واوسې لکه هماغسې چې هغه په خپلو بشپړو او صافو ستا رب او خالق دی. متواضع او خاکساره بنده واوسې، اوامر يې پر ځای او له منهياتو يې ځان وژغورې ، د هغه د قول تصديق و کړې ځکه د څښتن تعالی جل جلاله نعمتونه له هرې خوا په تا را وريږي آيا نه شرميږې چې دا نعمتونه د نعمت په کفران تبديلوې. که څوک ستا په حق کې فضل او احسان وکړي آيا ته حيا نه کوې چې د هغه د قول تصديق و کړې ځکه د څښتن تعالی جل جلاله نعمت په کفران تبديلوې؟
که څوک ستا په حق کې فضل او احسان وکړي آيا ته حيا نه کوې چې د هغه په وړاندې د ګناه مرتکب شې او په مخالفت يې را پاڅيږې؟ نو د خپل الله تعالی جل جلاله پر وړاندې ستا مخالفت او نافرماني چې خپلې ټولې مهربانی. ، مرحمت او الطاف يې ستا په حق کې عطا کړی دی او له بدی. څخه د ځان ژغورلو وسايل يې درته مهيا کړي دي څه معنا او مفهوم لري ؟ لکه هماغسې چې الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي:
ژباړه: «و هر هغه چې تاسې سره دي له (کوم قسم) نعمت نو (د) الله له (طرف) دي بياکله چې ورسيږي تاسې ته ضرر، نو خاص همدغه (الله) ته فرياد او زاري کوئ» ( نحل سورت ۵۳-آيت)
دا حق چې الله تعالی جل جلاله د خپل ځان لپاره اختصاص کړی دی که چيرې څښتن تعالی جل جلاله و غواړي اداء کول يې د بنده له لوري آسان دي او کومه ستونزه او سختي شتون نه لري، لکه څرنګه چې الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي:
ژباړه: « او زيار وکاږئ په ( لاره د جهاد) او رضا د (الله) په حق د جهاد د هغه سره چې ورته وړ او لايق دی. د غه الله غوره کړي يې تاسې او نه يې دی ګرځولی(نه يې دی ايښی) پر تاسې په دين کې هيڅ ( مشقت) (متابعت

وکړئ د ) خپل پلار د دین چې ابراهیم دی، دغه الله ونومولئ تاسې مسلمان پخوا( له دغه قران څخه په نورو آسماني کتابونو کې) او په دغه ( قرآن) کې (هم) ددې لپاره چې (ستاسې) رسول (محمد) شاهد شي په تاسې (د خپل تبلیغ) او چې شئ تاسې ( ای مسلمانانو) شاهدان په نورو خلکو ( د نورو انبیاوود تبلیغ ) نو قایموئ لمونځ او ورکوئ زکوة او ښه و نیسئ (د) الله (دین) د غه الله ستاسې مالک دی، پس ښه مالک دی ( الله) او ښه مرسته کوونکی دی ( الله) (د حج سورت -۷۸-آیت)

او دا یوه بیلگه ییزه او بې مثاله عقیده ده او په حق ایمان گڼل کیږي او غوره او ښه عمل دی او اساس او مبنا یې محبت او لمانځنه تشکیلوي او حاصل او بریا یې : په یوه شپه او ورځ کې په پنځه گونو لمونځونو کې اخلاص دی چې الله تعالی جل جلاله ددې لمونځونو په اداء کولو کې گناوې او خطاوې بخښي ، د لمونځ کوونکي مقام او منزلت لوړوي ، زړونو ته صفایې او ځلا ور کوي ، حال احول ښه کوي او بنده د خپل توان په اندازه هغه عبادتونه په ځاي کوي.

الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي: ژباړه: « نو وویریږئ له الله څومره چې توا نیږئ » (د تغابن سورت -۱۴آیت)

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم، عمران بن حصین ته چې ناجوړه ؤ وفرمایل : (( په ولاړه لمونځ و کړه، که په ولاړه یې کولای نه شې، کښېنه لمونځ وکړه او که بیا هم توان نه لرې په اړخ پریوزه لمونځ وکړه (بخاري اونورو روایت کړی دی).

## زکوة:

زکوة، د شتمنیو او مال یوه کوچنۍ برخه تشکیلوي چې هغه د مسلمانانو د ژوندانه د ښه کولو په لار کې چې فقیر ، مسکین ، مجاهد او پوروړی ( مدیون) او نور چې د زکوة د اخیستلو اهل دي لگوي چې اړمن ( محتاج) ته گټه رسوي او د مال خاوند ته ضرر نه رسیږي.

## د مبارک رمضان د میاشتې روژه:

الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي: ژباړه : «او هغه څوک چې ناروغ او یا په سفر روان دی، نو (پر ده باندې روژه نیول دي ) له نورو ورځو ( د خوړلیو شویو ورځو) په شمار». (د بقره سورت -۱۸۵- سورت)

او که څوک روژه نه شي نیولای او تل لپاره ناتوانه دی هره ورځ دې یو مسکین ته خواړه ورکړي.

## حج:

د خانه کعبه حج په عمرکې یوځل د توانمند شخص لپاره فرض دی، دادې د الله تعالی جل جلاله د حق او د څښتن تعالی جل جلاله د نورو حقوقو اصول او مباني چې د حوادثو او وقایعو په حالت کې لازمیږي لکه د خدای جل جلاله په لار کې جهاد، له مظلوم سره مرسته، گرانه وروره وگوره چې دا مرسته یوه بسیطه چاره ده، خو زیاته اجوره لري کوم وخت چې ته دهغه د اداءکولو لپاره گام پورته کړې په دنیا او اخرت کې نیکمرغه یې د دوزخ له اورڅخه خلاصون مومې جنت ته ننوځې .

الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي : ژباړه « نو هر څوک چې (د دوزخ ) له اوره لیرې کړی شو او داخل کړای شو، جنت ته، نو په تحقیق مراد یې وموند (بریالی شو) او نه دی دنیوي ژوند مگر د غولیدلو پنگه ( چې نفعه یې لږه او فنایې ژر ده» ( د آل عمران سورت ۱۸۵-آیت)

دوهم حق: د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم حقوق

د رسـول کريـم صلـی الله عليـه وسـلم حق لـه خـورا سـترو حقوقـو څخـه ګڼـل کيـږي چـې مخلـوق تـه ورکـړل شـوي دي او د مخلـوق هيـڅ حقـوق دې حـق تـه نـه رسـيږي لکـه هماغسـې چـې الله جـل جلالـه فرمايلـي دي:

ژباړه: « بيشـکه مونږ لېږلـی يـې تـه (ای محمـده!) شـاهد ، زيـری ورکوونکـی او ويـروونکـی ای مسـلمانانو ددې لپـاره چـې ايمـان راوړئ پـه الله! او د الله پـه رسـول او مـدد وکـړئ د هغـه د ديـن او تعظيـم و کـړئ» ( د فتـح سـورت-۸-۹-آيتونه)

لـه دې امله بايـد د څښـتن تعالـی جـل جلالـه د رسـول صلـی الله عليـه وسـلم دوسـتي او محبـت د ټولـو خلکـو پـه دوسـتۍ او محبـت لومـړی و ګڼـو او حتـی دده محبـت پرخپـل ځـان، اولاد او پـلار بانـدې لـوړ وبولـو، لکـه چـې رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم فرمايلـي دي :

ژباړه: ((لـه تاسـې څخـه هيڅـا تـه مؤمـن نـه شـي ويـل کيـدای مګـر دا چـې مـا لـه خپـل اولاد ، لـه خپـل پـلار او ټولـو خلکـو څخـه دوسـت وګڼـي)) (د بخـاري او مسـلم روايـت)

د پيغمبـر اکـرم صلـی الله عليـه وسـلم لـه حقوقـو يوهـم د افـراط او تفريـط لـه چوکاټ څخـه بهرپـه هغـه کچـه کـې چـې دهغـه وړدی د ده قدردانـي ، احتـرام اولمانځنـه ده، لـه رسـول کريـم ځينـې قدردانـي دده د ژوندانـه پـه زمانـه کـې د ده لـه سـنتو څخـه قدردانـي او دده د مبارک ذات احتـرام او درنـاوي او لـه رحلـت ځينـې وروسـته يـې احتـرام او قدردانـي دده د سـنتو درنـاوی او پـر هغـه عمـل کـول او د شـرعې احکامـو پرځـای کـول دي .کلـه چـې انسـان ووينـي چـې اصحابـو د خپـل لاربښـود پـه تعظيـم کـې کومـه لاره چـاره خپلـه کـړې وه، نـو پـوه بـه شـي د صحابـه کرامـو بـا فضيلتـه لويانـو پـه ښـه شـان درک کـړې وه چـې لـه خپـل پيغمبرصلـی الله عليـه وسـلم څخـه څرنګـه تعظيـم تـر سـره کـړي .

کلـه چـې عـروه بـن مسـعود د حديبـې پـه سـوله کـې د قريشـو پـه اسـتازيتوب لـه پيغمبـر صلـی الله عليـه وسـلم سـره د مذاکـرې وروسـته خپـل قـوم تـه واسـتول شـو هغـو تـه يـې وويـل : مـا د فـارس، قيصـر او نجاشـي لـه پاچاهانـو سـره وليـدل او پـه دې ليدنـو کتنـو کـې مـې داسـې څـوک و نـه ليـده، چـې مشـر تـه يـې د محمـد د يارانـو پـه څيـر تعظيـم او احتـرام کـړی وي، کلـه چـې محمـد صلـی الله عليـه وسـلم امـر او دسـتور صادراوه دهغـه د ا جـرا ء کولـو لپـاره يـې يـاران يولـه بـل څخـه مخکـې کيـدل او کلـه چـې يـې اودس کاوه د هغـه د اوداسـه د اوبـو د اخيسـتلو لپـاره لـه يـو بـل څخـه مخکـې کيـدل او کلـه يـې چـې خبـرې کولـې د هغـه پـه تعظيـم ټولـو خپـل آواز د رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم پـه محضـر کـې ټيټـاوه او دده پـه لـوري يـې د احتـرام او تعظيـم لپـاره پـه تيـز نظـر نـه کتـل ( مختصر سيرة الرسـول تاليـف شـيخ عبدالله بـن شـيخ محمـد ابـن عبدالوهـاب، ص ۳۰۰)

کـه څـه هـم رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم عالـي او ارزښـتناکه اخـلاق درلـودل او دده پـه ختـه کـې اغـړل شـوې ؤ، مشـفق او مهربـان ؤ، تنـد خويـی يـې نـه پيـژندلـه او کـه چـېرې يـې تيـز اوتنـد خـوی درلـودای د ده لـه شـاوخوا څخـه ليـرې کيـدل او دهغـه حقوقـو لـه جملـې ځينـې چـې د الله جـل جلالـه رسـول صلـی الله عليـه وسـلم يـې پـر خپـل امـت لـري دادي چـې : بايـد دده د قـول تصديـق ، هغـه مهـال چـې د تيـرو او راتلونکـو چـارو څخـه خبرورکـوي وکـړي او اوامـر يـې پرځـای کـړي او لـه منهياتـو ځينـې يـې ځـان وژغـوري او پـر دې مؤمـن او معتقـد شـي چـې د پيغمبـر صلـي الله عليـه وسـلم رهبـري خـورا غـوره رهبـري او شـريعت يـې خـورا

بشپړ شریعت دی او دده د شریعت په وړاندې هیڅ قانون او نظام که مصدریې هر څه وي مقدم ونه شمیري لکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي:

ژباړه ((پس قسم دی په رب ستا، چې تر هغه یورې نه مؤمنان کېږي: (دا منافقان) چې تا په هغه جګړه کې چې د دوی په منځ کې پېښه شوې ده، حکم( منصف)کړي بیا پخپلو نفسونو(زړونو)کې خپګان ( تنګي، ناراضي ) ونه مومي له هغه شي چې حکم (فیصله) کړې وه ، تا او ( بې له جګړې) په خوښۍ سره یې و مني )) (د النسا سورت – ۲۵ –آیت )

یو بل حق چې ر سول اکرم صلی الله علیه وسلم یې د خپل امت په ذمه لري هغه دده له شریعت او سنت څخه د فاع ده تر څو انسان د خپل توان تر حده له هغه څخه په دفاع لاس پورې کړي او که چیرې دښمن سوړ جنګ په لاره اچوي او شبهه تولیدوي، باید پر وړاندې یې د پوهې له وسلې څخه استفاده و شي او شبهات یې دفع او رد شي اود فساد پروړاندې برهان اقامه شي اوکه دښمن له تودې وسلې ځینې استفاده و کړي اوپر مسلمانانو بلوسي باید بالمثل دفاع وشي، هیڅ کوم مسلمان دا حق نه لري کله چې اوري یو شخص محمدي شرع یا د دوي شریف وجود تر اعتراض لاندې نیسي چوپ پاتې شي او د خپل توان تر حده دفاع ونه کړي.

## دریم حق : د مور او پلار حقوق :

داسې څوک نه پیداکیږي چې د او لادونو پر ذمه د مور او پلار له حقوقو ځینې منکر شي . مور او پلار د اولاد د وجود وسیله ده او د خپل اولاد په غاړه ثابت اوستر حق لري،د ده پالنه یې کړې او د ده د راحت اوهوساینې لپاره یې کړاو اوعذاب لېدلی او د دې لپاره چې اولاد ویده ( بیده) شي پخپله ویښ اوشوګیرې کړې دی، ته دې مور په خپله ګیده کې واخیستلې او تا دې د خپلې مور روغتیا او غذا کمه کړه او په غالب ډول یې ته په خپله ګیډه کې نهه میاشتې وساتلې لکه هماغسې چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي.

ژباړه: « څکه چې په نس کې) ګرځاوه ده لره مور دده په سسستۍ سره له پاسه د بلې سسستۍ»
(د لقمان سورت –۱۴–آیت)

له دې پړوا وروسته له زیږیدونه بیا د حضانت او د ماشوم د روزنې او شیدې خوړلو ( تي ورکولو) نوبت رارسیږي چې له ځان سره دوه کاله زحمت او تکلیف لري. پلار دې هم ستا د هوساینې لپاره کړاو او عذاب و ګاله تر څو طاقت واخلې د عمر داسې پړاو ته ورسیږې چې وکولای شې په خپلو پښو ودریږې پلار دې ته وروزلې او لارښونه یې درته و کړه په داسې حال کې چې ته د ګټې او تاوان مالک نه وې له همدې کبله الله تعالی جل جلاله امر کړی دی چې باید له مور اوپلار سره نیکي وکړای شي. لکه الله تعالی جل جلاله چې فرمایلی دي:

ژباړه: ((او وصیت (امر) مو کړی دی انسان ته له مور او پلار خپل سره (په نیکۍ کولو څکه چې په نس کې ) ګر ځا وه ده لره مور دده په سستۍ سره له پاسه د بلې سستۍ او بیلول دده دي له تي څخه د دوو کلونو په (پوره کیدلو) کې ( او ورته مو ویلي دي داسې چې شکر کوه! ما ته او خپل مور او پلار ته خاص بیا ما ته دي ( ستاسو) راتله ( ای انسانانو!) (د لقمان سورت –۱۴–آیت)

او هم څښتن تعالی جل جلاله فرمایلي دي:

ژباړه ((له مور او پلار سره ښیګڼه وکړه که چیرې هرو مرو

ورسیږي تا څخه زوړوالي ته یوله دې دواړویا دواړه د دوی (موراوپلار) نومه وایه دې دواړوته (د) اف( کلمه هم ) او مه رټه دوی دواړه او وایه دواړو والدینو ته پسته ( ادبناکه) خبره.او ښکته کړه د دواړو (والدینو) لپاره له مهربانۍ څخه د تواضع وزر ( او وایه ای زما ربه مهرباني ) او بخښنه وکړه دې دواړو ته لکه چې زما روزنه یې کړیده په هغه حال کې چې زه کمکی وم)) (د اسراء سورت ، ۲۳-۲۴- آیتونه)

ستا پر ذمه د مور او پلار حق دادی چې له هغوی سره نیکي و کړې او دا ښیګڼه او نیکي په فعل او قول کې د احسان له لارې په مال او بدن سره چې ګناه او معصیت نه وي او تاته کوم ضرر نه متوجه کوي تر سره کیداي شي، په نرمه لهجه او پراخه تندړه او راڼه وچولي ور سره خبرې وکړه او دا رنګه خدمت یې وکړه چې وړیې دي او له هغوی څخه د زړښت ، ناروغتیا او ناتوانۍ پر مهال مخ مه اړوه او خدمت یې ستونزه مه بوله، ته به هم د هغوی ځای ته ورسیږې او پلار به شې لکه څرنګه چې هغوي مور او پلار ؤ اولادونو ته به که چیرې قضا او قدر تللی ؤ په زړ بوډۍ ورسیږي لکه هماغسې چې هغوي ستا تر وړاندې بوډاګان شول او ته به د خپلو اولادونو مرستې ته اړشې لکه څرنګه چې مور او پلار دې ستا د نیکۍ او د احسان محتاج شول، که ته د خپل مور او پلار خدمت کوې تاته دې د زیات ثواب او بالمثل معاملې زیری وي ، څوک چې له خپل مور او پلار سره نیکي وکړي ، اولادونه به یې ور سره نیکي وکړي اوکه له خپل پلار اومورسره اړیکه پرې کړي ،اولادونه به یې ورسره بالمثل مقابله وکړي او مجازات دعمل له جنس څخه ورکول کیږي، کله چې دې مجازات کړل، مجازات به شې الله تعالی جل جلاله

د مور او پلار حق په لوړه او ستره مرتبه کې درولی دی او د هغوی حق یې له خپل حق څخه وروسته بیان کړی دی او هغه یې په خپل حق او د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حق کې شا مل کړی لکه هماغسې چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي: ژباړه: «او عبادت کوئ د الله او مه شریکوئ له ده سره هیڅ شی او (نیکي کوئ) له مور او پلار سره په نیکي کولو)) (د نسا سورت -۳۶- آیت)

## او هم څښتن تعالی جل جلاله فرمایلي دي:

ژباړه: «او ورته مو ویلي دي داسې) چې شکر کوه ! ماته او خپل مور او پلار ته» ( د لقمان سورت -۱۴-آیت )

او پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د مور او پلار حق د خداي جل جلاله په لار کې پر جهاد مقدم ګڼلی دی لکه چې د ابن مسعود رضی الله عنه په حدیث کې راغلي دي : ومې پوښتل : ای نبي کریمه صلی الله علیه وسلم څښتن تعالی جل جلاله ته کوم عمل ډیر ګران دی؟ ویې فرمایل : پر خپل وخت د لمونځ ادا کول ، بیامې پوښتنه و کړه : له هغه وروسته کوم عمل غوره دی ؟ ویې فرمایل:له مور اوپلار سره نیکي، بیا مې وپوښتل له هغه نه وروسته کوم عمل غوره دی ؟ ویې فرمایل : د خدای تعالی جل جلاله په لاره کې جهاد)) (د بخاري او مسلم روایت)

د ا حدیث د مور او پلار د حق اهمیت ثابتوي چې نن ورځ هېر شوی دی او ډېری اولادونو د خپل مور او پلار سره اړیکه پرې کړې ده او صله رحمي یې تر پښو لاندې کړې ده او خپل مور او پلار ته په کوم حق قایل نه دي او ښایي سپکاوی یې وشي او خپل ځان پرې لوړ و بولي چې البته دارنګه و ګړي به وروسته او یا ژر د خپلو کړنو په جزا ورسیږي. پاتې په بله ګڼه کې

# له الله جل جلاله سره د حضرت عثمان رضی الله عنه سوداګري او تلپاتې ګټه آیا خبر یاست؟

ژباړه: حمدالله حلمیار

څوارلس سوه کاله وروسته هم په مدینه منوره کې دعثمان بن عفان رضی الله عنه په نامه ځمکې شته چې د الله جل جلاله لپاره وقف دي او د سعودي عربستان په بانکونوکې هم دعثمان بن عفان په نوم اکاونټ او حساب هم شته دي.

کیسه داسې وه چې د مسلمانانو له هجرت وروسته په مدینه منوره کې د ټولو لویو څاګانو اوبه مخ پرکمېدو شوې، خو یوه ډېره لویه څاه چې د بئر رومه په نوم مشهوره وه د اوبو د کموالي له زیان څخه خوندي وه، خو دا څاه د یوه یهودي ملکیت وو، چې د څاه هرګوټ (غوړپ) اوبه یې په بیه پلورلې عثمان بن عفان رضی الله عنه ورغی ترڅو له یهودي څخه دا څاه وپیري، خو یهودي د څاه پلورلو(خرڅولو) ته تیار نه شو.

بیا عثمان رضی الله عنه ورته د نیمې څاه د پیرلو وړاندیز وکړ چې په دې سره یهودی قانع شو او نیمه څاه یې وربانـدې وپلورلـه.

په دې ترتیب چې د څاه اوبه به یوه ورځ د یهودي او بله ورځ به د عثمان رضي الله عنه وي. یهودي ډېر خوښ وو، چې عثمان رضی الله عنه غوندې تکړه سوداګر ورسره شریک شو اوس به یې اوبه، نور هم ښه قیمت پیدا کړي، خو په دریمه ورځ ورته معلومه شوه چې دده پېرېدونکي (ګیراکان) ټول په هغه ورځ اوبو وړلو ته راځي په کومه ورځ چې د څاه وار(نوبت) دعثمان رضی الله عنه وي ځکه چې هغه خپلې اوبه د الله جل جلاله لپاره وقف کړې وې چې خلګو په وړیا توګه وړلې.

یهودی چې پوه شو، نو له عثمان رضی الله عنه نه یې وغوښتل ترڅو ټوله څاه وپیري او د ۲۰۰۰۰ زره درهمو په مقابل کې یې عثمان رضي الله عنه ته وسپارله او هغه هم ټولې اوبه د الله لپاره وقف کړې.

ویل کیږي چې یو وخت کوم صحابي وغوښتل چې دا څاه دهغه په دوه برابره قیمت له حضرت عثمان رضی الله عنه نه وپیري، خو عثمان رضی الله عنه ورته وویل چې نه تردې ګرانه یې له ما څخه غواړي.

صحابي ورته وویل درې برابره قیمت واخله

ویل نه تر دې هم ګرانه

څلور پنځه تر نهه برابره قیمت ورکولو پورې تیاروو،خو حضرت عثمان رضی الله عنه بیا هم ونه منله نو اخیستونکي ورته وویل چې تر دغه قیمت پورته به یې هیڅ څوک هم درنه وانخلي.

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمایل: ماته مې رب د نیکۍ لس برابره بدله راکوي آیا دا لږ څه دي؟

ددغې څاه شا وخواته کرار کرار باغونه کینول شول، په سلګونو ونې یې اوبه کولې او د حاصلاتو روپۍ یې پر یتیمانو او مسکینانو ویشل کیدې.

هر حکومت ددغه وقف خاص خیال وساته او عثماني دولت دغه وقف ته نوره هم پراختیا ورکړه په دغو روپیویې

نور جایدادونه او باغونه هم واخیستل اود هغه را په دیخوا د سعودي حکومت هم دغه وقف ته لا زیاته پراختیا ورکړه ویل کیږي تر اوسه تر ۱۵۰۰ سوه زیاتې د خرما ونې لري او د حاصلاتو نیمایي یې پر مسکینانو او یتیمانو ویشي او نوري نیمایي یې په سعودي بانک کې جمع کوي تر څو په نورو خیریه کارونو کې ورنه ګټه واخلي. د حضرت عثمان رضی الله عنه له وقف شویو مالونو څخه د زکات او صدقاتوله ورکولو سره سره په بانک کې دومره شتمني موجوده ده چې څه موده وړاندې یې د مدینې منورې په مرکزي او سنټرال ایریا کې د یوه لوی بلډینګ لپاره ځمکه وپیرله او یو لوی بلډینګ یې ورباندې جوړ کړ چې تقریبا د کال ۵۰ میلیونه ریاله عاید لري او عاید به یې پر بیوزله او یتیمانو ویشل کیږي د یادونې وړ ده چې په سعودي بانک کې د حضرت عثمان رضی الله عنه په نوم ډېره زیاته شتمني پرته ده او د تعجب ځای خو دادی چې دا ټوته ځمکه او ودانۍ په ښاروالۍ کې رسما د عثمان رضی الله عنه په نوم ثبت ده

سبحان الله، له الله جل جلاله سره تجارت څومره تلپاتې او همیشنۍ ګټې لري پوره څوارلس سوه کاله دغه تجارت دوام وکړ او لا جاري دی.

ځکه خو رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي وو چې: د هر نبي لپار په جنت کې یو خاص ملګری وي او زما د جنت ملګری عثمان دی.

## آفرین افغانه!

راشد کامران

افرین افغانه! د ویاړونو تاج په سر کړه
الله اکـــــبر کـــــړه، غږ د الله اکبر کړه
بیا دې له عظمت څخه ویده جهان خبر کړه
الله اکـــــــبر کړه، غږ د الله اکـــــبر کړه
عقل دې باچا، زړه دې ژوندی، فکر دې ځوان مدام
تم نه شې روان مدام، سپرلی دې ګلستان مدام
مینځ د ځمکې خیري کړه او ستورو ته کمند یوسه
والـــوځه فضا کـــې د اوبو تلـــې ته ژوند یوسه
واچــــوه مهار ورته، وختـــونه مـــــسخر کړه
الله اکـــــبر کـــــړه، غـــــږ د الله اکـــــبر کړه
نن ستـــــــر مجدد او محدث د دې پېړۍ ته یې
غــــــرقو ملــــتونو ته، د نوح نبي بېړۍ ته یې
ورک درنه د تللـــیو قافلو د قـــدم خاپ نه شي
ګـــــوره چې کړه در څخه تله د انصاف نه شي
خــــلاص د مادیت له بندګۍ څخه بــشر کړه
الله اکـــــبر کـــــړه، غږ د الله اکـــــبر کـــړه
تـــېر نه شي د نفس د نهنګ ژورې کومې ته
و نه لـــویږې، ګوره د قدرت د صیاد لومې ته
لــــــري د هوس له شرمښانو نه پستوکې کړه
مات د حب جاه په بلاګانو کـــــې هډوکې کړه
پرې د خـــــیانت له درندوو څخه ښــــکر کړه
الله اکــــــبر کــــړه، غـــــږ د الله اکـــبر کړه
کور دې له غنمو ډک او مینه دې سپېره مه شه
زړه دې د غـــــمونو په پـــــتري اره اره مه شـــه
څو پوري راشده! لمر، سپوږمۍ وي، شین اسمان ولاړ
صــــف ته د نـــړۍ دې وي امـــــام افغانستان ولاړ
خـــــښ د خاتمې غـــــشی فتنو ته په ټټر کـــړه
الله اکبر کړه، غږ د الله اکبر کړه

# د هېوادونو ترمنځ پولې

لیکنه: سیف الله ساعي د پوهنتون استاذ

## پر له پسې څلورمه برخه:

په مخکښنیو ګڼو کې مو د پولو اړوند ګڼ شمېر موضوعات او بېلا بېلې وېشنې وڅېړلې دلته به د هېوادونو ترمنځ د اوسنیو پولو اړوند ځینې نور مهم موضوعات تر بحث لاندې ونیسو:

## د پولو د شتون په اړه نظریات:

که چېرې لږ فکروکړو؛ نو دا به راته په ډاګه شي چې که موږ د بېلابېلو هېوادونو لپاره بېل بېل واکمنان ومنو؛ نو اړینه ده چې د هېوادونو ترمنځ پولې هم ومنو، ځکه د هر هېواد او سیمې واکمن به په خپله تر ولکې لاندې سیمه کې بېله واکمني او بشپړه ولکه غواړي او له یو بل سره به یې د ولکې لاندې سیمو پولې هم ټاکلې او معلومې وي، تر څو له ټکر او اختلافونو څخه خوندي او د خپل هېواد او سیمو چارو ته په پوره چمتووالي سره کار وکړی شي؛ نو له همدې کبله لومړی د څو واکمنانو په شتون خبره کوو چې دا مسله به لومړی د فقهاوو له نظره وڅېړو:

## د څو واکمنانو د شتون په اړه د علماوو نظریات:

که چېرې اسلامي فقه وکتل شي؛ نو و به لیدل شي چې په بېلابېلو هېوادونو او سیمو کې د څو خلیفه ګانو او واکمنانو د شتون په اړه فقهاء او علماء په یوه خوله نه دي، بلکې د هغوی ترمنځ اختلاف دی لومړی دا اختلاف تر دوو بېلابېلو حالتونو پورې تړلی دی:

الف: لومړی حالت دا دی چې د ټولو مسلمانانو لپاره یو دولت او یو حاکم وي، خو هغه پر سیمو بېل بېل واکمنان ټاکي او د اړتیا پر مهال یې لېرې کوي او ټولې سیمې د همغه یوه واکمن او خلیفه تر پیروۍ لاندې وي، په دې حالت کې ټول علماء په یوه خوله دي چې دا ډول د څو امیرانو شتون ستونزه نه لري او د خلافت راشده په زمانه کې هم همداسې وو.

ب: دوهم حالت دا دی چې بېل بېل مستقل دولتونه او بېل بېل واکمنان وي دا بیا دوه حالتونه لري:

١- لومړی حالت یې دا دی چې ټولو سیمو ته خلیفه او واکمن لاس رسی لري او د هغه استازي ټولې چارې په سمه توګه پر مخ وړلی شي، په دې حالت کې د علامه ماوردي په وینا اسلامي امت اجماع لري چې د څو واکمنانو شتون ناروا دی بلکې یوازې یو واکمن او خلیفه به وي.

٢- دوهم حالت یې دا دی چې ځینې سیمې د خلافت له مرکزه ډېرې لېرې پرتې وي او مرکزي حکومت هغو سیمو ته رسېدنه نه شي کولای او څوک نه وي چې د مرکزي حکومت سم استازیتوب وکړای شي په دغه حالت کې د علماوو تر منځ اختلاف دی.(١)

لکه څنګه چې په ارشیف اهل التفسیر نومي کتاب کې د شیخ شنقیطي وینا د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا په بېلابېلو سیمو کې دبېلو بېلو واکمنانو شتون روا دی او که نه؟ داسې وایي: چې په دې اړه له علماوو څخه درې ډوله ویناوې را نقل شوې دي:

### ١- د کرامیوو نظر:

د کرامیوو په اند په بېلابېلو سیمو کې د بېلوبېلو واکمنانو شتون مطلقا په هر حالت کې روا دی، که سیمې له مرکزي حکومت څخه لېرې وي او که نېږدې.

## ۲- د جمهورو علماوو نظر:

جمهور علماء په دې اند دي چې په ټوله نړۍ کې باید یو خلیفه او واکمن وي، په بېلابېلو هېوادونو کې د بېلو بېلو خپلواکو واکمنانو شتون جواز نه لري، بلکې په ټولو سیمو کې باید د مرکزي حکومت استازي وي.(۲)

## ۳- دریم قول:

په دې قول کې تفصیل دی هغه دا چې په یو هېواد او نېږدې نېږدې سیمو کې له یو څخه د زیاتو بېلابېلو خپلواکو واکمنانو شتون ناروا دی، خو له یوبل څخه په لېرو لېرو سیمو کې لکه اندلس او خراسان کې بیا روا ګڼلي دي.(۳)

## د جمهورو علماوو د لائل:

۱- د جمهورو له ډلې څخه علامه ماوردي وایي: «که چېرې په دوو بېلابېلو هېوادونو کې دوه بېل بېل واکمنان وټاکل شول او امامان جوړکړل شول؛ نو له هغوی څخه د یوه امامت او واکمنۍ هم سمه نه ده، ځکه د اسلامي امت لپاره روا نه دي چې په یو وخت کې دوه واکمنان ولري، که څه هم ځینې علماء د جمهورو له ډلې څخه په وتلو سره دا روا ګڼلي دي(۴)

۲- همدارنګه جمهور علماء وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ(۵)

ژباړه: د بنو اسرائیلو واکمني د هغوی انبیاوو کوله، هرکله به چې یو نبي وفات شو، بل به ورپسې راغی، خو له ما وروسته نبي نشته، بلکې خلیفه ګان به وي او زیات به وي، صحابه رضي الله عنهم پوښتنه وکړه: نو مونږ ته څه حکم کوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لومړی مو چې له چا سره بیعت کړی وي، له هغه سره وفا وکړئ، بیا مو چې له چا سره کړی وي له هغه سره وفا وکړئ.

په دغه حدیث شریف کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یو وخت کې له دوو امامانو سره بیعت کول منع کړي دي بلکې ویلي دي چې په یو وخت کې باید یوازې له یو خلیفه او امام سره بیعت وشي او د هغه د بیعت پیروي لازمه ده؛ نو دوه امامان او واکمنان نشي کېدلی.

۳- د جمهورو علماوو دریم دلیل دغه حدیث دی:

ژباړه: -رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې د دوو خلیفه ګانو او واکمنانو سره بیعت وشو؛ نو له هغوی یې وروستی ووژنئ.(۲)

په دغه حدیث کې د لومړي بیعت وروسته د دوهم امیر او واکمن د وژلو حکم شوی دی چې له دې څخه په ښکاره څرګندیږي چې د مسلمانانو واکمن له یو څخه زیات نشي کېدلی.

۴- څلورم دلیل دا دی: چې امام احمد په خپل مسند کې یو روایت داسې راوړی دی:

ژباړه: له علي رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وشوه: چې اې د الله رسوله ! صلی الله علیه وسلم له تا وروسته به څوک امیر جوړیږي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که تاسو ابوبکررضي الله عنه امیرکړئ، هغه به رښتینی، له دنیا څخه بې پروا او د آخرت لوري ته هڅه کوونکی وموموئ، که عمر رضي الله عنه امیرکړئ، هغه به ځواکمن، داسې رښتینی وموموئ چې د الله په اړه د هیڅ ملامتوونکي د ملامتیا پروا ونه لري او که علي رضي الله عنه امیر

کړئ او زه فکر نه کوم چې تاسې به داسې وکړئ، هغه به لاړښود او لار موندونکی ومومئ چې تاسې به نېغې لارې ته برابرکړي.(۷)

له دغې وینا څخه په ډاګه شوه چې په یوه زمانه کې د ټولو امیران او واکمنان جوړېدل سم نه دي، که چېرې سم وای؛ نو اشاره به یې ورته کړې وای.(۸)

خو علامه ماوردي رحمه الله دې خبرې ته اشاره کړې ده چې ځینې علماء وایي: که چېرې د اسلامي دولت جغرافیه دومره پراخه او تر لېرې لېرې سیمو پورې رسېدلې وي چې د یو واکمن تر ولکې لاندې راوستل یې ستونزمن وي؛ نو بیا روا ده چې اسلامي نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته ووېشل شي او د هر هېواد او سیمې لپاره بېل خلیفه او واکمن وټاکل شي.

او عبدالقادربغدادي رحمه الله وایي: « دا خبره روا نه ده چې په یو وخت کې دې دوه د پیروۍ وړ امامان وي..... خو که د دوو ښارونو ترمنځ داسې دریاب خنډګرځېدلی وي چې د یوبل مرستې ته رسېدل یې ستونزمن وي؛ نو بیا روا دې چې د هرې سیمې لپاره بېل بېل واکمن وټاکل شي(۹)

همدارنګه علامه ماوردي رحمه الله هم وایي:» ترکومه بریده چې د بېلابېلو هېوادونو او لېرې لېرې سیمو خبره ده، د هغو په اړه یوه ډله علماء وایي چې په هغو کې له یو څخه زیات واکمنان ټاکل روا دي، ځکه د امام او واکمن ټاکل د مصلحتونو لپاره وي؛ نو که چېرې په بېلابېلو سیمو کې دوه یا زیات واکمنان وي، په داسې حالت کې به هر حاکم او واکمن خپله تر ولکې لاندې سیمه په سمه توګه څارلی شي او کومه سیمه چې ورته نېژدې وي په هغې کې به ښه ډول نظم راوستلی شي، همدارنګه هغوی وایي: چې کله په یوه زمانه کې په بېلابېلو سیمو کې دوه نبیان او د الله استازي راتلی شي او په دې سره د یو بل نبوت له منځه نه ځي؛ نو په امامت او واکمنۍ کې باید داخبره روا وي او په دې سره د یوبل امامت او واکمني له منځه ولاړه نشي.(۱۰)

## د پولو د شتون په اړه د معاصرو علماوو نظر:

سره له دې چې له یو لوري یو شمېر علماء لکه علامه قرطبي، امام جویني او عبدالعزیزفرهاري رحمهم الله په ځینو ځانګړو حالاتو کې د څو واکمنانو شتون منلی او د هېوادونو ترمنځ د پولو شتون یې سم ګڼلی، خو بل لوري ته جمهور علماء په دې خبره ټینګار کوي چې له یو څخه د زیاتو واکمنانو شتون روا نه دی او همدارنګه د اسلام د نړیوالې بلنې غوښتنه هم همدا ده لکه د جمهورو علماوو نظر چې ټوله نړۍ باید د یو واکمن تر ولکې لاندې وي او ترکومه بریده چې د هېوادونو ترمنځ د خنډونو، لېرې والي او زیاتو واټنونو خبره ده؛ نو دا د اسلامي خلافت په زمانه کې هم اسلام نېژدې په درېیمه برخه د نړۍ واکمني کوله او په وروستیو کې خو بیا دا واکمني تر نیمایي نړۍ پورې وغځېدله، خو بیا هم اسلامي نړۍ د یوه واکمن تر ولکې لاندې وه او زموږ په زمانه کې خو د تګ راتګ، ټرانسپورټ او لېږد رالېږد آسانتیاوو د دې ستونزې حل ته د پای ټکی اېښی دی؛ نو له همدې امله باید د یو اسلامي نمونه یي ریاست لپاره هلې ځلې وشي چې په ټوله نړۍ کې یو واکمن وي.

خو که بلې خوا ته وکتل شي، په اوسنۍ زمانه کې اسلامي نړۍ له پنځوسو زیاتو بېلابېلو هېوادونو ته وېشل شوې ده او دې لویې موخې ته د رسېدو لپاره باید د ټولو اسلامي هېوادونو مشران په یوه خوله وي، که نه د

اسلامي هېوادونو ترمنځ له جګړې او وینې تویېدو پرته به دا موخه ترلاسه نشي، چې دا بیا ډېر لوی ناروا کار دی؛ نو له همدې کبله باید په اوسنۍ زمانه د سختې اړتیا او مجبوریت پر بنسټ دا بېل بېل هېوادونه او د هغوی ترمنځ د پولو شتون او بېل بېل واکمنان ومنل شي، که نه لویه ستونزه به رامنځته شي، چې په مخکې زمانه کې هم بېل بېل هېوادونه وو، د هغو ترمنځ پولو هم شتون لرلو او واکمنان یې هم بېل بېل وو، خو له دې سره علماوو د هغوی حکمونه او پرېکړې د منلو وړ بللې دي؛ نو پر همدې بنسټ د هغو علماوو قول باید د مجبوریت له امله ومنل شي کوم چې د هېوادونو ترمنځ د پولو شتون سم او روا بولي او په دې کې کومه ستونزه نهویني.(۱۱)

## د پولو شتون د حقوق پوهانو له نظره:

د حقوق پوهانو له ویناوو داسې څرګندېږي چې د هېوادونو ترمنځ د پولو شتون ډېر اړین او مهم دی، ځکه خو د هغوی په اند د یو دولت د شتون لپاره څلور مهم عناصر دي چې په هغو کې یو د جغرافیې شتون دی او د جغرافیې شتون هغه مهال ټاکل کېدی شي چې د یو هېواد جغرافیه د بل هېواد له جغرافیې څخه د پولو په ټاکلو سره ځانګړې او بېله شي او له بل لوري حقوق پوهانو د پولو اهمیت په هر ځای کې په څرګندو ټکو بیان کړی دی، لکه:

ځینې حقوق پوهان د پولو د اهمیت په اړه وایي:

د پولو کرښې هغه څه دي چې د خلکو د خبرو اترو ژبه له یوبل څخه بېلوي، د یو هېواد له بل هېواد څخه په ښوونځیو او مدرسو کې د زده کړیالیو لپاره د زده کړې لارې چارې بېلیږي، د بېلابېلو هېوادونو د هغوکتابونو، ورځپاڼو او مجلو بڼه او ډول له یوبل څخه توپیرکوي، کوم چې د هغو وګړي یې د ګټې اخیستنې په موخه پېر او پلور کوي، د خوراک او څښاک په توکو کې یې توپیر شتون لري، د راکړې ورکړې لپاره د کارولو پیسې بېلې بېلې وي، د یو هېواد هغه دفاعي پوځ چې له خلکو او ځمکې څخه یې ساتنه او دفاع کوي جلاجلا وي او همدارنګه هغه خاوره او ځمکه له یو بل څخه توپیرلري چې د هغې د ساتنې او دفاع لپاره لښکرې جوړیږي.

پولې هغه څه دي چې په یو سیاسي واحد کې د ټول شویو ټبرونو له یووالي یا د طبیعي او بشري جوړښتونو پر بنسټ رامنځته کیږي، کله چې پولې د یو طبیعي او بشري یووالي څرګندویه وي؛ نو همدغه پولې بیا د یو داسې سیاسي او ټولنیز یووالي څرګندویه هم وي، پرکوم چې د خلکو د غوراوي او له یوبل سره په تړاو کې باور کېدلی شي، په نننۍ زمانه کې پولې د کرښو غوندې پر نقشو را چاپېرکړل شوې دي او ځینې یې بیا له طبیعي پلوه ټاکل شوې دي چې د هغو پر سر نړیوال تړونونه رامنځته شوي دي او په سیاسي یا نړیوالو پولو نومول شوې دي(۱۲).

## دپولواړتیا د حقوق پوهانو له نظره:

حقوق پوهان په دې اند دي چې په اوسنۍ زمانه کې د هېوادونو ترمنځ له پولو پرته هیڅ چاره نشته او د پولو شتون ډېر اړین دی، ترڅو د یو شمېرناخوالو او ستونزو مخنیوی وشي، ځکه خو هغوی د پولو ټاکل د یو هېواد له بل هېواد څخه د بېلوالي لپاره بېلابېل پړاوونه بیانوي چې په لاندې ډول دي:

۱- **لومړی پړاو:** کله چې ځمکه پراخه وه او اوسېدونکي یې کم وو؛ نو هلته کومو ځمکنیو ستونزو او شخړو هم شتون نه لرلو، چې ځینو قبیلو او ټبرونو

به د خپلو ځمکو وروستۍ برخې ته هم په درنه سترګه کتل او په هغو به يې پام کولو او ځينو نورو به د خپلو ځمکو د وروستۍ برخې د ټاکلو لپاره ډېرې ابنښودلې.

۲- دوهم پړاو: کله چې د ځمکې اوسېدونکي زيات شول او د ښاريو ځرول د خلکو ترمنځ رواج شول؛ نو دغه زمانه د خلکو لپاره له يوځای څخه بل ځای ته د تګ راتګ او له يوبل سره د يوځای کېدو او اختلاط زمانه وه او ځينې ډلو په ښارونو کې ژوند پيل کړ، خو بيا هم د خلکو په پرتله ځمکه پراخه وه چې کله ناکله به د خلکو د ځواکمنتيا او کمزورۍ سره سم د يوې سيمې ټول خلک له يوځای څخه بل ځای ته کوچېدل او په همدغه پړاو کې ممنوع دولتونه (Buffer States) را پيداشول، چې د هغو تر منځ به له خلکو څخه خالي ځمکې وې.

بيا وروسته د خلکو اړيکه له ځمکې سره زياته شوه؛ کلي رامنځته شول، د خلکو ترمنځ اړيکې زياتې شوې او شخړو او جګړو لاملونه زيات شول؛ نو خلک اړ شول چې په خپلو منځو کې تړون وکړي او داسې سيمې او ځايونه له خلکو خالي وټاکي چې د دوو سيمو او دولتونو ترمنځ بېلوالی راولي.

په دغو خالي سيمو کې به د دولت د ساتنې په موخه برجونه جوړېدل لکه د غساسنه او مناذره وو د واکمنۍ پرمهال.

همدارنګه په شاړو ځمکو کې د دولتونو د دفاع او ساتنې لپاره کلاوې او ټينګ ديوالونه جوړ شول، ترڅو د بېرونيو تېريو مخنيوی وکړي، لکه د چين لوی دېوال او د روم دېوال، د انګلنډ او سکاټلنډ ترمنځ د سکاټلنډيانو د بريدونو د مخنيوي لپاره.

۳- درېيم پړاو: په دغه پړاو کې بيا د ځمکې اوسېدونکي ډېر زيات شول چې د دوو هېوادونو ترمنځ د خالي ځمکو له وېش څخه هيڅ چاره نه وه او د نيمولو لپاره يوه کرښه کش کړل شوه چې په دې سره د دوو هېوادونو نقشې د همدغې کرښې له لارې بېلې بېلې شوې او په بشپړه توګه پولې وټاکل شوې.(۱۳)

## د پولو مهمې دندې:

کله چې هېوادونه له يوبل څخه د پولو په ټاکلو سره بېل شي او هر يو بېله او ځانته جغرافيه ولري؛ نو بيا پر هېوادونو راګرځېدلې پولې د خپلو هېوادونو پر وړاندې يو شمېر دندې لري او د همدغو دندو لپاره پولې رامنځته کيږي چې د قانون پوهانو له انده بايد هغه په سمه توګه ترسره شي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**لومړۍ دنده:** د دولت دفاع او ساتنه کول او په هغه کې بشپړه سوله او امنيت ټينګول چې په دې دنده کې لاندې څو خبرې راتلای شي:

الف: د روغتيا په موخه ځينې بنديزونه لګول، ترڅو همدغه هېواد ته له بل هېواده ناروغۍ ونه لېږدول شي.

ب:کرهنيزبنديز، ترڅو د خپل هېواد کرهنه وده وکړي او د نورو هېوادونو د کرهنې له بدو اغېزو خوندي شي.

ج: د هېواد د سولې لپاره د خطر لرونکو خلکو ځارنه او مخنيوی، ترڅو د تلپاتې سولې څخه برخمن شي.

د: د هېواد لپاره د زيان لرونکو افکارو او عقائدو مخنيوی، ترڅو د خلکو ترمنځ د ټکر لامل ونه ګرځي.

**دوهمه دنده:** د پولو دواړو خواووته د خلکو د تګ راتګ، هجرتونو او له يوبل سره د ليده کاته چارې تنظيمول، همدارنګه د کاروونکو او تېښته کوونکو ځارنه کول.

**درېیمه دنده:** د اقتصادي پرمختګ په موخه د ګمرکونو تنظیم، د وارداتو او صادراتو سم تنظیم او د زیرمو سمه څارنه کول.

**څلورمه دنده:** د رعیتي قبائلو د تګ راتګ او خوځښت سم تنظیمول.

**پنځمه دنده:** د هېوادونو ترمنځ د کارکوونکو د تګ راتګ لارې چارې تنظیمول.

د دوو هېوادونو ترمنځ پولې د هغو خلکو لپاره چې له پولو سره نېږدې ژوند کوي په اقتصادي پرمختګ کې ډېر مهم رول لري.(۱۴)

**د هېوادونو حقوق او واجبات د یو بل پر وړاندې:**

حقوق پوهانو چې کله د هېوادونو ترمنځ د پولو شتون اړین وباله؛ نو له همدې امله یې هر هېواد ته بېل قانوني او حکمي شخص وویلو او د هغو لپاره یې یو شمېر حقوق او واجبات ومنل چې له هغو څخه به ځینې په لاندې ډول په لنډه توګه وڅېړو:

**الف: د هر هېواد حقوق:**

**۱- د بقاء حق:**

د بقاء حق په دې معنی دی چې هر هېواد د یو حکمي شخص په توګه د باقي پاتې کېدو حق لري او هېڅ ځواک له هغه څخه دغه حق نشي اخېستی چې د بقاء په حق کې بیا یو شمېر نور حقوق راځي چې لږ غوندې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**لومړی له ځان څخه د دفاع او ساتنې حق:** په دې معنی چې هر هېواد د هر ډول تیري او تجاوز پر وړاندې له ځان څخه د دفاع او ساتنې بشپړ حق لري او دا د تیري مخنیوی به د ملل متحد د تړون د لومړۍ مادې سره سم وي چې لاندې ټکي پکې ډېر مهم دي:

الف: د ملل متحد په غړي هېواد چې کله تیری کیږي؛ نو د امنیت شورا به د نړیوالې سولې په موخه لازم تدابیرنیسي.

ب: د ملل متحد غړي هېوادونه چې کله تدابیر نیسي له هغو څخه به یې د امنیت شورا په سملاسي توګه خبره کړې وي.

ج: د دفاع لپاره چې کوم تصمیم نیول کیږي هغه مطلق نه دی، بلکې موقت دی؛ نو کله چې د امنیت شورا پرېکړه وکړي بیا به تصمیم نیول کیږي.

د: د دفاع پر مهال که له زور او ځواک څخه کار اخېستل کیږي؛ نو اړینه ده چې تیری به عملاً پر یو غړي هېواد شوی وي او خطر به یې لوی او جدي وي او یا به د واقع کېدو په حالت کې وي.

ز: بله خبره دا چې د تیري، خطر او له ځان څخه د دفاع تر منځ به تناسب شتون لري، داسې نه چې تېری ډېرکم وي، خو دفاع بیا په اټمي او کیمیاوي وسلو ترسره شي.(۱۵)

## د تیري تعریف اوپېژندنه:

پر یو هېواد تیری او تجاوز د ملل متحد د عمومي مجلس له نظره د هغه وسلوال ځواک له کارولو څخه عبارت دی، چې د یو هېواد لخوا د بل هېواد پرځمکنۍ بشپړتیا یا سیاسي خپلواکي ترسره شي او یا په بله کومه داسې لاره چې د ملل متحد له تړون سره په ټکر کې وي.

دلته د تیري په تعریف کې یوازې د وسلوال ځواک یادونه شوې، نه هغه نورې لارې چارې لکه :اقتصادي پرېکون، سیاسي اړیکې ختمول، فضایي خطر رامنځته کول او

دفاعي سېستم نصبول(۱۶ ).

**دوهم د نورو هېوادونو د تېري د پراخوالي مخنيوی:** په دې معنی چې هر هېواد دا حق لري له ټولو هغو وسائلو او لارو چارو کار واخلي په کومو چې د بل هېواد د نفوذ مخه نيولی شي، ترڅو دغه هېواد د نورو هېوادونو سولې ته ګواښ پېښ نکړي، سره له دې چې ځينې حقوق پوهان په دې ډول حق کې يو شمېر شرطونه هم بيانوي لکه د ګواښوونکي هېواد لخوا د نورو هېوادونو پر وړاندې د تاوتريخوالي رامنځته کول او همدارنګه د هغوی ترمنځ د جنس او اصل د يووالي له پلوه د کومې اړيکې نشتون (۱۷ ).

دربيم د ضرورت نظريه: دا نظريه يوازې تر آلمانيانو پورې تړاو لري د هغوی په اند يو هېواد د دې ترڅنګ چې له ځان څخه د د فاع حق لري، بل حق هم لري چې د هغو پر بنسټ د يو هېواد د خپلې ګټې لپاره پر بل هېواد تېری روا کيږي، که څه هم هغه بل هېواد بې ګناه وي، دا يوازې د خپلو ګټو پر بنسټ، دا نظريه زيات شمېر حقوق پوهانو د مطلقې قانوني برابرۍ پر بنسټ وړاندې کړې ده (۱۸ ).

## ۲- د استقلال او خپلواکۍ حق:

د نړيوال قانون له مخې هر هېواد ته د واکمنۍ د حق په پايله کې د خپلواکۍ او آزادۍ حق هم ورکړل شوی دی، چې هر هېواد په خپله جغرافيه کې په پوره آزادۍ او خپلواکۍ سره خپلې ټولې سياسي، اقتصادي، ټولنيزې او ثقافتي چارې تنظيمولی شي.

همدارنګه هر هېواد خپل ټول ځواک په خپلو ټولو داخلي او خارجي اړيکو کې پرته د پرديو له مداخلې په کار اچولی شي، نړيوالې قضايي محکمې دا حق هر هېواد ته په دې شرط ورکړی چې هر هېواد به د نړيوالو قوانينو په پيروۍ کې له دې خپل حق څخه ګټه پورته کوي( ۱۹).

## ۳- د برابرۍ حق:

د ټولو هېوادونو ترمنځ اړيکې د هغوی تر منځ د برابرۍ د حق پر بنسټ ولاړې دي او نړيوال قانون، نړيوال تړونونه او معاهدې هم د برابرۍ حق خبره مني او غاړه ورته ږدي. خو د هېوادونو تر منځ د برابرۍ د حق په اړه ځينې مهم ټکي د يادولو وړ دي چې په لاندې ډول دي:

الف: د برابرۍ له حق څخه موخه د هېوادونو تر منځ قانوني برابري ده چې هر هېواد له يو ډول حقوقو څخه برخمن دی او يو ډول مسوليتونه ورته متوجه دي.

ب: دوهمه خبره داده چې نيمه خپلواکه هېوادونه له دې حقوقو څخه برخمن کېدی نشي.

ج: همدارنګه د ملل متحد په عمومي مجلس کې هر غړی هېواد په قانوني ډول د يوې رايې حق لري، خو عملا داسې نه دي، ځکه زياته جغرافيه يا زيات نفوس لرونکي هېوادونه، يا د عسکري، اقتصادي او سياسي پلوه ځواکمن هېوادونه بيا د وېټو (منع) حق لري چې دې کړنې د هېوادونو تر منځ د برابرۍ حق ته زيان رسولی دی.

## ۴- د متبادل درناوي حق:

د متبادل درناوي حق په اصل کې د قانوني برابري د حق پايله ده، ځکه هر هېواد له بل هېواد څخه غواړي چې د هغه د هراړخيزه سيمې درناوی وکړي، همدارنګه د هغه د سياسي، ټولنيز، اقتصادي، اداري، ثقافتي، ديني عقائدو، د دولتونو د مشرانو او د هغو د استاذو درناوی وکړي.(۲۰ )

## ب:د دولتونو واجبات د یوبل پر وړاندې:

حق او واجب له یو او بل سره تړلي دي، ځکه د هر حق اداکول واجب دي؛ لکه څنګه چې دولتونه د یوبل پر وړاندې له یو شمېرحقوقو برخمن دي، همدارنګه د یوبل پر وړاندې یو شمېر مسولیتونه او واجبات هم لري چې د هغو له پامه غورځول د نړیوال قانون له مخې جرم ګڼل کیږي او سزا ورته ټاکل شوې ده.

## د دولتونو د واجباتو وېش:

### لومړی قانوني واجبات:

قانوني واجبات عبارت له هغو واجباتو څخه دي چې د نړیوال قانون له مخې پر دولتونو لازم کړل شوي وي او منل یې ورته اړین وي، د نه پرځای کولو په صورت کې ځانګړې سزا ورته ټاکل شوې وي او یا د زور او ځواک له لارې دولت اړېستل کیږي چې هغه پلي کړي، قانوني واجبات زیات دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- هر دولت باید له بل دولت سره په اړیکو ساتلو کې نړیوال عام قانون له پامه ونه غورځوي.

۲- د دولتونو ترمنځ د شخړو سوله ییزحل د عدالت او هېوادونو د اصولو درناوی کول.

۳- د یوبل په داخلي چارو کې لاس وهنه نه کول.

۴- د داسې دولت له مرستې څخه لاس په سر کېدل چې ناروا جګړو ته لمنه وهي او د هغو لامل کیږي.

۵- د داسې دولت په رسمیت پېژندلو څخه ډډه کول چې هغه په ناروا ډول نور هېوادونه یا سیمې ترخپلې ولکې لاندې راوستې وي.

۶- له هرډول تیري او د تیري له ګوتڅنډنې څخه ډډه کول او یا د بل هېواد پر وړاندې د زور اوځواک کارول.

۷- د بشر د حقوقو او د هغو د بنسټیزو آزادیو درناوی کول.

۸- د دولتونو د اصولو په ښه نیت عملي کول.

دوهم ادبي او اخلاقي واجبات:

دا ډول واجبات عبارت له هغو واجباتو څخه دي چې الزامي اړخ نه لري، بلکې د هېوادونو د اړیکو د ټینګوالي او ښه والي لامل کیږي او د ښه نیت پر بنسټ پلي کیږي.

چې دا یوازې اخلاقي اړخ لري او له یوبل سره د مرستې او د انساني عدالت پر بنسټ پلي کیږي او له دا ډول واجباتو څخه د سرغړونې سزا یوازې په ورته کړنه ورکول کېدای شي او یا په عمومي توګه بدګڼل کیږي، اخلاقي واجبات هم ډېر دي چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي:

۱- له اړ او بې وزله هېواد سره د خپل وس او توان سره سمه مرسته کول.

۲- عامو اخلاقو او عدالت ته پاملرنه کول او په اړیکو ساتلو کې له ښه نیته کار اخېستل.

۳- د روغتیا او چاپېریال ساتنې په برخو او د خلکو د ژوند په ښه والي کې له یوبل سره مرسته کول.

۴- د مجرمینو په سپارلو او د جرائمو په مخنیوي کې له یوبل سره مرسته کول.

### سرچینې:

۱ ارشیف ملتقی اهل التفسیر، حکم تعددالحکام وتعددالدول الاسلامیة الجزء الاول، ص ۲۲۳۲.

۲ ارشیف ملتقی اهل التفسیر، حکم تعددالحکام وتعددالدول الاسلامیة الجزء الاول.

۳- المرجع السابق ..........

۴- العلامة الماوردي، الاحکام السلطانیة ، الباب الاول، ص ۹.

۵- محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري، حدیث نمبر۳۴۵۵.

۶- مسلم بن حجاج بن مسلم بن ورد بن کرشان نیشابوری قشیری صحیح مسلم،باب اذابویع لخلیفتین، حدیث شمېره ۴۹۰۵.

۷- الامام احمدبن حنبل، مسند احمد، دویم ټوک، ص ۲۱۴ ، حدیث شمېره۸۵۹.

۸- ابو الحسن علي بن محمد بن حبیب البصري الماوردي المتوفی سنة ۴۵۰هـ ،ادب الدنیا والدین.

۹- الامام الاستاذ ابومنصورعبدالقادربن طاهرالتمیمي البغدادي المتوفی سنة ۴۲۹، ص ۲۷۴.اصول الدین.

۱۰- ابو الحسن علي بن محمد بن حبیب البصري الماوردي ادب الدنیا والدین.

۱۱- مفتی محمد تقی عثمانی اسلام اور سیاسی نظریات، ص ۲۴۲.

۱۲- دکتور کامل ابوضاهر، الحدودالسیاسیة، الفصل الثالث، ص ۵.

۱۳ - دکتور کامل ابوضاهر، الحدودالسیاسیة، الفصل الثالث، ص ۶.

۱۴- مخکېنی مرجع ص ۷.

۱۵ - علی صادق ابوهیف، القانون الدولی العام، ص ۲۳۴.

۱۶ - علی صادق ابوهیف، القانون الدولی العام، ص ۱۳۶.

۱۷ - علی صادق ابوهیف، القانون الدولی العام.

۱۸- مخکېنی مرجع.

۱۹ - مخکېنی مرجع.

۲۰ - علی صادق ابوهیف، القانون الدولی العام.

## جانان ذکر کوي

الفت ملنګ

ورو ورو مزل کــــوي ستنیږي جانان ذکر کـــــوي
د غره لمــــــن باران وریږي جانان ذکـــــر کـــــوي

د پاک الله د رحمت ځــــاڅکی یې پر زلفو لــــګي
مسکی مسکی شانتې ښکاریږي جانان ذکر کوي

لاس کې تسبیح په ژبه اخلي پاک نامه د څښتن
چـــــې استغفار وایي ژړیږي جانان ذکر کـــــوي

چانته ترمـــلا، ټوپک ترځنګ، ځادرله ځان تاووي
درومــــــي هدف ته روانــــــیږي جانان ذکر کـــــوي

الفــــت ملنګ یې په دعاوو کـــې همیش یادوي
هــــــره لحظه ورته یادیږي جانان ذکــــر کـــــوي

# د هوتکیانو د واکمنۍ په ځېنو پېښنو کې د لویو جرګو ونډه

څېړنپوه ظاهره هنګامه

مخکې له دې چې د افغاني جرګو پر ځرنګوالي، ډولونو، عنعنوي، تاریخي ارزښت او اهمیت وغږېږو، د جرګې په عمومي پېژندنه د خپل بحث لړۍ پیل کوو.

## د جرګې عمومي پېژندنه

د جرګې کلمې معنا او مفهوم پر هغې غونډې اطلاق کېږي چې د فیصلې صلاحیت لري او حکم یې د منلو وړ وي.

په عام ډول د جرګې اصطلاح د هغې غونډې له پاره کارول کېږي چې د ځانګړو، قومي، اولسي او ملي مسایلو د څېړلو او حل له پاره جوړېږي.

د جرګې تر څنګ د مرکې اصطلاح هم استعمالېږي، باید ووایو چې مرکه هم د جرګې یو ډول دی، په دې توپیر چې مرکه د وړو کورنیو خپل منځي شخړو د حل و فصل کولو ، ځانګړو هیلو او غوښتنو تر سره کولو له پاره جوړېږي او د غړیو شمېر یې له درې څلورو څخه نه زیاتیږي او جرګه بیا د لویو او مهمو مسایلو د حل له پاره جوړېږي او د غړیو شمېر یې د مسئلې په ځرنګوالي او حالاتو پورې اړه لري. د جرګې غړي ته «جرګه مار» او مرکې ته «مرکچي» وایي. (۱)

## لرغونی تاریخي پس منظر

جرګه زموږ په اولسي او ملي عنعناتو کې ډېر لوړ ځای او ستر اهمیت لري او په تاریخي لحاظ په افغاني ټولنه کې له ډېرې لرغونتیا نه برخمنه ده. له تاریخي څېړنو څخه ځرګندېږي چې لرغونو آریائیانو به خپلې ګڼ شمېر ټولنیزې کوچنۍ او سترې مسئلې د جرګو، مرکو له لارې حل کولې. دوی په عمومي توګه دوه ډوله جرګې درلودې، چې یوې ته یې «سیمتي» او بلې ته «سبها» ویله. په لومړۍ کې به د قبیلې سپین ږیري او مشران را غونډېدل او دویمې یې کلیواله بڼه درلوده. یا په بله ژبه «سیمتي» په اوسني مفهوم د مشرانو جرګې رول درلود او د قبیلې پورې مسئلې، لکه مشر ټاکل، له خپل ټاټوبي څخه ددفاع او ساتنې مسآلې او داسې نورې یې حل کولې او «سبها» د یوې وړې کلیوالې جرګه ګۍ یا مرکې دنده درلوده چې په کوچنیو کورنیو او کلیوالو مسایلو به یې غور کاوه.

همدغه جرګې مرکې افغانانو د یو غوره مسئلې په توګه تر ننه ژوندۍ ساتلي او په ملي عنعناتو یې له ډېر ستر اهمیت او ارزښت نه برخمنې او پرېکړې او فیصلې یې د یو قانون حکم لري اوکه ور څخه څوک سرغړونه وکړي برسېره پر دې چې ورته پړ او ملامته وایي لازمه سزا هم ورکول کېږي.

## د جرګې اصول، قوانین او کړنلاره

افغاني اولسي جرګې خپل ځانګړي اصول، قوانین او کړنلاره لري، په هره سیمه کې د جرګې مرکو خلک معلوم، منل شوي او پېژندل شوي وي. دوی ته په اولسي اصطلاح جرګه مار سپین ږیري یا مشران ویل کېږي.

جرګه خاص مشر نه لري، مشران د یوې مسلې حل و فصل له پاره سره را غونډېږي معمولاً په دایروي بڼه کښیني، بحث په آزاده بڼه دوام مومي او هر څوک په وار وار پر اړونده موضوع باندې تبصره کوي شاوخوا رڼا اچوي او له ټولنیز دریځ (موقف) او امتیازاتو پرته هر څوک

خپل نظر ښکاره کړی دی. وايي چې: هندوستان کې افغاني واکمنو سلطان بهلول لودي او شيرشاه سوري د افغاني بېلابېلو قبيلو د سردارانو او مشرانو جرگې درلودې، کله چې به دا جرگې د کومې مسئلې او ستونزې په باب د حل وفصل له پاره جوړېدلې، دوی به له پاچاهي تخت ښکته راښکته کېدل او له نورو مشرانو سره به د جرگې په کتار کې کيناستل او له نورو څخه به يې هېڅ ډول امتياز او لوړاوی نه درلود. (۲)

لويه جرگه يا ملي ستره غونډه د تاريخ په اوږدو کې د نړيوالو امپراتوريو له رامنځته کېدو نه مخکې د افغانستان د ټولنيزو او سياسي ستونزو په حلولو کې ډېر ستر اهميت لرلی دی.

همدا راز جرگه د بهرنيو يرغلگرو په وړاندې د افغانانو د يو موټي کولو د آزاد خپلواک او لوی افغانستان د جوړېدو او د افغانستان د خپلواکۍ گټلو په خاطر يې جرگې او ملي سترې غونډې جوړې شويدي او د نړۍ ښکېلاک پر ضد د آزادۍ غوښتنې غږ هم په جرگو کې پورته کېږي.

جرگه د افغانستان د ټولو ورونو مليتونو او په تېره بيا د پښتنو قومونو او قبايلو لرغونې او تاريخي دود دی. جرگه يوه ملي او قومي غونډه ده، چې د ملي، قومي او قبيلوي کړکېچونو مسلو د حل لپاره جوړېږي، په جرگه کې د قومونو او قبيلو مشران سره را ټولېږي او په ټاکل شوو مسلو له خبرو اترو وروسته پرېکړه کوي. د جرگې له پرېکړو څخه تېری، مجازات، سزاوې او ناغه لري او يو شمېر سيمه ييز او ملي مهم مسايل د وړو او لويو جرگو په وسيله حل شوي دي او حل کېږي.(۳)

جرگه د پښتو لرغونې لغت دی معنا يې د يوه هدف، سلا او مشورې لپاره د څو کسانو راغونډول، ناسته او يو ځای کېدل، د جرگې اصطلاحي معنا هم پراخه ده او د افغانانو هغې تاريخي عنعنوي غونډې ته وايي چې د تاريخ په اوږدو کې زموږ د اولس ټولې ټولنيزې، قومي، ملي، سياسي، اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او مذهبي شخړې، ستونزې او خنډونه يې له منځه وړي او حل کړي دي.(۴)

همدا ډول جرگه په افغاني ټولنه کې يوه داسې مهمه غونډه گڼله کېږي، چې د ملي او قومي مشورو او ستونزو د حل په اړه جوړېږي او د هغې پرېکړې د قانون حيثيت لري.

افغانان د تاريخ په اوږدو کې، يعنې له ډېرو پخوا زمانو څخه د ژوند د ښه ترتيب او تنظيم په خاطر ځينې قوانين لري چې دغه قوانين د ملي او قومي جرگو له خوا تثبيتېږي. کله چې دوی کومو مهمو سياسي پېښو سره مخامخ کېږي يا مخامخ شوي دي، د خپل ملک د برخليک او د ستونزو د حل لپاره د خپل قوم د مشر په غوښتنې سره راغونډېږي د ستونزو د حل لپاره پرېکړه ترسره کوي چې دغه تاريخي لويه غونډه زموږ په هېواد کې د لويې جرگې په نامه يادېږي.

زموږ په هېواد کې جرگې پنځه زره کلن تاريخ لري، چې دا تاريخي، ملي جرگې د افغان ملت د ارادې او د ملي يو والي مظهر گڼل کېږي.

د افغانستان په لرغونې دوره کې د يوې بلې جرگې نوم د يادونې وړ دی چې د کوشاني امپراتور «کنشکا» په فرمان ۱۵۰ ميلادي کال کې د واسو شيره تر مشرۍ لاندې په کشمير کې جوړه شوه (۳) کله چې د اسلام مقدس دين افغانستان ته راغی، نو جرگې نه يوازې له منځه لاړې نه، بلکې د دغه مقدس آيت « وامرهم شورا بينهم»

پر بنسټ او حکم د جرګو تاریخ پرمختګ وکړ او د جرګو تاریخ غني او بډای شو همدا وو، چې د افغانستان په اسلامي دوره کې تاریخي جرګو د اسلامي اصولو په رڼا کې خپلې ټولې سیاسي او ټولنیزې چارې د سلا او مشورې پر بنسټ حل او فصل کولې.

زموږ په لرغوني هېواد کې ډېرې وړې او لويې جرګې شوي دي چې ارزښتناکې تاریخي او سیاسي چارې یې سرته رسولې، چې دلته د میرویس نیکه لویې جرګې د یادونې وړ دي.

د شپاړلسمې میلادي پېړۍ له پیل څخه تر اتلسمې میلادي پېړۍ پورې په افغانستان کې مرکزي حکومت نه و او افغانستان د صفویانو (۱۵۰۰م) کال شیبانیانو او بابریانو ۱۵۰۴) م) کال ترمنځ د دوه نیمو پېړیو لپاره د تجزیې په حالت کې وساتل شو، نوي دولتونه یې جوړ کړل. دغو دولتونو د افغانستان د کورنۍ، سیاسي کمزورۍ څخه استفاده وکړه او د افغانستان نورو سیمو ته یې هم لاس اوږد کړ. د افغانستان شمالي سیمې شیبانیانو ، جنوب غربي سیمې صفویانو ، کابل او شرقي سیمې د هند ګورګانیانو نیولې وې.

صفویانو ۱۷۰۲ع کې د ګرګین په نامه یو ظالم مستبد او وینې څکونکی حاکم کندهار ته راولېږه ګرګین د پښتني قومونو ترمنځ د تفرقې په کار کې ډېر غښتلی او پهلوان و. هم هغه و چې په شهر صفا کې ابدالي قبایلي مشر دولت خان او د هغه زوی نظر محمد خان یې ووژه او د دولت خان دوه نور زامن رستم خان او زمان خان په تېښته بریالي او په ارغستان کې ابدالیانو ته ورغلل (۵ ). ګرګین غوښتل چې دا دواړه ورونه هم له مینځه یوسي، نو د همدې هدف د تر سره کولو لپاره یې وړاندیز وکړ، چې رستم یې یوازې په نامه مشر کړ او د هغه ورور زمان خان یې یرغمل په ډول صفوي دربار کې وساته.(۲)

د ګرګین ظلمونه په خلکو او په هېواد مینو افغانانو باندې ښه ونه لګېدل د دوی وینې یې په جوش راوستې او په اندېښنه کې ولوېدل په دې فکر کې شول چې څنګه خپله پاکه خاوره د دې ظالم او وینې څکښونکي سړي څخه وژغوري. په دغو باتورو وطن پالو کې یو هم میرویس نیکه شامل و.

بې له شکه د ګرګین ظلمونه د میرویس نیکه، د ملي آزادي ښونکې مبارزې د پیل سبب شول او په خپل قوم کې یې د خلکو د یووالي په خاطر ډېر جدي کار پیل کړ، چې د میرویس نیکه دغو کارونو د ګرګین غوسه را وپاروله او میرویس نیکه یې په اصفهان کې نظر بند کړ، خو میرویس نیکه د خپلې سیاسي پوهې په وسیله ځان د اصفهان له زندان څخه خلاص کړ.

کله چې میرویس نیکه له صفوي دربار څخه راستون شو د حج نیت یې وکړ او حج ته ولاړ او د خپل ولس او قوم ستونزې یې د خدای پاک دربار ته وړاندې کړې او له خدای تعالی څخه یې د خپل قوم او ولس سوکالي وغوښته په دې وخت کې میرویس نیکه خوب ولید او په خوب کې دغه زیری پرې وشو.

چې میرخان هسې عرض کا حال د ظلم
هغه شپه مات شو توره ډال د ظلم
میرخان په خوب ولید صدیق اکبر
چې ورسره حضرت فاروق عمر
وې سپین ږیریه نور څه غم مه کوه

قـــوم دې خلاص ســو کورټ ماتـــم مه کـوه
ولاړ ســــه خــــپل قـــوم ته دا زيری کـړه ژر
چـــې د ظالــــم ســو کــم نقصان او ضرر
پښــــتون به خـــدای(ج) کا له ظالــمه آزاد
نه به شـــي ننـــګ ونامـــوس يې بـــرباد
خـــدای به دا قـــوم کـــا په رحـــــــم ودان
نـــوم به يـــې ويـــنه مـــجاهـــد پرجهان
تـــــل به د خـــــدای په بـــنده ګي وي لوړ
څـــوک به يـــې نه کا ســـر په ټيټه ورځوړ
کلـــــمه به د خـــــدای وي جـاري په افواه
ورکــــوي دوی به په دې لار کـــې ســـاه
څــــو يې طــــره وي د اســـلام په پګړۍ
نه به شـــي ورک نـــوم دا قـــوم له نړۍ(۷)

چـــې د ظالــــــم د ظلـــم رفع روا
په تــــېر چـــې وي دی د اســلامه سواء
حــاجـــي مـــيرخان راغـــی ن ته بل کال
قـــوم يې ولـــيدی په ظلـــم پايمـــــال
په تـــدبير کښيوت، چې ناموس وساتي
ننـــګه د قـــوم کا په تيـــنګه خوندي
مـــشران يې و لـــيدل د قـــوم په سلا
ودوی تـــې و وې د حـــرم ماجـــــرا
دعـــا او خـــوب او هـــم فتوا د عرب
نـــوم يـــې کا د ځان د ښـو په طلب
ګـــرګين خبر سو چې ميرخان څه کـوي
ويې کـــتله چې افغان څـــه کـوي
ظلـــم يې ډېـــر کا پر خوارانو د قوم
ځـــان يې کا ګرګ د غم خوارانو د قوم
مـــشران يې را وستل په حبس و په بند
مـــنافقين يې کړل په قـوم سربلند (۸)

ميرويس نيکـه تـر دې وروسـتـه د حـرم لـه علمـاو، مفتيانـو، قاضيانـو او نـورو باصلاحيتـه پوهانـو سـره وکتـل، پـه کندهـار کـې يـې د ګرګيـن د ظلـم حـال ورتـه بيـان کـړ، د علمـاوو د شرعي فتـوې پـه لاس تـه راوړلـو سره بيـا کندهـار تـه راستون شـو. وګـورئ دغـه لانـدې شعر چـې دغـه موضوع پکـې پـه واضـح ډول راغلـې ده:

دا زيــــــری واورېدل مـــــيرويس خان په مـنام
خـــوښ ســـو د هـــغو په سپېـــڅلي کلام
بـــــيا يې پيـــــدا کـــړل علـــماء د حـــرم
مـــــفتي، قاضـــــي او هم پـــېشوا د حـــرم
حـــــال يـــې د ظلـــم د ګـــرګين کا بيان
فـــتوا يـــې وغوښـــته له دويه مــــيرخان
ټـــول علــــماء د ديـــن فـــتوا يې وکـړه
هـــسې تحـــــرير، هـــسې انشاء يې وکړه

د ګرګيـن ظلـم نـور هـم زيـات شـوی و، ميرويس نيکه پـه (۱۷۰۵م) کال پــه کوکـران کــې لومـړۍ لويـه جرګـه راوبللـه اولـه قومـي مشـرانو سـره يـې مشـورې وکـړې او د آزادۍ پـه فکـر يـې خلـک را غونـډ کـړل ګرګيـن هـم د ده لـه هڅـو نـه خبـر و، نـو د پلمـو د جوړولـو پـه لټـه کـې شـو. لومړۍ بهانـه يـې دا وه چـې ميرويـس نيکـه دې خپلـه لـور زمـا زوی تـه را واده کـړي، ميرويس نيکـه د موضـوع د حـل لپـاره د ګرګيـن ددغـې شـر اچوونکـې غوښـتنې پـه ځواب کـې لويـه جرګـه را وبللـه.

د ګرګيـن لـه ظلـم او نـاروا نـه خلـک ډېـر پـه تنـګ شـوي وو، نـو ميرويـس نيکـه خپـل عـرض د خدای (ج) نبي تـه داسـې وړانـدې کـوي:

ولاړې د شپې یې په یثرب کا فریاد
رسول د خدای ته چې سو قوم برباد
ستا پر امت راغی د ظلم دوران
واوره رسوله د دې قوم فغان
وژغوره دوی، ته د ظالم له لاسه
ګرګین له منځه د پښتون وباسه
ستا په نامه دی کلمه ګویه پښتون
نه بې هېڅکله له تا نه راستون
مرګ و ژوندون مو د اسلام د پاره
ستا د دربار ستا د سلام د پاره
مه موکړه هېر خیر الوري رسوله
فخر کونین نور الهدي رسوله
اوښکې مې څاځي پر دربار یم ولاړ
قوم سو په اور د ظلم ټوله لتاړ
یو وار نظر وکړه پر موږ چې سو وړ
دې ظالمانو ته تر څو به یو پړ
ستا لطف و مهردی شامل پر جهان
هر خراب زړه دی ستا په مهر ودان
که ستا نظر نه وي خراب سو پښتون
په اور د ظلم نور کباب سو پښتون
را غلم له لرې ستا دربار ته نبي
ته مې شفیع سه خدای غفار ته نبي
چې پر پښتون قوم نازل کا رحمت
کړي یې وندي ناموس په خپل مرحمت (۹)

## د میرویس نیکه دوهمه ملي جرګه:

په ۱۷۰۷ میلادي کال کې میرویس نیکه دوهمه لویه جرګه را وغوښته په دې وخت کې له یوې خوا د ګرګین ظلمونه تر پخوا ډېر شوي وو او له بلې خوا د لومړۍ لويې جرګې د پرېکړو او فعالیتونو په نتیجه کې خلک ملي پاڅون ته یو موټی شوي و. دا لویه جرګه په «مانجه» کې چې د کندهار شمال شرق ته د شلومیلو په فاصله د کابل په لار واقع ده او په ښار صفا پورې نښتې دی، لویه جرګه راوبلله. په دې لویه جرګه کې غوڅه پرېکړه وکړه، چې ګرګین دې له پوځ سره له منځه یوړل شي او پر ځای دې یو خپلواک ملي حکومت رامنځته شي په دغه جرګه کې د قومونو د رهبرانو دندې وسپارل شوې، تر څو د خپلواکۍ د ساتلو او د صفویانو د هر ډول نظام او عمل په وړاندې تیار و اوسي (۱۳) په دې جرګه کې د هېواد بېلا بېل قومونه لکه: تاجک، هزاره، ازبک او د بلوڅو استازي سره را غونډ شوي وو.

د دغې جرګې استازي دغه لاندې کسان وو:

۱- سیدال خان ناصر، د ناصرو مشر او د هوتکي دورې معروف او نامتو سپه سالار.
۲- بابوجان بابي. د بابیانو مشر او روڼ فکره ادیب.
۳- ملا پیرمحمد میاجي، لوی مجاهد او روحاني شخصیت.
۴- بهادر خان اندړ، امیرالامرا، خطاب لرونکی او د شال روب او دیره جاتو فاتح.
۵- یوسف خان هوتک د سوری د هوتکو مشر.
۶- عزیز خان نورزی، د دلارام د نورزو مشر چې د لارام په پهلوان مشهور و.
۷- ګل خان بابر. د بابرو د قبیلې مشر.
۸- نور خان برېڅ، چې د ښوراک له خانانو څخه ؤ.
۹- نصرو خان الکوزی، د جلدک د الکوزو مشر.
۱۰- یحیی خان هوتک د ملي قاید ورور.

۱۱- حاجي نور محمد خان مشهور په حاجي انګو نیکه.
۱۲- په خپله میرویس خان.
۱۳- د ډهلي په تیموري دولت کې د میرویس خان ورور حاجي انګو سفیر و.
۱۴- یونس خان کاکړ د ږوب د کاکړو مشر. (۱۴)

## د جرګې پرېکړې:

- د جرګې د پرېکړو له مخې ملي قیام وشو او د صفویانو والي ګرګین ووژل شو.
- د هېواد د خپلواکۍ اعلان وشو.
- په کندهار کې ملي حکومت د میرویس خان په مشرۍ جوړ شو.

کله چې ظالم ګرګین ووژل شو، نو میرویس خان د ګرګین د وژل کېدو زیری خپلو خلکو ته په دغه لاندې شعر کې داسې ورکړ:

حـاجـي مـیرخان وکا ند بیر مـصلحت
پـښتانه ټول سول په نامـوس او په پت
ټـول قـرآن وکا چـې ځان کا خـوندي
لـه جـورو، ظلـمه د ظالـم ارمني
ګـرګین یې مـړکا ټـول ګـرجی سوکشتار
قـوم یې کا خـلاص له ظلـم و جوره غفار
قـندهار ونیو حاجـي میر په هر صحـت
قـوم یې ټـول کا، ورتـي کـړ نصیحـت
چـې ظالـم و مـړ اوس خو مـوږ سوو آزاد
خالـق دې نه کا پـښتون قـوم بربـاد (۱۵)

دا لویه جرګه د افغانستان د ټولو قومونو د ملاتړ وړ وه او ټول پښتانه، تاجکان، هزاره ګان، ازبکان او بلوڅان دې لویې جرګې ته را بلل شوي ؤ او برخه یې په کې اخیستې وه. د دې جرګې مقررات په ډېره آرامه او په پټه توګه عملي شوه، دا کار په داسې ماهرانه توګه تر سره شو، چې د برید تر وخته د حکومت یو کس هم سره له دې چې پا څون کوونکي پوره سمبالیدل، خو د داسې یو کار احساس ونه شو.

دا لویه جرګه هم د کمیت له مخې وړه، خو د کیفیت په لحاظ ډېره لویه او ارزښتناکه وه، ځکه له یوې خوا د جرګې هر غړي د خپلو لویو قومونو نمایندګي کوله او له بلې خوا همدې لویې جرګې د آزادۍ او عمومي پاڅون بولۍ ورکړه او سوګند یې یاد کړ چې باید دښمن نیست او نابود شي.

میرویس نیکه د ګرګین له منځه وړلو نقشه دوی ته وښوده او ورته یې وویل:

«د دې لپاره چې د ګرګین لښکرې له منځه لاړې شي او خورې شي باید د کاکړو او بلوڅو مشران ګرګین ته د مالیې له ورکولو نه غاړه وغړوي.

دوی به خپلې لښکرې مخې خواته وباسي، نو په دې ترتیب په مرکز کې به نظامي قوه کمزورې شي همدا راز د پاڅون په ترځ کې به ګرګین سره له ملګرو یې غافل ونیول شي او د ده ټول لښکر له منځه لاړ او ګرګین ناکامه او د دوی نقشه کامیابه شوه او د افغانستان یوه برخه د دوی له سلطې نه آزاده شوه.(۸)

## د میرویس نیکه دریمه لویه جرګه:

کله چې د کندهار ښار له مخالفینو او دښمنانو څخه پاک شو، نو میرویس نیکه د قوم او ولس مشران او لویان را وبلل او دریمه لویه جرګه یې جوړه کړه همدا راز هغه مشران یې هم را وبلل، چې د ظلم له لاسه یې کور او کلی پرایښی او غرونو ته ختلي وو، میرویس نیکه

دغې لويې جرګې ته خپله وينا په ډېره خوږه او فصيحه لهجه بيان کړه.

((اى خلکو! په ايمان درته وايم، چې زما مطلب يوازې ستاسي آزادي او خپلواکي ده او آزادي هغه بې بها او قيمتي نعمت دى، چې د هغه لاس ته راوستلو لپاره دا ټول جنګونه روا وو. ګرګين ووژل شو، که ما سره يو لاس شئ او زما ملا وتړئ زه به ستاسي له غاړې د ذلت او مريتوب پړى ليرې کړم او د آزادۍ او عزت جنډه به مو د وطن په هر ګوټ او د جهان په ټولو ملتونو کې پورته شي او د پرديو د سلطې جغ به مو له اوږې لېرې شي.

ده د خپلو خبرو په پاى کې خپلو خلکو ته داسې وويل: که په تاسو کې داسې څوک وي چې د پرديو غلامي تر خپلواکۍ ښه ګڼي او خپل لاسونه د خپلواکۍ په هغه زرينه رسۍ چې له اسمانه راغځېدلې، نه نيسي په بشپړه آزادۍ ويلاى شو، خو په زغرده بايد ووايم که زموږ سره د اوسيدو تمه هم ونه لري بايد زموږ له خاورې او ملي رياست نه ووزي او د کوم ظالم پاچا تر سيوري لاندې ژوند وکړي.)) (۹)

دغې لويې جرګې په کندهار کې د آزادۍ تر برياليتوب وروسته ميرويس نيکه خپل مشر وټاکه.

نو په لنډو ټکو ويلى شو چې جرګې زموږ په هېواد کې پنځه زره کلن تاريخ لري زموږ په ملک کې ډېرې وړې او لويې جرګې دي، چې تاريخي او سياسي چارې سرته رسوي او رسولې يې دي.

همدا ډول جرګه زموږ په اولسي او ملي عنعناتو کې ډېر لوړ ځاى او ستر اهميت لري او په تاريخي لحاظ په افغاني ټولنه کې له ډېرې لرغونتيا نه برخمنه ده. له تاريخي څېړنو څخه څرګندېږي چې لرغونو آريائيانو په خپله زياتره ټولنيزې کوچنۍ، سترې شخړې د جرګو او مرکو له لارې حل کولې.

جرګه يوه قومي غونډه ده چې د قومي او قبيلوي کړکېچنو مسلوپه اړوند د خبرو اترو وروسته پرېکړه کوي. د جرګې پرېکړو څخه تيرى، مجازات، سزاوې او ناغه لري او يو شمېر سيمه ييز او ملي مهم مسايل د وړو او لويو جرګو په وسيله حل شوي دي او حلېږي.

همدا ډول ميرويس نيکه په خپل قوم کې د خلکو د يووالي په خاطر ډېر جدي او مهم کارونه کړيدي او د ملي مشر په توګه يې د خپلې مشرۍ په لنډه موده کې خپل هېواد ته نه هېريدونکي او د ستاينې وړ خدمتونه کړي دي چې د ده دغه خدمتونه د تاريخ په پاڼو کې په زرينو کرښو ليکل شوي او نوم به يې تل ژوندى او روښانه وي.

## ماخذونه:


۱- هاشمي، سيد محى الدين. د افغاني جرګو عنعنوي او تاريخي اهميت، صبا اخبار، ۳ مه ګڼه. ۲- پورته اثر ۳ مه ګڼه.

۳- عطايي، محمد ابراهيم. د جرګو وطن، د قومونو او قبايلو چارو وزارت ۱۳۶۱ لمريز کال، ۳۸۲ مخ. ۴- شريف، سايره، په افغانستان کې د جرګو بهير. ګوربت مجله، ۲۰۰۱. ۲۰۰۲ع کالونه، ۲۲ مخ. ۵- د جرګو وطن، ۳۸۲ مخ.

۶- لويه جرګه، ۲۰ مخ. ۷- محمد هوتک، پټه خزانه، دوهم چاپ، ۱۳۳۹ هـ کال ۱۴۶ مخ. ۸- پورته اثر، ۱۴۲ مخ. ۹- غبار غلام محمد، افغانستان د تاريخ په بهير کې. ژباړن، اورنګزيب ارشاد، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۲ لمريز کال ۴۰۸ مخ. ۰- بېنوا، عبدالروف، ميرويس نيکه، سريزه او لمنليکونه محمد معصوم هوتک، دوهم چاپ، ۱۳۸۴ ل کال، ۹۲ مخ. ۱۱- لويه جرګه، ۲۴ مخ.

۱۲- افغانستان د تاريخ په بهير کې، ۴۰۹ مخ.

۱۳- پورته اثر، ۲۴ مخ.

۱۴- ميرويس نيکه، ۱۰۷- ۱۰۸ مخونه.

# په پښتو ګړنیو ادبیاتو کې د لنډیو ونډه او اهمیت

اکاډمېسین دکتور سید محی الدین هاشمي

د مخه تر دې چې په پښتو ګړني ( اولسي فولکلوري) ادب کې د لنډیو پر ونډه او دربېځ بحث وکړو لومړی به فولکلور معنا او مفهوم دروپېژنو په پښتني فولکلور کې به د فولکلوري یا ولسي ادب په څرنګوالي او د دغه شفاهي ادبیاتو په منظومه برخه کې د لنډیوپه شکلي جوړښت ، معنوي او ادبي ارزښتونو او بیا به په ټوله کې د ټول ولسي ادب په ارزښتمنه پانګه کې د لنډیو ونډه او ادبي پوړ په ګوته کړو.

## د فولکلور پېژندنه:

فولکلور د انګلیسي ژبې کلمه ده چې لغوي معنا یې فرهنګونو: د خلکو ادبیات، ولسي پوهه او زده کړه راخیستې او په اصطلاح کې د کلتور او فرهنګ هغه څانګه یا برخه ده، چې د انساني مشخصو ډلو عنعنې، دودونه ، نکلونه او انساني ارزښتونه، انګیرنې، شګومونه ، ګروهې (عقیدې) او داسې نور پکې شامل دي. (۱)

په ټولیزه توګه د فولکلور یا ولسي پوهنې لمنه ډېره پراخه ده او په معنوي لحاظ پکې د ولس دودونه ، عنعنات ، ادبیات ، پوهه ، ګروهه، تجربې او د ټولو کړو وړو پراخ ټولیز( مجموعي) مفهوم نغښتی دی. فولکلور د منځپانګې له نظره درې برخې لري: (۱) شفاهي فولکلور ، (۲) غیر شفاهي فولکلور ، (۳) نیم شفاهي فولکلور، په ګړني( شفاهي) فولکلورکې : محاورې ، متلونه، سندرې ، چستانونه ، ټوکې ، ټکالې (فکاهیات) او نور شامل دي، په غیر شفاهي فولکلور کې سیمه ییز هنرونه، ،سیمه ییزخواړه او نور راځي او په نیم شفاهي فولکلورکې عقیدې، کرکې، کږنې ، سیمه ییزې لوبې او نور راځي (۳).

ځینې فولکلور څېړونکي هغه په دوو لویو برخو بیلوي: معنوي فولکلور او مادي فولکلور.

په معنوي برخه کې ادبیات، پوهنې او د خلکو دودونه او رواجونه راځي، چې دا هر یو بېلې بېلې څانګې او وړې یا لویې برخې لري او د فولکلور په مادي برخه کې د ژوند ټول مادي توکي او د هغو په باب ګروهې شاملې دي ، لکه د ودانیو او کورونو جوړولو په باب عقاید ، انځورګری او حکاکي ، د کور سامان، کالي او ګاڼې ، د جګړې، ښکار او کرکیلې ( کرنې) وسایل، د خلکو بېلا بېل کسبونه او صنعتونه ، د محلي خوړو ډولونه او نور هنرونه.(۴)

فولکلور څېړونکو د فلکلور له پاره پنځه عامې ځانګړنې ښودلې دي: (۱) په شفاهي بڼه موجود وي(۲) په عنعنوي او دودیزه توګه موجود و (۳) منظومه یا منثوره بڼه ولري (۴) جوړوونکی یا رامنځته کوونکی یې معلوم نه وي، د ټول ولس ګډ مال ګڼل کېږي (۵) د کلتور او فرهنګ د یوې برخې په توګه د هر ولس او توکم په کلتور کې شته. تر دې ځایه مو په عام ډول فولکلور لنډ دروپېژاند، اوس دا اړتیا رامخې ته کېږي چې فولکلوري یا ولسي ادبیات هم لنډ دروپېژنو او بیا د همدې فولکلور او فولکلوري ادبیاتو د پېژندنې په رڼا کې د خپلې څېړنې اصلي موضوع سپړنې ته ورشو.

## فولکلوري یا ولسي ادبیات:

پېژندنه: هغه ادبیات چې د عوامو یا ولسي وګړو له خوا پنځېدلي یا رامنځته شوي دي، ولسي یا فولکلوري ادبیات بلل کېږي.(۲)

دغه ادبیات په واقعیت کې د ولس د هنري استعداد ځرګندوی او د هغوی د ټولنیز ژوند هنداره وي . د یوې ټولنې د ادبیاتو دغه برخه د ولسونو د نورو ایجاداتو په څېر د اړتیاوو له مخې رامنځته ، د خلکو له ژوند سره اوږه په اوږه روان وي او د هغوی د ژوند خواږه ترخه ، پوهې ، تجربې او ټولې ښې بدې په خپله پراخه لمن کې رانغاړي او خوندي کوي یې.

دغه ادبیات معمولا شفاهي بڼه لري او د هغو ټولنو په ولسونو کې زیات او پیاوړي وي، چې د لیک او (سواد) خپرېدنه په کې ډېره نه وي عامه شوې او وګړي یې له دغه نعمت نه بې برخې وي.

زموږ ټولنه او ولس هم د ځینو ځانګړو سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي ، فرهنګي ، تاریخي او جغرافیایي عواملو له امله د دغسې ټولنو او ولسونو په لیکه او کتار کې راځي، نو ځکه پکې د لیکلو ادبیاتو په پرتله د ولسي (فولکلوري) ادبیاتو پانګه ډېره درنه او شتمنه ده.

د ولسي ادبیاتو د ارزښت او اهمیت د پېژندنې له پاره به تر هر څه لومړی دا بس وي چې ووایو: ادبیات د هر ولس ټولنې او ملت په ادبي تاریخ کې ډېره ستره او ارزښتمنه ونډه لري او ورته له پاملرنې او مطالعې پرته د هغوی ادبي تاریخ نیمګړی ګڼل کېږي.

د فولکلوري ادبیاتو د پېژندنې له پاره ځینې ځانګړنې دا دي چې(۱) د موضوع په لحاظ د ولسي او کلیوالي ژوند ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري اړیکو ځرګندوی دي.(۲) منظوم ولسي ادبیات د عربي عروضو او وزنونو تابع نه دي خپل ځانګړي ملي ولسي وزنونه لري(۳) . د ادبیاتو ژبه یې ساده او د عامو خلکو له محاورې سره برابره ده (۴) ډېره مبالغه او له حقیقت څخه لرې خبرې او تصنع پکې نه لیدل کېږي(۵) د نورو ژبو اغېزه پکې لږه ده. (۲) د پښتنو بهیر او د ژوند څېرې پکې کټ مټ انعکاس مومي او(۷) ښکلا ، اسانتیا او ربښتیا یې تر ټولو ستره ده.

په عام ډول د پښتو د ولسي ادبیاتوویش اوډلبندي داسې ده چې لومړی په منظوم اومنثوربېلیږي . د پښتو منظوم ادبیات چې د پښتون ولس یعنې د هنري استعداد او ادبي ذوق ډېره ښکلې او ارزښتناکه معنوي پانګه او د ټولنیز ولسي ژوند هنداره ده په دوو لویو ځانګو جلا کېږي : (۱) عامې ولسي سندرې یا شعرونه (۲) خاصې ولسي سندرې یا شعرونه. خاص ولسي شعرونه یا منظوم ادبیات هغه دي چې شاعر او ویناوال یې معلوم او د شعر په مقطع کې خپل نوم یا تخلص راوړي، لکه: غزل (بدله) ، چاربیته ، رباعي (مقام) ، لوبه ، بګټۍ او عامې ولسي سندرې چې معلوم ویناوال یا شاعر نه لري د ټول ولس ګډ مال ګڼل کېږي، لکه د میندو سندرې ، ماشومانو سندرې ، اړونه او نور.

### په منظوم ولسي ادب کې د لنډیو ونډه او اهمیت

لنډۍ د پښتو منظوم ولسي ادب یو ځانګړی مشهور او تر ټولو مقبول ادبي ژانر دی ، چې د منظوم ، فولکلوري ادب په وېش او ډلبندۍ کې په عامو ولسي سندرو پورې، چې د مخه موپه ډېر لنډون سره دروپېژندلې ، اړه لري ، دلته په دې لیکنه کې په عام ډول په پښتو

فولکلوري ادبياتو کې د هغوپه ونډه او اهميت بحث کوو، د بحث د پيلامې په توګه د لنډيو په بڼې يا شکلي او فني جوړښت ځغلنده رڼا اچوو او بيايې په ولسي ادب کې ونډه او برخه جوتوو.

لنډۍ ، چې ځينې پښتانه يې « ټپه » ، ځينې يې « مسرۍ» او ځينې يې « ټکۍ» بولي ، د پښتو د عامو ولسي سندرو يو بډايه او خوږه برخه ده. د منظوم ولسي ادب دغه ژانر ، چې شاعريې معلوم نه وي او د ټول ولس ګډ مال ګڼل کېږي، ځانګړی جوړښت او د ويلو له پاره مخصوص وزن او اهنګ لري.

لنډۍ دوه مسرۍ لري ، چې لومړۍ يې لنډه ، (۹) سيلابه او دويمه يې د لومړۍ په پرتله اوږده ، (۱۳) سيلابه وي.

په منځپانګه کې يې هر ډول مضامين لري. د عشق او مينې دردناک رموز، د پښتني ماحول ناخوالې او په ټولنه کې شته تضادونه او ... ټول په هغې کې پيدا کولی شو.

ددې ولسي ادبي ژانر لوی کمال دا دی چې په بشپړ ايجاد او اعجاز سره پکې يو بشپړ عالي مطلب ځائيږي. ژبه يې سوچه او خوږه ده . د پښتنو د ټولنيز ژوند هر اړخ پکې انځور شوی دی ، نو له همدې امله يې د پښتنو د کلتوري ژوند هينداره بللی شو.(۹)

د پښتو ادب تاريخ ليکوال د لنډيو د ماهيت او په ولسي ادب کې د هغې د اهميت او ونډې په اړه وايي:

« د پښتو هره لنډۍ د غرض ټکی دی او په هره يوه کې بېل بېل مطلب پروت دی. لنډۍ د پښتو د ملي نظم يوه غوره او لويه حصه ده، چې د پښتنو د اصلي افکارو نماينده ګي کوي. (۱۰)

عبدالحليم اثر افغاني په خپل اثر« پښتو ادب» کې د لنډۍ ماهيت او اهميت داسې راپېژني:

« د لنډۍ د ادبي خوا غټ ښه والی او لوی ښکلی والی دا دی ، چې د روغ پښتون قوم ميراث دی. قاعده ده چې هر شعر کوم شاعر ته منسوب وي، ليکن لنډۍ يو داسې قسم شعر دی، چې ددې نسبت روغ پښتون قوم ته کېدای شي . لنډۍ د هر پښتون د احساساتو آئينه ده، يو داسې مظرب او شهباز دی چې د پښتون قوم د زړه د رباب تارونه په يو شان غږولی شي او دا فرق نه لري که زيرغږېدل وي او که د بم په پردو کې وي او دا يوه داسې خوبي ده چې د نړۍ د هېڅ ژبې په هېڅ نوعه او قسم شعر کې نه شي موندی.» (۱۱)

د لنډيو د اهميت او ماهيت په باب د ليکوال په پورتني نظر کې چې وايي لنډۍ د ټول پښتون ولس په روحياتو ، احساساتو او جذباتو يو ډول اغېز ښندي او د دوی د زړونو د رباب تارونه يو شان ترنګوي لنډۍ د پښتو د منظوم ولسي ادب يو ډېر او که وواېو تر ټولو اغېزناک ادبي ژانر په توګه زباتوي او دا خبره يې د نړۍ د ټولو ژبو په دوديزو ادبي ژانرونو کې د لنډۍ بې ساريتوب جوتوي، چې له همدې څخه يې مور ته په پښتو منظوم ولسي ادب کې د ونډې (څومره والي او څرنګوالي کچه ښه راڅرګندېدای شي. په دې لړ کې د«ټپه اوژوند» اثرليکوال دا خبرې هم د اورېدو دي چې وايي :

« مسره ،لنډۍ، ټپه، يا ټکۍ د پښتوژبې د ولسي آدب هغه دلعزيز، مقبول ،عام اوپه هرلحاظ ناياوته صنف دی چې د فکرونظر،عشق اورومان، ياس اوحرمان،سوز سازاو درنګ اواهنګ بې شمېره مرغلرې پکې د سجر اوبهير

په یوه لړۍ پیل شوي دي.(۱۲)
اکاډمیسین سلیمان لایق په پښتو اولسي ادب کې د لنډیو ونډې او اهمیت په باب داسې څرګندونې لري:
د پښتو فولکلوري شعرونو په لړ کې د لنډیو برخه واقعا د ټول بشریت د فولکلوري شعرونو د عظیمې شتمنۍ یوه مهمه برخه ده. د لنډیو یو ستر اهمیت دا دی چې د هغه سندریز خصوصیت او اهنګ روزنکي فطرت د نړۍ په ټولو فولکلوري شعرونو او سندرو کې ممتاز دی او ساری نه لري... لنډیو د انسان د احساساتو، عواطفو ، دردونو ، رنځونو او انګېرنو ډېره عالي او دقیقه درجه بندي کړې ده. زموږ د جغرافیایي سیمې په ټول فولکلوري قلمرو کې هېڅ سندره نه د خپل اهنګ خصوصیت او نه د خپلې تغزلي شتمنۍ او نه د خپل سموالي او هیجان له پلوه له لنډیو سره برابري کولای شي.
د زرینې څانګې لیکوال د لنډیو اهمیت او په ولسي ادب کې د هغې د ونډې او کچې څرنګوالي او څومره والي په باب ډېرې په زړه پورې څرګندونې لري.
«لنډۍ زرګونه کلونه عمر لري او په لکونو لکونو شمېر خو موږ ته یې له دې کبله چې سینه په سینه انتقالېږي لرغونې نمونې لږ رارسېدلي او هم له لکونو لنډیو څخه یوازې د زرګونو په خانو کې یې راټولې شوي دي، نورې لکه د بید یاني ګلانو غونډې په خپل سر غوړېږي او بیا بېرته په هماغه لویو دښتو کې رژېږي او له منځه ځي.»

## د بحث لنډیز او پایله:

که د فولکلور ، فولکلوري یا ولسي ادبیاتو او په دغه ادبیاتو کې د پښتو لنډۍ د ونډې او اهمیت په باب د بحث خوره وره لمنه راونغاړو ، نو د پایلې په توګه ویلی شو چې:
د فولکلور لغوي معنا د خلکو ادبیات، ولسي پوهه او زده کړه او په اصطلاح کې د کلتور یا فرهنګ هغه څانګه ده چې د انساني مشخصو ډلو عنعنې ، دودونه ، نکلونه، بشري او انساني ارزښتونه، انګېرنې، شګومونه، اعتقادات او داسې نور پکې شامل وي. عامیانه یا ولسي ( فولکلور) د هر ملت او ولس په ادبي تاریخ کې ډېره مهمه او ارزښتمنه ونډه لري او د هغو له یادونې پرته د یوې ژبې د ادبیاتو د تاریخ مطالعه نیمګړې ښکاري.
د غه اد بیات معمولا شفاهي بڼه لري او په هغو ټولنو او ولسونو کې زیات پیاوړي وي چې د لیک لوست خپرېدنه پکې ډېره نه وي عامه شوې . زموږ ټولنه او هېواد چې د ځانګړو سیاسي ، ټولنیز، اقتصادي ، فرهنګي او جغرافیوي عواملو له امله د نالوستو ټولنو او ولسونو په کتار کې راځي، نو ځکه پکې د لیکلو ادبیاتو په پرتله د ولسي ادبیاتو پانګه ډېره درنه او شتمنه ده . پښتنانه د افغاني ټولنې د یوې سترې برخې په توګه د ولسي ادبیاتو ډېره شتمنه او بډایه پانګه لري.
د یو ادبي ژانر په توګه ولسي ادبیات لومړی په نظم او نثر او بیا په بېلابېلو څانګو ویشل شوی، چې لنډۍ د یو ادبي ژانر په توګه د منظوم ولسي او په یوه لویه څانګه عامو ولسي سندرو یا هغو سندرو کې راځي چې شاعر یې معلوم نه وي او د ټول ولس ګډ مال ګڼل کېږي.
لنډۍ په ټوله کې د ولسي ادب یو ډېره ستره برخه ده، چې د پښتو ولسي ادب لا څه چې د نړۍ د هېڅ ژبې بل ادبي ژانر ورسره د بلاغت او جامعیت له مخې د سیالۍ وزر نه شي وهلی. لنډۍ په پښتو ولسي سندرو کې یو مخصوص جوړښت او ځانګړې لار لري، دوه مسرې لري

چې لومړۍ یې نهه او دویمه یې دیارلس سیلابه وي، خو په دې لنډۍ شعر کې په پوره ایجاز او اعجاز سره یو بشپړ مطلب ځاییږي. د لنډیو ژبه ډېره سوچه او خوږه ده، د پښتنې ټولنې او ژوند هر اړخ پکې انځور شوی دی، چې په لنډه وینا یې د پښتنو د ټولنیز کلتوري ژوند هنداره بللی شو. همدغه فصاحت، بلاغت، د موضوعاتو او د شمېر زیاتوالی یې پښتو ولسي ادب کې ونډه او اهمیت جوتوي.

وړاندیز کېږي چې: که څه هم تر اوسه د لنډیو خورې ورې ټولګې په افغانستان او پښتونخوا کې چاپ شوي چې پکې د لنډیو شمېر تر پنځوسو زرو نه رسېږي، حال دا چې د ولسي ادب دغه ارزښتناکه مرغلرې د لکونو په شمېر د وګړو په سینو کې خورې ورې پرتې دي. باید د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د فولکلور څانګه د ځانګړو روزنیزو پروژو په بڼه هغه راټولې له نورو چاپ شوو ټولګو سره یې پرتله او هغه دې ټولې پر ځانګړو ټوکونو کې چاپ او خپرې کړي. تر څو د ولسي ادب دغه ارزښتناکه پانګه له هېرېدلو او ورکېدلو وژغورل شي.

دلته د خپلې لیکنې د حسن اختتام په توګه د لنډیو د څو بیلګو په راوړلو خپلې لیکنې او څېړنې ته د پای ټکی ږدم.

ځــــــــان د وطن جنګ کې شهید کړه
زه به شین شال ســـــتا په زیارت وغوړومه
که د وطـــــن په ننـــګ شـــــهید شـــوې
په تار د زلفـــــو به کـــفن درته ګـــنډمه
وطـــــــن مـــــې تن، تن مـــــــې وطـن دی
د تن په ویـــــنو یې ساتم ترڅــــو چې یمه

## اخځلیکونه

۱. هاشمي ، سید محی الدین هاشمي، ادبپوهنه ، دویم چاپ ،میهن خپرندویه ټولنه : پېښور ، ۱۳۴۹ لمریز کال
۲. روهي ،محمد صدیق ، فولکلور پېژندنه ، دویم چاپ ، ګودر خپرندویه ټولنه: ننګرهار ، ۱۳۹۴ لمریز کال.
۳. ادبپوهنه، ۲۱۳ مخ
۴. فولکلور پېژندنه ، ۲۱ مخ
۵. زغم ، احمد شاه، فولکلور او فلکلوري ادبیات، ملي تحریک ، کابل ، ۱۳۹۴ لمریز کال ۳۱ مخ.
۶. فولکلور او فلکلوري ادبیات، ۳۲مخ
۷. هېواد مل زلمی ، ولسي سندرې ، لومړی ټوک ، علومو اکاډمي ، د ژبو او ادبیاتو مرکز ۱۳۶۰ لمریز کال.
۸. رفیع ، حبیب الله زرینې ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ ، د ژبو او ادبیاتو مرکز : پښتوټولنه ۱۳۶۰ لمریز کال، ۲۷ مخ.
۹. حبیبي، عبدالحي د زیري کلنۍ، د افغانستان د علومو اکاډمۍ ، ۱۳۶۰ لمریز کال ، ۴مخ.
۱۰. رښتین، صدیق الله د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه ، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۲۹ – ۳۰ مخونه.
۱۱. اثر ، افغاني قاضي عبدالحلیم ، پښتو ادب پېښور ، ۱۳۷۰ هجري قمري ، ۱ – ۲ مخونه.
۱۲. طاهر، محمد نواز ټپه او ژوند ، دوېم چاپ ، حکومت خیبرپښتونخوا، پېښور، ۱۹۷۹ م کال.
۱۳. لایق، سلیمان ، پښتو لنډۍ ( سریزه) ، د علومو اکاډمۍ ، د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو ټولنه، ۱۳۶۴ لمریز کال. یو – دوه مخونه.
۱۴. زرینې ځانګې، ۱۸ مخ.

# پرتلنه

سیدنظیم سیدي

د ژبپوهانو په وینا ژبه د افهام او تفهیم یا پوهولو را پوهېدلو / نه پوهولو وسیله ده. دقیقاً له پوهېدلو څخه مو موخه د ادراکي ځواک شتون دی چې تر ډېره له سیمانتیک یا معنا پوهنې پورې اړه لري چې هم د کلمې اصلي او موخنه معنا بیانوي او هم یوه موضوع یا مطلب داسې درک کوي چې خپله یې په کې نظریات پیدا کولای شي او ډېر ځله د هغې سپړنه او وضاحت هم په خپله ژبه کوي او خپل نظریات او لیدلوري په کې څرګندوي، خو که د پوهولو وسیله وایې، نو معنا به یې دا وي چې موږ یو ماشوم ته ووایو چې ته له دوکانه مستې راوړه، خو په دې شرط چې ژر لاړ شې او ژر راشې، بیړه وکړې، له چا سره په کوڅه کې ونه درېږې، ګوره چې ځنډ نه شې او داسې نور، نو دغه سر په سر تاکید او قید د دې لامل کېږي چې زموږ هغه کار ترسره شي یا زموږ خبره انتقال شي، چې تر ډېره د پوهولو مسأله همداسې ده، خو که پوهېدل وایو، نو په هغې کې بیا ماشوم خپله دخیل کېږي، موضوع درک کوي او د وخت په باریکۍ پوهېږي، نو په داسې حالاتو کې بیا زموږ ټینګار او سر په سر د شرایطو وضع کولو ورته اړین نه وي، نو ادبپوهان ډېر ځله د یوې ادبي لیکنې په درک کې د داسې موارد و پرتله ښه او غوره لار ګڼي.

د دوی په وینا د پرتلنې په وسیله کولای شو یو مطلب ښه روښانه او څرګند کړو او هغه داسې چې د هر مطلب او ښکارندې جاج د پرتلنې په وسیله ټاکل کېږي، موږ د پرتلنې په وسیله د اوړي او ژمي، شپې او ورځې ارزښت معلومولای شو او هویت یې څرګندو، په پرتلنه کې نږدېکتونه او توپیرونه، معلومات او درجې ډلبندي کېږي او دا جوتېږي، چې د کومو توپیرونو یا غوروالي له مخې یوه ښکارنده یا پوهه تر بلې هغې اوچته او په جګې درجې کې راځي.

پرتله معمولاً د دوو امرونو ترمنځ پېښېږي دا ځکه چې ادب څېړونکي وکولای شي دواړه په یوه ګډه او یا واحده ټولګه کې سره راونغاړي، لکه دوه ښارونه، دوه توکمه، دوه شاعران یا ناظمان، دوې نظریې، دوه شخصیتونه او داسې نور؛ یعنې د ریاضي د فارمولې له مخې هر ښکارنده بویه له خپلې ښکارندې سره جمع شي، څوکۍ له څوکۍ سره او قلم له قلم سره، هېڅکله څوکۍ له انسان او قلم له کتاب سره جمع کېدلای نه شي، دغه اصل د ادبي مطلب په پوهاوي او پرتلې کې هم مرستندوی دی او لوستونکی په اسانه قانع کولای شي.

د دې لپاره چې دغه موضوع ښه روښانه شوې وي لاندې بېلګې ته به لږه ځیرنه وکړو چې په هغې کې نورمحمد تره کي د دوو کسانو د ژوند د چارو پرتله داسې کړې، چې هم یې پخوانی او هم یې اوسنی ژوند ورته مخ کې ایښی دی: «بنګ دوې میاشتې په همدغه ځای کې تېرې کړلې خورا رغدی شوی دی. له لسو پنځلسو شپو را ایسته له یوه میرزا څخه سبق هم لولي. دی خورا ځیرك دی او سبق یې ښه زده

کېږي او هم یې بیا په خپله خوښه زده کوي.
کوم وخت چې د ماشین له پاکولو څخه بې غمه شي؛ نو سمدلاسه بې له دې چې وخت په غزل ویلو او خوشې خبرو تېر کړي په خپل کتاب بوخت وي. خلیفه خورا ځینې راضي دی او تل نګران ته وایي، چې د دې هلك تنخوا دې ور ډېره کړله شي او هم ځکه چې د ښه استعداد څښتن دی، د سبق ویلو موقع ورکړله شي.
بنګ اوس د دې پر ځای چې لرې کلیو ته لاړ شي، له نورو څو تنو شاګردانو سره یې په یو سرای کې کوټه نیولې ده، چې د میاشتې پنځه افغانۍ ده ته د هغې د کرایې له درکه ورځي.
د ده ژوند تر پخوا ډېر مرتب شوی دی، عزم یې خورا ټینګ شوی دی.
دی په خپله ځان بدل شوی غونډې احساسوي او هم یې روحیات خورا لوړ شوي دي.
ده په دې تقریباً دوو میاشتو کار کې د یوې ورځې تنخوا بایلوله. له دې کبله چې د یوې ورځې تنخوا یې ناحقه له لاسه ایستلې ده، دوران د همدردۍ د ښکاره کولو لپاره ده ته یو سست غونډې منت هم وکړ او ورته یې وویل، چې مور او تاسې خو غریب خلك یو باید له خپلې کمبلې سره پښې وغځوو. ته باید هېڅ وخت غیر حاضر نه شې او تل خپل کار ته درومې.
د ښار ژوند خو پیچلی غونډې دی ډېر احتیاط په کار دی، په تېره بیا ستا غونډې زلمیان خو باید په ډېر احتیاط قدم کېږدي که نه وي هر څه چې دې ګټلې وي ټول به په یوه پلا درڅخه لاړ شي.» (۱)
په پورته څرګندونو کې وینو چې د ښاري او کلیوالي ژوند توپیرونه، د کار او بې کارۍ پرتلنه، د شعور او بې شعورۍ نښې، د احساس او بې احساسۍ پوهاوی او بالاخره داسې په لسګونو نور ښاري او کلیوالي توپیرونو او پرتلنو باندې خبرې شوي، چې سړی یې له ورایه معلوماولای شي، چې کومه یوه یې ښه او کومه یوه نا سمه ده او کومه لاره بویه تعقیب شي.
کله کله داسې هم پېښېږي چې له پرتلنې څخه زموږ موخه د مشترکو وجوهاتو او همغږیو تشخیصول وي، چې داسې حالات اکثر هغه مهال پېښېږي، چې څېړونکی وغواړي مجرده جاجونه محسوس او ملموس کړي؛ نو په داسې حالاتو کې څېړونکی په خپله حکم کولای شي چې پرتلنه د تمثیل بڼه خپلوي.
اوس نو که همدغه څرګندونې په دقیقه معنا په پام کې ونیسو او د ستر صوفي شاعر عبدالرحمن بابا کلام ته د زړه درېځې پرانیزو؛ نو په خپله راته څرګندېږي چې عبدالرحمن بابا په رښتینې معنا تمثیلي شاعري کړې، یعنې داسې تمثیلي چې ډېرې ښېګڼې او بد ګڼې یې د قرآن او احادیثو په رڼا کې سره پرتله کړي، چې ځیرك لوستونکی یې پر لوستلو اره معنا ترې اخیستلای شي او پوهېږي چې رحمن بابا څه ویل غواړي.
ډېر ځله له پرتلنې څخه د یوې ښکارندې او یا هم کار د رڼې څرګندتیا جاج اخیستل کېږي، په دې

معنا که چېرې کوم مسلمان، مومن او داسې سړی، چې له اسلامي احکامو څخه سرغړاوی او حرامو کارونو ته لاس اوږدېدل ورته کفر محض ښکاري، له یو داسې انسان سره کښېني، چې فاجر، فاسد وي؛ نو ښکاره خبره ده چې د دغو دواړو ناسته او جوړښت ناشونی کار دی او هېڅکله به چمتو نه شي، چې یو بل وزغمي اویا یو د بل په خوله پیاز قدرې وخوري؛ نو څکه وایو چې ډېر ځله پرتلنه د ځینو جاجونو څرګندول نور هم روښانوي.

ادب څېړونکي وایي د پرتلنې یوه بله ښېګڼه دا هم ده چې یو مطلب را اخلي او د بل مطلب په څنګ کې یې ږدي او تا ته قضاوت موقع درکوي، چې په خپله د ارونو په پام کې نیولو سره دواړه پدیدې داسې پرتله کړې، چې ډېر ځله د نقد معنا وښندي، یعنې هم یې ښېګڼې ځان او نورو ته جوتې کړې او هم یې نیمګړې خواوې. اوس نو که له پرتلنې څخه زموږ موخه پر ګډو اړخونو او بدلونونو وي، بیا نو په کار ده چې دواړه خواوې سره نورې هم نږدې او خوا په خوا شي او که چېرې له پرتلنې څخه موخه پر همغږې والي او تجانس خواوو ټینګار وي؛ نو بیا لږه خپلوي او یا خوا په خوا کې ایښودل هم د دغه کار لپاره بسنده دي. د ساري په ډول که چېرې موږ غواړو د اوسني پېر سترګور او اور ژبی شاعر استاد صدیق پسرلی له کوم بل شاعر سره پرتله کړو، لومړی باید په دې ځان پوه کړو چې استاد پسرلی د کوم شاعر، کوم سبك او یا هم کوم مکتب پیرو دی او کله مو، چې دا خبره جوته کړه؛ نو بیا یې باید بدیل په هماغه مکتب او یا له یاد مکتب سره د پرتلنې په مکتب کې پیدا کاندو، ځکه د پرتلنې پر مهال اړینه ده چې د یو شاعر له ژوند څخه نیولې ان تر شعري ځانګړنو پورې په ټولو خبرو ځان پوه کړو. داسې نه شي چې غر را واخلو د ایرو له څلي سره یې پرتله کړو او بیا هم د ایرو څلی ترې اوچت وښیو؛ ځکه په دې کار سره د شاعر د هنر ارزښت نه کمېږي، بلکې موږ د خپل قضاوت سترګی او فلسفه په اغزنو لارو سر کړې او ښایي نور په ټولنه کې د منښتې ځای هم ونه لرو.

لنډه دا چې پرتلنه د یوې موخې او اعتبار لپاره کارول کېږي، لکه په لاندې بېلګه کې: دا رښتیاینه یوه داسې مرغلره ده، لکه په غمي کې چې بنده وي او غمی هم د سیند په تل کې وي او په دې هم سره پوهېږو، چې پوهې ته تر ساحل خورا زیاته لار نه شته، رسېدل ورته شونې خبره ده؛ خو که... «سوانح» (۲)

اوس که پورته متن ته ځیر شو، په ډاګه ترې څرګندېږي چې د سیند تل ته ننوتل هم د څېړنې روح ته د ننوتلو په څېر دي؛ ځکه څېړنه هم د حق له کلمې څخه اخیستل شوې او څېړونکي ته بویه چې روح ته یې د ننوتلو لپاره ښې فرضیې او میتود پیدا او غوره کړي چې په رڼا کې یې دا هر څه ترسره شي؛ نو همداسې مرغلره هم ده چې په ظاهره څرګنده ده؛ خو په باطن کې په یو غمي کې داسې نښتې، چې برسېرول یې د زړګر کار دی.

د دې خبرې بله معنا دا هم کېدلای شي چې د علم زده

کېږه اسانه چاره نه ده؛ بلکې فلاسفه او ادب څېړونکي وايي چې د علم پايله د مينې ساحل دی، که چېرې په ساحل کې اوسې نو څه به ترلاسه کړې او که چېرې يې منځ ته ور ګام کړې؛ نو ډوب به شې.

يعنې دا سمه ده چې علم ته رسېدل خورا اسانه خبره ده او لار يې هم معلومه ده؛ خو که تر هرڅومره افلاطون د زمانې شې بيا يې هم په څنډه کې يې او د پوهې له ساحل څخه به دې يوازې يو څاڅکی پوهه را اخيستې وي؛ څکه ټول عمر زده کول عمرونه او ذهنونه غواړي، چې زموږ په څېر کمزوري انسانان يې نشي پيدا کولای او پاتې شوه د مينې خبره، هغه هم په ژوره توګه په کې دخيله ده، مينه ده چې له انسان نه عالم جوړوي او مينه ده، چې انسان بې لارۍ ته سوق کوي، په دې معنا که چېرې د چا له پوهې او علم سره بې سارې مينه پيدا شوه؛ نو هغه بيا شپه و ورځ خواري کوي او زحمت کاږي، چې څه زده کاندي؛ خو هغه کسان چې مينه نه لري او يا يې مينه له ماديات سره وي، ښکاره خبره ده چې د معنويات له پانګې څخه به بې برخې او بې نصيبه وي.

نو که خبره مو رانغاړلې وي سره له دې چې پرتلنه د ادبياتو يو مطلب نه يقيني کوي؛ خو معاني څرګندوي او جاجونه يې محسوسه او ملموسه کوي او همدا لامل دی، چې د مطالبو په پوهېدلو او ساده کېدلو کې ذهنونه خورا ګورت بدلوي او دې ته يې چمتو کوي، چې تري ډېرې اخيستنې د مالکيت په توګه وشي او يا يې د مالکيت په توګه نورو ته وړاندې کړي.

مأخذونه:


۱. تره کی، نورمحمد. د بنګ مسافري، څلورم چاپ: کوټه، پښتو ادبي غورځنګ، ۲۰۰۹ لمريز کال، ۸۵ او ۸۲ مخونه.

۲. ګيلانی، احمدسميعي. نګارش ويرايش، شپږم چاپ، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي: تهران، ۱۳۸۳ لمريز کال، ۱۱۳ مخ.


پير محمد کاروان

غزل

لمونځ د شکرانې کوه يار دا دنيا هم ښکلې ده
دلته له آدم سره حوا بي بي راغلې ده
کيف د جنتونو يې په لپو کې راوړی وو
دا ماشومه څمکه يې په مينه پرې مينځلې ده
دلته د مريم او د عيسی زلفو خوشبو خوره
دې دنيا خوره د محمد موسکا لېدلې ده
دا رنګونه ټول په زړه کې و نغاړه مين اوسه
هره شېبه ستا معشوقه تاته موسېدلې ده
بيا يو ځل ماشوم شه د مورکۍ الاهو واوره
دا نغمه چې اورې په جنت کې غږېدلې ده
دا ماشومان ګورې د جنت د بڼ طوطيان به وي
څمکه يې چغار لره په کټ کټ خندېدلې ده
ستا پر سوي زړه چې پاغوندې غوندې نغمه راغله
نوشِ جان کاروانه څه خوره را ورېدلې ده

# د کېږدۍ تاریخي اهمیت

سرمحقق دکتور محمد شریف ځدران

له وژغنو جوړې شوې خیمې ته کېږدۍ ویل کېږي. لرغونی تاریخ لري او لا تراوسه هم افغان کوچیان ګټه ترې اخلي او د هغوی لپاره د کلا او کور حیثیت لري باید ووایم چې نه یوازې افغانانو، بلکې د دنیا ټولو ملتونو د کېږدۍ د استعمال دورې تېرې کړې دي او لا تراوسه په نړۍ او افغانستان کې کېږدۍ او خیمې استعمال لري. زموږ په فرهنګ کې د کېږدۍ او خیمې ترمنځ توپیر شته او هغه دا دی چې کېږدۍ له تورو او سپینو وژغنو څخه جوړېږي او د جوړښت په لحاظ هم له خیمې سره توپیر لري، خیمې په معمولي توګه له ټوکرانو او پلاستیک څخه جوړېږي.(۱)



په کېږدۍ کې د کورنۍ غړي یو ځای اوسېږي او زموږ په هېواد کې زیاتره د کوچیانو له خوا استعمالیږي. مشهورې کېږدۍ د هلمند ولایت په ( تاګرش ) کې جوړېږي او سیا بند د کوچیانو بازارونو ته عرضه کېږي، څرنګه چې کېږدۍ لرغونې مخینه لري، نو ځکه د پښتو په متلونو او لنډیو کې د هغې انځور وړاندې شوی دی. (۲)

الفنستن د درانیو د کېږدیو په باب لیکي، چې د عامو خلکو کېږدۍ له شلو نه تر پنځه ویشتو فوټو پورې اوږدې، لس یا دولس فوټه پلنې او اته یا نهه فوټه لوړې وي. دغه کېږدۍ د تیرونو او لرګیو په یو لړ باندې چې په عمومي ډول درې دانې وي، تکیه لري او د عامو کېږدیو په شان په داسې ډول درول کېږي، چې د ټوټې هغه ښکتنۍ برخه چې بام ورځنې جوړوي د زمکې نه ثلور یا پنځه فوټه جګه وي. کېږدۍ د اوښانو له وړیو نه د جوړو شویو تورو زیږو ټوټو څخه جوړې شوې وي. د کېږدۍ مزي چې لامده شي، پړسیږي اوله هغه څخه دغسې ترکیب جوړ شي چې اجزایې په طبیعي ډول سره نژدې شي او باران په کې نفوذ نه شي کولی.

د خانانو او د نسبتاً شتمنو کسانو کېږدۍ د عوامو تر کېږدیو نه ښې وي. د دوي کېږدۍ دومره لویې وي چې ډېر کسان په کې د جرګې لپاره غونډېدلی شي او دومره لوړې وي چې اوښ په کې ننوتلی شي.

ډېر درانیان خپلو کېږدیو ته د لمڅي استر ورکوي او دغه استر په ژمي کې کېږدۍ د اوسیدلو لپاره ګرمې او ډېرې مستریحې ګرځوي. د ټولو پووندوو کېږدۍ په ټغرونو او لیمڅیو باندې فرش شوي وي. د عوامو خلکو کېږدۍ په یوې پردې سره ویشل کېږي. یوه برخه یې د نارینه و او بله برخه یې د ښځو لپاره وي او حتی ډېر غریب درانیان د خپلو پسونو لپاره لږ تر لږه یوه جلا کېږدۍ لري. د یوې معمولي کېږدۍ بیه نږدې دوه تومانه یا ثلور سترلینګ پونډه ده.(۳)

هغه درانیان چې پر یوه ځای دایمي سکونت نه لري، نو هغوي په کېږدیو کې ګوزاره کوي. د هغو خلکو نه پرته چې د هلمند سیند په بره خوا کې اوسېږي، نور ټول

مالداران په کېږدیو کې ژوند کوي او د لیږدیدو پر مهال د دوی کېږدۍ او کمپونه د لیدلو وړ دي، هغه ډله چې سل کېږدۍ ولري، نو هغه لوی کمپ ګڼل کیږي. لویو کمپونو ته خېل ویل کیږي، د دوي سردار د سرخېل په نامه یادیږي، خو کوچنۍ ډلې ته کلی وایي او په هغه ځای کې چې دوی دېره کیږي، د دوي د ملک او مشر کېږدۍ د نورو کېږدیو په منځ کې ودروي.

همدارنګه د کېږدیو د کمپ او کلیو په لویدیځه برخه کې یو ځای او یا کېږدۍ د جومات په شکل جوړوي او کله چې ملا آذان وکړي، د کېږدیو ټول نارینه د لمانځه د ادا کولو په موخه ټاکلې کېږدۍ ته تشریف وړي او په جمع لمونځ کوي او په دې ډول د کېږدیو کلي او کمپونه ټول ملایان او امامان لري او دیني فریضه پر ځای کوي. (۴)

په پښتنو غلجیو کې هم له ډېرې پخوانۍ زمانې راهیسې د کېږدۍ استعمال رواج لري. هغه علجي کوچیان چې مالداران دي په دوبي کې د افغانستان شمال ختیځو، شمال، شمال لویدیځو او مرکزي ولایتونو ته د خپلو مالونو د څر په خاطر لېږدي او بیا په ژمي کې تر سند، پنجاب او کشمیره پورې اوږده سفرونه کوي. په اوارو میدانونو خپلې کېږدۍ ودروي او د کېږدیو ودرول د ښځو له دندو څخه شمېرل کیږي. (۵)

افغانان چې د تاریخ په اوږدو کې زیات مېلمه پال دي ، نو ځکه یې د کېږدیو په کمپونو او کلیو کې یې هم د مېلمنو لپاره یوه جلا کېږدۍ ودروله، څو مېلمانو ته په هغه کېږدۍ کې ډوډۍ ورکړي او د شپې په کې پرېوزي او استراحت وکړي. (۲)

بابر شاه د **۱۵۰۷** م. کال په بهیر کې د کتواز له دښتې ورتېر شو او ګوري چې پنځه – شپږ میله لرې غلجي کوچیان په خپلو کېږدیو کې دېره دي، هماغه و چې خپل لښکر ته یې د هغوي د ځپلو لارښوونه وکړه او په نتیجه کې د غلجیو په وینو کېږدۍ ورنګول شوې او یو لک میږې او پسونه یې ورڅخه په غنیمت یووړل.(۷)

له پورته څېړنې څخه دې نتیجې ته رسیږو، چې د افغانستان مختلفو قومونو د کوچیتوب دوره تېره کړې ده او تر هغه چې کوچیان وو، کېږدۍ د دوی د کور، جومات او د حجرې حیثیت درلود او یا په بله اصطلاح یو ګرځنده کور و، چې خپل ټولنیز ژوند یې په هغه کې تېراوه. په اوسني عصر کې هم کېږدۍ د استعمال وړ ده او د کېږدۍ تر څنګ ډېرې نوې او مډرنې کېږدۍ او خیمې په افغانستان او نړۍ کې رواج شوې، د بېلګې په توګه د افغانستان د لویې جرګې خیمه ښه مثال راوړی شو. کېږدۍ د تاریخ په اوږدو کې د کورنۍ، خپلونو، قومونو او ملتونو د ګډ ژوند او فعالیت مرکز و او نن هم دغه رسالت په لوړه او عصري کچه ترسره کوي، بې له شکه کېږدۍ لرغونی تاریخ لري او د خپل تاریخي اهمیت له مخې د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې غوره ځای لري. د بېلګې په توګه د پښتو په یوه متل کې داسې ویل کیږي : ( کېږدۍ پر خپلو مراندو ولاړه ده.) (۸) دا متل د یو چا د نفس د اتکا په مورد کې ویل کیږي. هر انسان باید پر ځان او خپل نفس باندې تکیه وکړي، نه دا چې پر نورو تکیه وکړي او تجربو ښودلې ده، چې پر نورو تکیه کول ښې پایلې نه لري.

دغه راز کېږدۍ په پښتو لنډیو کې هم انځور شوې ده او لکه چې وایي :

کـــېږدۍ تـــــه مـــــــه ژاړه زړګــــــیه
کــوچیان مرغان د ایلبندو سبا به ځینه

ما د اسمان سپینه ســــــپوږمۍ کړې
چـــې د جانان پر کېږدۍ تل ولاړه یمه

ســــــپینې کوټې دې ګنډوالې شـــــې
زمـــــا یادیږي د کېږدۍ ښه شمالونه . (۹)

آواز مـــــــې شـــــــته جوړه مې نشته
لکـــــــه کــــېږدۍ د پښتنو ولاړه یمه

ځـــــــوک محلونو کــــې اوسیــــــږي
څوک له ناکامه په کېږدۍ کې ژوند کوینه

له کـــــــېږدۍ ستـــــــرګې راښــکاره کړه
ستـــــــا مخ لیدو ته له ګومل راغلې یمه

باران وریـــــــــږي کــــېږدۍ څـــاڅــــــي
آشــــــنا پردي ملک کــې بامونه جوړوینه

ګلـــــــې ورځــــــه په مــــــــخ دې ښه شه
په کــــــېږدۍ نښه دروه چې بیا درځمه (۲)

## ماخذونه:


۱. محمد ابراهیم عطایي، د پښتنې قبیلو اصطلاحي قاموس، دویم چاپ، د سرحدونو چارو وزارت، کابل، ۱۳۹۴، ۲۰۴مخ.

۲- مونټ ستوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، د محمد حسن کاکړ ژباړه، د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه ، کابل، ۱۳۲۱ ، ۱۰۰-۱۰۱ مخونه.

۳- محمد شریف ځدران، د شپاړسمې میلادي پېړۍ په پیل کې دپښتنو د سیاسي، اقتصادي او کلتور حالت څېړن (۱۵۰۱- ۱۵۳۰م.) دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۹ مخ.

۴- محمد حیات خان، حیات افغاني، لومړی – دویم ټوک، د فرهاد ظریفی او طالبي ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ ، ۴۲۴مخ.

۵. مونت ستوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان ، دویم ټوک، د محمد حسن کاکړ ژباړه ، د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۲۱ ، ۱۰۱مخ.

۲. ظهیرالدین محمد بابر، بابر نامه، تاشکند، ۱۹۵۸ ، ۲۳۲- ۲۵۰مخونه.

۷- پښتو- پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، ک توری.

۸- پښتو ټولنه، لنډۍ، کابل، ۱۳۵۸ ، ۱۳۲۳ ، ۹ ، ۳۲ ، ۱۱۳ مخونه.

۹- پښتو ټولنه ، پښتني سندرې، لومړی او دویمه برخه ، کابل، دولتي مطبعه ، ۱۳۳۴-۱۳۳۵ .

# درووند ولس او درانه دودونه

عزت الله مینه ناک

کله چې د ټولنيز ژوند او اړيکو خبره کېږي، نو زموږ ټولنه له دې اړخه په لومړۍ ليکه کې راځي.دا په ومنو، چې زموږ د غم، ښادۍ او د ژوند د نورو چارو پرمخ بېول،خوراک ،پوښاک به مويو څه توپيرسره ولري، خو دا ټول زموږله ګډواومشترکو دوديزو تعاملاتو رنګ اخلي او له همدې ښکلې او ښايسته جغرافيې، د همدغه درانه ولس ګډ ه شتمني اود همدغې مېړني ولس له مزاج سره سمون او پيوستون لري. سمه ده ډېرې لږې داسې دوديزې نيمګرتياوې به هم لرو، چې هغه به ټولنې ته د ګټې پرځاى زيان اړوي، خو داسې هم نه ده چې د اصلاح او سمون چاره نه لري. لکه په کوچنيوالي کې د نجونو ودول يا په بدو کې ورکول او دا ډول نورې نيمګرتياوې، خوپر وړاندې يې بيا جرګه ، مرکه ، ننواتې او ددې لپاره ځانګړي اصول هم هغه څه دي، چې موږ په رسمي او نا رسمي سطحه له هغې څخه په ګټې اخيستنې شخړې حلوو، په کورا و کلي کې د چارو د سمون لپاره سره جرګه کېږو، پريکړې صادرو، دا داسې پريکړې وي ، چې عملي اړخ يې ډېر پياوړى وي. او په خپله د اړوندو سيموله حالاتو او تعاملاتو سره برابرهغه وضع شوي اصول دي چې مقابل لورى دې ته اړکوي، چې هغې ته غاړه کېږدي. او دا هغه لرغونى دود دى چې د سبها او سميتي جرګو څخه رانيولې بيا تر دې مهاله زموږ د هېواد له حاکمو حالاتو سره سم ښې پايلې درلودلې، موږيې له تيت او پرک حالت څخه بيرته سره راټول کړي يو او هغه منځته راغلي واټنونه يې بېرته لنډ کړي دي . قوانين يې تصويب کړي دي، شاهان او واکمنان يې را ټاکلي دي، له هېواد څخه يې دفاع او ساتنې په برخه کې ټول افغانان په يوه ليکه کې درولي دي او ...لکه د ميرويس خان نيکه او احمدشاه بابا د وخت جرګې، دلته مطلب له هغوجرګوڅخه نه دی کوم چې په هغو کې په رښتينې توګه د خلکو آزاده اوغوښتنې نه وي تمثيل شوي او د واک خاوندانوله خوا د شخصي غرضونوپه موخه جوړې شوې وي. چې له امله يې د جرګو ارزښت او مقام ته زيان رسېدلی.

دغه راز اشر يا ډله ييز کار، چې موږ يو له بل سره مرستې او همکارۍ ته را بولي . څومره غوره دود دی. يو خو موږ سره نږدې کوي او بل دا چې د څو ورځو کار په يوه ورځ کې ترسره کېږي. په دې سره مو هم هغه د دوستۍ اړخ پياوړی کېږي او ګڼ شمېربدبېنۍ موله زړونو کډه کوي، چې ټولنيز ژوند ته يو ښېل خوند او رنګ ورکوي. په ګډه يو کار ترسره کول، په ګډه په يوه دسترخوان د خوړونوش جان کول دا يو لوړاوعالي فرهنګ دی. همدا ډول زموږ د غم او ښادۍ مراسم په څومره درنو مراسمو ترسره کېږي يو د بل ترڅنګ کلک ولاړ يو، کليوال په غم کې دا هڅه کوي، چې ښه خواږه برابر کړي د غمځپلې کورنۍ د ميلمنو قدروکړي، دهغوی عزت داري اوعذريې کړي او هغه د غم بار يې سپک ياکم کړي چې له هغوی سره د غم د فشار په کمولواودغه رازد دوستۍ په ثابتولو کې چې بايد دهرافغان ځانګړنه واوسي.يوغوره عمل دی. ښادي مو هم په همدې ډول همداسې حجره، دېره ، چې د ميلمنو د عزت دارۍ او ميلمه پالنې لپاره په کټونو او وسايلو سمبال وي . زموږ ترمنځ د اړيکو په پياوړتيا کې هم رول لري، بې شمېره نور دغسې درانه دودونه. خبره دا ده ، چې بايد موږ همدغه دودونه ، له لباس . خوړو او نورو ارزښتونو نيولې تردغوپخو اړيکو پورې چې موږ يې له يوبل سره خپل کړي يو وساتواووېې پالو . دا زموږ هويت دی او په دې

دودونو د نړۍ نور خلک موږ پېژني، چې د افغانستان خلک دي او هغوی دې ته اړ باسي چې زموږ په اړه د نورو معلوماتو د پیدا کولو په لټه او هڅه کې شي. د خپل دود هېرول د ځان هېرول اود خپل هویت ورکول دي.

خپل دودونه باید ویاړ وګڼو په دې وروستیو کې د کډوالیو اوجګړودغه رازد ځینولـه خوا د فرهنګي یرغل په پایله کې زموږ دغو درنو دودونو ته یو څه زیان رسېدلی ، چې دا تشه باید ډکه کړو . ځینې داسې فکر کوي، چې موږ ددې دودونو په ساتلو او پاللو سره ځان د نړۍ سیال کولی نه شو، خوناخبره له دې چې په دې برخه کې لږه بې پروایي هم زموږ هویت ته زیان رسوي، نو د خپلو اصیلودودونو او فرهنګ د رواجولو لپاره ډېرې هڅې کول په کار دي. باید له خپل فرهنګ سره پاتې شواود هغې د ودې لپاره هڅې وکړو.

د ډېرو هېوادونو د کتابونو، فلمونو او ډرامو منځپانګه په یوه بڼه نه،یوه بڼه د هغوی په خپلو دودونو را څرخي. که د فلم سناریو هر خواته غځوي، خو بیایې هم ډېرې برخې له خپلو دودونو سره مناسبې روانې وي.

که خبره د سیال کېدو وي پوهه ، علم ،د وخت په ټکنالوژي او نویووسایلولاسرسی چې اوسمهال زموږ اکثر هېوادوال دا وړتیا لري، د هېواد د پرمختګ او هوسایني لپاره صادقانه کارکول، له خپلو پراخه طبیعي شتمنیو څخه پرځای او منا سبه ګټه اخیستنه، سالم او پرځای رقابتونو ، د نورو له تجربو څخه د هېواد په ګټه کار اخیستنه او نور په دې سره کولای شو خپل هېواد له نورو هېوادونو سره سیال کړو،خو د خپل دود ، دستور اوفرهنګ په هېرولو هیڅکله نه ، ځکه هغه خوند، مزه او دروندوالی چې زموږ په دود کې شته دی په بل هېڅ دود کې نه شته. هغوی چې فردي ژوند ته لومړیتوب او غوره والی ورکوي دا باید له یاده و نباسي چې زموږ د ژوندانه اړتیاوې، دلته په دغه انساني ګډ او ټولنیز نظام کې پوره کېږي، نه په فردي ژوند کې، له الله جل جلاله ډېر شکر چې موږ یې د سپیڅلي دین اسلام چې یو ټولنیز دین دی پیروان ګرځولي یواوموږ مسلمانانو ته یې د ټولنیز ژوند په بېلابېلوبرخو کې برخلیک ټاکوونکي اوغوره سپارښتنې اولارښونې کړې دي.

ستا د سترخوان ، بنډار، یو ځای او سېدل او کښېناستل، انډیوالي ګانې،خپلویانې میلمه پالنه ، په ټوله کې د ښه اومنلي سلوک اور فتار سره اړیکې پالل اصلاًهمدغه ژوند دی، کار به هم کوو، ورځنۍ چارې به هم د زړه له اخلاصه پرمخ وړو ، خپل مسؤلیتونه به هم نه هیروو. او خپل غوره دودونه به هم ساتواوپالو.اود ځان ورکولو پرځای به د ځان د پیدا کولوهڅه کوو.

د پردیو ناوړه دودونو او فرهنګونو رواجول کولای شي زموږ اصیل او منلی فرهنګ اودغه راز زموږ هویت په کلکه وننګوي. نوپکار ده چې پخپله شړۍ ، خمتا، غیرت ، میلمه پالنې، مشرانوته په درناوي، پرکشرانومهرباني کولو،لاسنیوي، پخپل کلي اود کلي په غوره دودونوویاړو او هغه ناوړه دودونه چې زموږپه زیان وي له سره په دود ونه منواوخپل ګډ اوټولنیز ژوند ته یود بل ترڅنګ دوام ورکړوخوپه درناوي، اخلاص ، ښواو غوره اخلاقواولورینې. په درونډ خوی ، عادت ، ناستې ولاړې سړی درنیږي او د خلکو په وړاندې د باور اواعتماد وړګرځي ، ناوړه حرکات اوسکنات بیا شخصیت ته زیان رسوي . نوزموږدودونه رښتیاهم درانه اوښکلي دي او له خاص انساني اوټولنیز رنګ اودرنښت څخه ډک دي.په دې پورې د پردیو نامناسبو دودونو تړل اصلاً د منلو نه دي اوورته زیان رسوي.

# د سیرت له دریڅې



حضرت ابو عبیدة بن الجراح رضي الله عنه جسما ډنګر، وره او نرمه ږیره یې وه او په قد جګ او د سینې پر خوا راکوږ وو، د مخې غاښونه یې وتلي وو، د ښو اخلاقو، حلیم مزاج او تواضع خاوند وو.

غاښونه یې څنګه ووتل؟

راځئ په اړه یې هغه کیسه ولولو چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه روایت کړې:

سیدنا ابو بکر الصدیق رضي الله عنه فرمایي: کله چې د احد غزا په ورځ مشرکینو رسول الله صلی الله علیه وسلم زخمي کړ او د خول د ځنځیرونو دوې کړۍ یې په مبارک باړخو کې ننوتلې، په بیړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته ورګړندی شوم که ګورم د ختیځ له لوري یو کس لکه رالوتی چې وي ډېر چټک د رسول الله صلی الله علیه وسلم لوري ته راورسید، دا کس ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه وو چې تر ما مخکې ورسید او د الله په خاطر یې رانه وغوښتل چې اجازه ورکړم؛ تر څو دغه کړۍ یې له مخ مبارک څخه وباسي، ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمایي ما اجازه ورکړه؛ ابو عبیده د مخ په ثنایاو غاښونو کړۍ ونیوه او په ښورولو ښورولو یې وکښله او پر ځمکه ولویده چې د ابو عبیده رضي الله تعالي عنه د مخې یو غاښ هم ورسره پر ځمکه پریوت.

بیا بله کړۍ په غاښونو ونیوه او راویې ایسته او له دې سره یې دوهم غاښ هم راولوید، په دې سره د حضرت ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه غاښونه کنډو شول چې دغه د غاښونو تر منځ فاصله او کنډو تر ټولو ښکلی او ښه کنډو وو.

رضي الله عنهم.

J

IRGA MAGAZINE

OCTOBER- DECEMBER 2022





د رياست الوزراء له خوا د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې ټاکل شوي پلاوي پامير ته د خوراکي او غير خوراکي توکو ژمنۍ مرستې ورسولې.

